


# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

دریمټوک

د لنډیو په باب معلومات، تبصرې، شنني او راټولنه:

آصف بهاند

۲۰۲۵ ام کال اکتوبرمیاشت

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: لنډۍ، د ثبتولوستونزه، دريمټوک

د لنډيو په باب معلومات، تبصرې، شننې او راټولنه: آصف بهاند

د خپريدو نېټه: د ۲۰۲۵ ام کال اکتوبرمياشت

د خپريدو ځاى: افغان جرمن آنلاين پورتال

# د مطالبو فهرست:

۱ ــ د پیل څوخبرې، ۴ ام مخ

۲ ــ د لنډیو په باب معلومات، تبصرې او شننې ۵ ام مخ

۳ ــ د نوو راټولو کړو لنډیو متن، ۱۲۲ ام مخ

۴ ــ د لیکوال پیـژندنه ۳۲۶ ام مخ

# د پيل ځوخبرې

له ډېروبوختـتياو او کارونو سره ـ سره مې د لنډيو په باب ليکل او د لنډيو راټولو کار نه دی پرې‌ايښی. دا دی د خپلو همدې فرهنګي هڅو يوه بله غوره بېلګه (لنډۍ، د ثبتولوستونزه، دریمټوک) د فلکلور مينه‌والو ته وړاندې کوم.

د لنډيو د راټولو په لړ کې مې، د لنډيو پنځمه ټولګه، د لنډيو په باب له خپلو راټولو کړومعلوماتو ـ تبصرو او شننو سره د دوه زره شاوخوا نويو لنډيو په ملتيا د انلاين کولو له پاره چمتو کړې ده.

بيا خبره په تکرار سره وايم چې ما تر وسه پورې هڅه کړې ده چې نوې لنډۍ راخوندي کړم، که کومه يوه بياځلي راوړل شوې وي دا خپله نيمګړتيا ګڼم او د يو بنه بياځلي تکرار نوم ورکوم.

د لنډيو په دې ټوک کې هم لومړی د لنډيو په باب زما راټول کړی معلومات، تبصرې او شننې راوړل شوي دي او بيا د نويو راټولو شوو لنډيو متن وړاندې کېږي.

د دې خبرې يادول اړين ګڼم چې په دې ټوک کې د «د لنډيو اصلي منابع خلک دي» ترسرليک لاندې ما هغه منابع، پتې او اشخاص معرفي کړي دي چې له ماسره يې د نويولنډيو په خوندي کولو کې مرسته کړې ده.

آصف بهاند

د ۲۰۲۵ ام عيسوي کال د اکتوبر شپږمه

هېدرسليف، ډنمارک

# د لنډيو په باب معلومات، تبصرې او شننې

## (د لنډيو په باب د محمدګل خان نوري په زړه‌پورې بحث)

## او د ده د «لنډۍ» له رسالې نه يو څو منتخبې لنډۍ






د دې مقالې د بحث وړ موضوع د «لنډۍ» په نامه يوه رساله ده چې د لنډيو په باب د محمدګل خان نوري د يوې مقالې پر اساس برابره شوې ده. د دې رسالې «ورد» کاپي ما ته دانشمند دوست فضل الرحمن فاضل د خپل فرهنګي خلوص له مخې راولېږله. دلته يې اړينه ګڼم چې د ښاغلي فاضل له دې فرهنګي او علمي لورينې نه مننه وکړم.

کله چې ښاغلي فاضل په قاهره کې د افغانستان سفیر و، د خپلې فرهنګي مینې له مخې یې ګڼشمېر کتابونه چاپ او خپاره کړل چې یو په کې د افغانستان د مشهور فولکلوریست محمدګل خان نوري «لنډۍ» نومې رساله وه.

کله چې ما یاده رساله له نظره تېره کړه، له ښاغلي فاضل سره مې ژمنه وکړه چې د لنډیو د تېرو بحثونو او د لنډیو د ټولګو د معرفي په سلسله کې به د ښاغلي محمدګل خان نوري پر دې رساله هم په لنډ ډول غږېږم، خو مخکې له دې د لنډیو د هغو ټولګو او مأخذونو یادونه کوم چې پخوا ما معرفي کړې وې:

ما چې کله په اروپا کې د نویو لنډیو د راټولولو کار پیل کړ، د لنډیو په باب د نورو بحثونو په څنګ کې مې د لنډیو د چاپ شوو ټولګو د پیدا کولو او درنو لوستونکو ته یې د ورپېژندلو اړتیا حس کړه. ډېر وخت مې څېړنه وکړه او د لنډیو یو شمېر ټولګې مې پیدا او معرفي کړې. ما د خپلو څېړنو په لړ کې هغه وخت د لنډیو اوه لس (۱۷) ټولګې یا هغه کتابونه معرفي کړي وو چې د نورو ادبي ـ تخلیقي موضوعاتو تر څنګه یې پر لنډیو هم بحث کړی و او یو شمېر لنډۍ یې هم خوندي کړې وې. هغه بحث ته ما «د لنډیو چاپ شوې ټولګې» سرلیک ټاکلی و، هلته ما د موضوع د روښانتیا په پار د لنډیو اوه لس (۱۷) ټولګې او مأخذونه په نښه کړي وو، په دې ډول:

«له کومو مآخذونو نه چې لنډۍ را اخیستل کېږي، د اوسنیو لاس لرلو موادو له مخې چې زموږ په واک کې دي، هغه مجموعې دي چې په سم یا نا سم ډول، چاپ شوې دي، چې ځینې یې د علمي ـ رسمي مرکزونو له خوا او ځینې یې بیا په مستقل ډول خپرې شوې دي.

د لنډیو هغه مجموعې چې تر نن پورې ما لیدلې او یا اورېدلې دي، هغه دا دي:

۱ــ پښتني سندرې:

د لنډيو دا ټولګه د پښتو ټولنې له خوا، په ۱۳۳۴ لمريز کال، د محمد دين ژواک په اهتمام خپره شوې ده. دا مجموعه ما په کابل کې ليدلې او لوستلې ده، خو اوس يې په واک کې نه لرم.

۲ــ پښتولنډۍ:

(د استاد عبدالروف بينوا په زيار، لومړی چاپ:۱۳۳۷ ل، دويم چاپ:۱۳۸۷ ل کال.)

د دې مجموعې لومړی چاپ له رنګه انځورونو (نقاشي) سره د لنډيو دري او انګليسي ژباړه هم درلوده. په دويم چاپ کې له دري او انګليسي ژباړې سره اردو ژباړه هم ورزياته شوې ده. د لنډيو دا ټولګه ما په کابل کې ليدلې او لوستلې وه او اوس يې دويم چاپ (۱۳۸۷) په واک کې لرم.

(پښتو لنډۍ، د استادعبدالروف بينوا په زيار، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۷کال)

۳ــ پښتولنډۍ:

د لنډيو دا ټولګه د افغانستان د علوموااکاډيمۍ د شفاهي ادب او فولکلور ديپارټمنت ګډه پروژه ده او د افغانستان د علوموااکاډيمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز له خوا په ۱۳۶۴ل کال چاپ شوې ده. د لنډيو دا ټولګه تر ټولو هغو ټولګو ډيرې لنډۍ او د لنډيو په باب ځيرنه سره رانغاړي چې تر اوسه ما ليدلي دي. په دې ټولګه کې راټولې شوې لنډۍ ځلور سوه ځلور نوي مخونو کې خوندي شوي دي او ورسره ګټورې مقدمې او ځيرنې هم راغلي دي. اوس يې زه په واک کې لرم.

(پښتولنډۍ، د افغانستان د علومو اکاډيمي، پښتوټولنه، ۱۳۶۳ کال)

### ۴ــ روهي سندرې، لومړی ټوک:

د لنډلو دا ټولګه د سلما شاهین په همت په ۱۹۸۴م کال تدوین او د پیښور یونیورستي د پښتواکادیمۍ له لوري خپره شوې ده.

### ۵ ــ روهي سندرې، دویم ټوک:

د لنډلو دا ټولګه هم د سلما شاهین په همت په ۱۹۹۴م کال تدوین او د پیښور یونیورستي د پښتواکادیمۍ له لوري خپره شوې ده.
(کابل(مجله)، دافغانستان د علوموااکاډیمۍ خپرونه،۱۳۸۶کال، ۸-۷ ګڼې،۶مخ)
دا دوې وروستۍ مجموعې مې نه لیدلي، نه مې لوستلي او نه يې په اختیارکې لرم.

### ۶ ــ ګل ټپې، په دریو ټوکونو کې:

د لنډلو دا ټولګې ګل محمد نومي راټولې کړې دي او د کوټې د اکاډیمۍ له لوري خپرې شوې دي.

(کابل(مجله)، دافغانستان د علوموااکاډیمۍ خپرونه،۱۳۸۶کال، ۸-۷ ګڼې،۱ ــ ۳ مخونه)

### ۷ــ سپوږمیه کړنګ وهه راخیژه:

ډانمارکي محقق ینس اِنه فولدسین (Jens Enevoldsen) د پښتو لنډیو او متلونو یو جونګ،له انګلیسي ژباړې سره خپورکړ. په دغې ټولګې کې یوه مقدمه، سل لنډۍ، سل متلونه، شپږ انځورونه او په پای کې د نومونو یو فهرست راوړل شوی دی. دا ټولګه مې په بل ځای کې له نظره نه وه تیره شوې، کله مې چې د۲۰۱۲کال په اوږدوکې په ډنمارک کې د لومړي ځل له پاره ولیدله، نو مې ژر فوتوکاپي کړه او

اوس مې په واک کې ده. دغه ټولګه دوه ځلې چاپ شوې ده. لومړی ځل په ۱۹۶۹م کال او دويم ځل په ۲۰۰۰ م کال. دواړه ځلې په پېښورکې چاپ شوې ده.

(ينس اِنه فولدسن، سپوږميه کړنګ وهه راخيژه، پيښور، ۲۰۰۰ م کال.)

۸ ــ ننني لنډۍ (د ناکراره کلونو ټپې) ټولونکی محمدا جان غلجی:

د لنډيو دا ټولګه د ښاغلي محمداجان غلجي په زيار ټوله شوې او چاپ شوې ده. د دې ټولګې په سريزه کې ښاغلی غلجي د دې ټولګې د مآخذونو په باب ويلي دي چې:

ده په ډېرې امانتدارئ سره خپلې راټولې کړې لنډۍ د لنډيو دوو لويو مجموعو(پښتولنډۍ د افغانستان دعلوموااکاډيمی د۱۳۶۴ کال چاپ، او روهي سندرې (ټپې) لومړی، دويم ټوک) سره له مقايسې او چاڼ وروسته، په خپله ټولګه (ننی لنډۍ) کې يې يوازې هغه لنډۍ خوندي کړې دي چې په يادوو ټولګو کې نه دي راغلي.

(غلجی محمداجان (ټولونکی)، ننني لنډۍ (د ناکراره کلونو ټپې)،۲۰۰۲م کال، د مقدمې ز مخ)

**له ما نه پا تې شوې وطنه**
**که چنارونه دې لونګ شي څه بې کړمه**

**د هريپور کمپه اور واخلې**
**نه درکې ونه، نه مې سيوری وليدنه**

۹ــ ويښې جذبې، روغ توپانونه (د جهادي لنډيو ټولګه)،

لومړی ټوک، ټولونکی:عوض الدين صديقي:

(صديقي عوض الدين، ويښي جذبې روغ توپانونه (د جهادي لنډيوټولګه)١ټوک،١٣٧٠)

١٠ـ د لنډيو يوه ټولګه او په دوو کتابونو کې پر لنډيو بحث:

په دې برخه کې پر دريو کتابونو لنډ بحث کوم چې يو کتاب يې د لنډيو ټولګه ده او دوه نور کتابونه داسې دي چې اصل موضوع يې بل څه ده، خو په لنډيو باندې يې هم څنګځنی (ضمني) بحث کړی دی.
هغه درې کتابونه دا دي:

ـ د مينې ټپې (د لنډيو ټولګه)، د صادق الله ټولونه،

ـ د پښتو شعر هندسي جوړښت، د اسماعيل يوه اثر،

ـ ادبي هڅې، د پښتون آقا شيرزاد اثر،

١١ـ د مينې ټپې(د لنډيو ټولګه):

١٢ـ د پښتو شعر هندسي جوړښت:

په دې کتاب کې هم پر لنډيو او د لنډيو پر جوښته خبرې شوې دي او بېلګې هم په کې راوړل شوي دي

١٣ ـ ادبي هڅې،پښتون آقا شيرزاد:

١۴ـ پښتو لنډۍ، مصرۍ، ټپې (د لنډيو نوې ټولګه):

١۵ـ پښتنې سندرې (د لنډيو په باب بحث او د لنډيو ټولګه):

١۶ـ «پښتو سندرې» د استاد ګل پاچا الفت:

١٧ـ د «لنډۍ ها» ټولګه او پوهاند رحيم الهام»

او اوس د محمد ګل خان نوري د «لنډۍ» نومې رسالې په باب:

د دې رسالې تومنه د محمد ګل خان نوري هغه مقاله ده چې د ۱۳۱۹ هـ ل کال په کلنۍ کې چاپ شوې ده. محمد ګل خان نوري خپله دا مقاله وروسته نوره هم غني کړه، د کتاب بڼه يې ورکړه او د «ملي سندرې او لنډۍ» په نامه د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپور شو.

تر بحث لاندې رساله «لنډۍ» دوې برخې لري:

ـ د ښاغلي فاضل سريزه،

ـ د رسالې اصل متن چې د محمد ګل خان نوري مقاله په بشپړه توګه رااخستل شوې ده او ياد رساله ورنه جوړه ده.

ښاغلی فاضل په خپله سريزه کې د لنډيو پر اصالت، جوړښت او تاريخ باندې په لنډ ډول غږېدلی دی او د دې رسالې د چاپ اړتيا يې روښانه کړېده. دی د خپلې سريزې په يوه برخه کې داسې وايي:

«زما په ګمان زمونږ د ګران هيواد دا ډول فولکلوريک بډايه ادبياتو څخه عربی نړۍ، ډير کم معلومات او آشنايی لری ؛ له همدی کبله ۷۵ کاله په خوا د مرحوم "محمد ګل خان نوری" مقالی چی د ۱۳۱۹ هجری لمريز کال « کلنۍ » په کابل کی چاپ شوی ، چی د پښتو د دی ډول لرغونی ادب په هکله روښنايی اچوې ، پريکړه می وکړه چی په قاهره کی د افغانستان سفارت د فرهنګی څانګی د نشراتو په لړۍ کی دغه مقاله د يوی کوچنۍ رسالۍ په ډول چاپ ، او ګرانو محصلينو او زدکوونکو ته يی وړاندی کړم...

او د هغه ويښو ځوانانو څخه چی د خپلو ملی ادبياتو سره مينه لری هيله لرم ، ترڅو دا ډول ادبيات مصری ټولنۍ ، او خپلو ټولګيوالو ته وروپيژنی ، ترڅو دا ډول مهم فولکلوريک ادبيات په زياته کچه وپيژندل شی ، که داسی وشی نو يقينا چی په نږدی راتلونکی کی د دی لنډيو د

انسانی پيغام په پراخه توگه د لا ښيرلو شاهد اوسو. د داسی ورځی په هيله !

**ومن الله التوفيق**

فضل الرحمن فاضل

په مصر کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت سفير

د ۱۳۹۴ لمريز کال د غبرګولی اتمه،

د ۲۰۱۴م د می ۲۹ د شعبان المعظم د مياشت ۱۱ (۱۴۳۶ ق)

(محمدګل خان نوري، لنډۍ، ناشر: د مصر په عربی جمهوريت کی د افغانستان د اسلامی جمهوريت سفارت فرهنګی څانګه، ۱۳۹۴ هـ ل کال، ۹ ـ ۱۰ مخونه)

محمدګل خان نوري د خپلو فرهنګي هلوځلو په لړ کې د لنډيو په باب هم کار کړی دی.ده په تنګسه کې تريخ ژوند تېرکړ، خو خپلې ژبې او فرهنګ ته يې ډېر څه ورکړل. دلته به يې لنډه بيوګرافي هم راواخلم:

## محمد ګل نوري:

په ويکيپيډيا کې د محمدګل خان نوري د ژوند او اثارو په باب اوږد بحث کړی شوی دی، خو زه يې دلته ځينې برخې رااخلم:

«محمد ګل نوري (زوکړه ۱۲۷۹ لېږديز لمريز کال، کندهار – مړينه د ۱۳۵۲ ل ل کال د ليندی ۲۰) د افغانستان يو پښتو ژبی فولکلوريست، ليکوال او شاعر و.

محمد ګل نوري هغه هېره شوې څېره ده، چې موږ يې نه پيژنو، په دې مانا چې په پوره ډول يې نه پيژنو، که يې پيژنو، پر زياتو کارونو او هڅو يې نه يو خبر، ځکه چې زماني، وخت او حالاتو ډېره جفا ورسره

کړې ده؛ حالاتو یې د ژوند پر لار ډېر اغزي راټوکولي او ډېر څه یې ترې اخیستي دي.

محمد گل نوري پر ۱۲۷۹ ل ل کال په کندهار کې زېږېدلی دی. هغه مهال خو دومره د زده کړې امکانات هم هر چاته برابر نه وو، خو اروابناد نوري وکړای شول، چې د سیمه ییزو پوهانو او کورنیو مشرانو په مرسته زده کړه وکړي، د خپل ځانگړي استعداد او وړتیا په برکت یې ډېر څه په ذهن کې پاتې کېدل او هغه د چا خبره ذهین انسان و.

همدغه د استعداد او نبوغ برکت یې و، چې په زیاتو ډگرونو کې وځلېد او ډېر خدمت یې وکړ. د هغه نه هېرېدونکي اثار به زموږ د ادبیاتو ستره او غوښنه برخه وي،

استاد نوري په ۱۳۰۰ ل کال د امان الله خان د پاچهۍ پر مهال د کندهار ښار په شالمار ښوونځي کې د پښتو د ښوونکي په توگه وټاکل شو، چې د هېواد بچیو ته یې پښتو ژبه تدریسوله.

هغه مهال چې په کندهار کې پښتو ادبي انجمن جوړ شو، استاد محمد گل نوري یې لومړنی غړی و. څو کاله وروسته چې د لومړي وزیر سردار محمد هاشم خان په امر دغه انجمن کابل ته ولېږدول شو نو هلته یې نوم په پښتو ټولنې واوښت.

استاد نوري بیا په کابل کې د تالیف او ژباړې په څانگه کې د لغاتو او سیمه ییزو ژبو د څانگې د امر په توگه په دنده وگومارل شو، چې په دې موده کې یې د خپل کار او زیار په برکت ډېر مواد سره راټول کړل، هورې یې د ځینو مخکښو څېړو په مرسته د څېړنې، فولکلور څېړنې او کلتورپوهنې په برخه کې ډېرې ښې تجربې ترلاسه کړې.

کله چې یې مېرمن او زامن مړه شول، دی په خپله خوښه بېرته کندهار ته راغی او د کندهار په دولتي چاپخونه کې د رتبې په ساتنې سره (څلورمه رتبه یې وه)، د مامور په توګه وټاکل شو...

محمد ګل نوري به چې د خپلې دندې له مخې کله کله نورو ولسوالیو، لیریو پرتو سیمو او کلیو ته ورته، نو هورې به یې له خلکو څخه متلونه، سندرې او لغات راټولول، چې په زرګونو متلونه، سندرې، فولکلوري مواد او نوره ولسي پانګه یې راټوله کړه. دغه راز یې له لیریو پرتو سیمو څخه یوولس ټوکه دېوانونه راټول کړل او پر هغه مهال یې په وړیا توګه انجمن ته وړاندې کړل...

خدای بښلي نوري په پښتو فولکلور کې دومره اساسي کارونه کړي، چې پښتو متلونه، پښتو اصطلاحات، محاورې، سندرې، لوبې، نومونې او نکلونه یې ټول په جلا جلا اثارو کې راټول کړي دي. همدغه اثار یې په شوروي اتحاد، المان، انګلستان، هند، فرانسه، جاپان، چین او نورو هېوادونو کې د پوهنیزو او څېړنیزو موسسو تر کار لاندې راغلي او د معتبرو سرچینو په توګه کارول شوي دي.
رحمت الله مړوند د ۱۳۵۱ ل ل کال د کندهار مجلې په پرله پسې ۱۴۳ زمري میاشت د ګڼې په شپږم مخ کې له اروابناد محمد ګل نوري سره یوه مرکه کړې او په دغه مرکه کې زموږ دغه لیکوال د خپل ژوند ټول بهیر په ګوته کړی...

استاد محمد ګل نوري په ۱۳۵۱ ل ل کال، یاني تر خپلې مړینې یو کال وړاندې خپل چاپ او ناچاپ اثار داسې راپېژني:

چاپ شوي آثار:

لیك بنوونکی، دوه ټوکه، لومړی برخه یې د انشاء اصول او دویمه برخه یې د لیك لیږلو په اړه ده، چې په ۱۳۱۷ ل کال چاپ شوی دی.

ملي هنداره، دري ټوکه، دوه ټوکه بېل بېل چاپ شوي، دريم دا يې د کندهار په دولتي چاپخونه کې د احمدشاه بابا د کتاب چاپولو موسسې له خوا چاپ شوی دی.

پښتو اصطلاحات، يو ټوك، چې په ۱۳۲۰ ل کال کې چاپ شوی دی.

ملي سندرې او لنډۍ، يو ټوك.

متلونه، يو ټوك.

دينياتونه، يو ټوك.

مدني اخلاق، دوه ټوکه.

مدني معلومات، دوه ټوکه.

پښتو قاموس (نوراللغات چې ۴۵ زره لغات لري او استاد د خپلې لور (طيبې) په مرسته دا لغات سره ډلبندي کړي او په دوو ټوکو کې چاپ شوي، چې د پښتو ټولنې له خوا بيا چاپ شول.

رحمه اللعالمين، ليکوال يې محمد احمد جادالولي دی، چې استاد له عربي ژبې څخه ژباړلی دی، ۱۳۴۱ ل کال.

ناچاپه آثار:

ملي لوبې، يو ټوك.

پښتو اهنگونه، چې تر شلو زيات اهنگونه لري. استاد يادونه کوي، چې دا اهنگونه ښاغلي فرخ افندي زما په لارښوونه په پيانو ږغولي او وروسته يې نوټېشن ترتيب کړی دی

ملي دودونه، يو ټوك.

خوږ باندار، دري ټوکه، چې حکايتونه او فکاهيات لري.

د خوشال خان ختک حل اللغات، يو ټوك.

د خوشال منتخبات، يو ټوك.

د عبدالقادر خان ختک منتخبات، يو ټوك.

د احمد شاه درانی منتخبات، يو ټوك.

پښتو ياد چې د پښتو ژبې د زده کړې طرز دی، يو ټوك.

د اُحد غزاء، يو ټوك.

ديارلس نکلونه، يو ټوك.

د مينو رساله، يو ټوك، چې يوه برخه يې په کابل مجله کې چاپ شوې ده.

د نوري ديوان.

د شين خاالو نارې، يو ټوك

سنګلېچي قاموس، يو ټوك.

واخي قاموس، يو ټوك.

اشکاشمي قاموس، يو ټوك.

منجي قاموس، يو ټوك.

وروستي پينځه سيندونه (قاموسونه) د بدخشي (د افغانستان د ځينو ګړدودونو (لهجو) قاموس) څخه رااېستل شوي دي.

زوړ کندهار، د کندهار د لرغونو غونډيو او ځايونو پېژندنه ده. دغه اثر جايزه هم ګټلې ده.

ژباړل شوي اثار:

د روغتیا عمومي قوانین، یو ټوك.

د روغتیا ژوندون، یو ټوك.

د صحت ساتنه، چې په طلوع افغان کې هم په پرله پسې ډول خپور شوی دی.

د شین خالۍ ناري.

۷۲ ډیالوګونه او ډرامې.

محمد ابراهیم عطایي د کندهار مجلې د ۱۳۵۲ ل کال د لینډۍ میاشت، پرله پسې ۱۶۴ ګڼه کې د مرحوم محمد ګل نوري له موږ ښخه ګیله من جلا سو، تر سرلیك لاندې د استاد نوري د مړینې نېټه د ۱۳۵۲ لېږدیز لمریز کال د لینډۍ شلمه ښیي، چې پر پنځوس کلنو خدمتونو یې هم رڼا اچولې ده.

د محمدګل نوري ټول اثار ملي او غوره دي، په تېره بیا د ده ملي هنداره خورا مشهور او شهکار اثر دی، ځکه چې دا کار د بل چا د لاسه پوره نه وو. په دې افسانو کې د ادم خان او درخانۍ، فتح خان بړېڅ، مومن خان او شیرینۍ د نوري افسانې د ملي ادب یوه قیمتي پانګه ده...»



د محمدګل خان نوري دا مقاله «لنډۍ» چې د ۱۳۱۹ هـ ل کال په کلنۍ کې خپره شوې ده، د لنډیو په باب د نوري صاحب د څېړنو خاکه ده چې وروسته یې د لنډیو په باب له نورو څېړنو سره مل، د کتاب په بڼه د «ملي سندرې او لنډۍ» په نامه ترتیب او د پښتو ټولنې له خوا چاپ شو.

محمدګل خان نوري د «لنډۍ» په رساله کې د لنډیو په باب روښانه بحث کړی دی او د موضوع د رڼولو له پاره یې دا سرلیکونه ورته ټاکلي دي:

ــ د لنډۍ تعریف او معنی یې،

ــ د لنډیو تاریخ او د دوی منبع،

ــ لنډۍ څنګه زموږ د هیواد نمایندګي کوي،

ــ د لنډیو ادبی او معنوي ویش،

ــ د لنډیو اوزان.

(محمدګل خان نوري، لنډۍ، ناشر: د مصر په عربی جمهوریت کی د افغانستان د اسلامی جمهوریت سفارت فرهنګی څانګه، ۱۳۹۴ هـ ل کال، بپلابپل مخونه)

محمدګل خان نوري د لنډیو د بحث په یوه برخه کې د خپلې لیکنې موخه داسې په نښه کړې ده:

«د پښتنو د پښتو اشعار یا په بل عبارت د پښتنو ملی لنډۍ چه د لطافت او پښتنوالی او ښو مزو او جوش او حرارت څخه ډکی دی ، خود همدغه د افغانستان د سپیڅلی محیط اثر دی چه زموږ هر پښتون یی

شاعر ګرځولی او پر ژبه یی جاری کیږی ، او دوی یی په ډیره مزه او خوند او دجوشه ډک آواز سره وایی.

له همدی لامله د دی ادبیاتو بلکه د پښتنو دعمومو ادبیاتو او د نوری دنیا د ادبیاتو ترمنیځ څه توپیر شته.
دا به پریږدو، اوس به نو خپل مطلب او مراد ته وګرځو چه د لنډۍ تعریف څه شی دی؟

او زمونږ د لنډیو تاریخ کوم دی او د کومه وختهٔ څخه ویلی شوی او اصل منبع او اساس یی له کومه ځایه څخه دی؟ او لنډۍ زمونږ د هیواد څنګه نمایندګی کوی؟ د لنډیو اوزان کوم دی او پر کومو مضمونو ویشلی سوی او څه مضمونو نه لری...»

(محمدګل خان نوري، لنډی، ناشر : د مصر په عربی جمهوریت کی د افغانستان د اسلامی جمهوریت سفارت فرهنګی څانګه، ۱۳۹۴ هـ ل کال، ۱۵ ام مخ)

د یادوني وړ ده چې د استاد نوري ځینې اثار د ادبي غلا په سلسله کې نورو خلکو په خپل نامه چاپ کړي دي.

محمدګل خان نوري خپلو خلکو، وطن او فرهنګ ته د بیسارو کارونو له ترسره کولو باوجود، د خپل ژوند وروستۍ برخه په افلاس او فلاکت کې تېره کړې ده.

د محمدګل خان نوري د «لنډۍ» د رسالې د هر سرلیک په ترځ کې د مثال له پاره، د هغه وخت ډېرې ښې او غوره لنډۍ را اخستل شوې دي

*****

# د لنډیو په باب د سلیمان لایق د نظریاتو لنډیز

## لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

### دوه‌سوه‌شپاړسمه برخه

د لنډیو په باب د سلیمان لایق نظریات په جدي ډول د پاملرنې وړ دی. ما د لنډیو په باب د خپلو څېړنو په ترڅ کې تر خپل توان پورې او تر هغه ځایه چې ما ته په لاس راغلي دي، د لایق نظریات راټول او خپاره کړي دي:

ـ د لنډیو په باب د لایق له خپرو کړو مقالو څخه،

ـ د ده له ځانګړي ویبسایت (سپنتا دات دي اي)،

ـ د لنډیو د هغې ټولګې له مقدمې څخه چې د افغانستان د علومو اکاډیمۍ په ۱۳۶۴ کال د «پښتو لنډۍ» په نامه خپره کړه،

ـ له هغو خبرو نه چې ما خپله مخامخ په ۲۰۱۵ ام کال کې په علومو اکاډیمۍ کې د لنډیو په باب ورسره کړې وي او ګزارش مې یې د یوې مقالې په ترڅ کې خپور کړ.

ما کلون پخوا د لنډیو په باب د خپلو مقالو په ترڅ کې د لنډیو په برخه کې د لایق د ترسره کړو کارونو په باب مفصل بحث کړی دی. زما د یوې مقالې سرلیک «لایق او د لنډیو بحث» دی، د دې مقالې په یوه برخه کې ما د لایق د ترسره کړو کارونو یادونه داسې کړې ده:

د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ په میاشت کې ځينو ویبپاڼو د لايق د ژوند په باب د يو لنډ مستند جوړ شوي فلم خبر او ويديو خپره کړه. دا فلم «د ترانو شاعر» نوميږي چې د مصور بنسټ په مرسته محبوب الله خان چمتو کړې دی. ما دا فلم لومړی په تاند کې وليد، بيا مې په روهي او ورپسې مې په يوتيوب کې تر سترګو شو. زه دلته د لايق په بيوګرافۍ او په فلم کې په نورو راغلو مستندو مسايلو باندې نه غږيږم، یوازې په هغو خبرو باندې تم کيږم چې په فولکلور او لنډيو پورې اړه لري.

د دې ويديو په يوه برخه کې استاد حبيب الله رفيع د سليمان لايق د علمي شخصيت په باب غږيږي او د لايق د هغو کارونو په باب مالومات ورکوي چې لايق د پښتو فولکلور او پښتو لنډيو په باب کړي دي. دا د استاد حبيب الله رفيع د خبرو متن دی:

«ما ډير پخوا، د خلويښت په لسيزه کې د ده(لايق) يوه مقاله لوستې وه، چې د پښتو په ولسي سندرو يې ليکلې وه. هغه ولسي سندرې، چاربيتې چې په کليو کې، په کليوالې ژبه ويلې کيږي او د بيسواده شاعرانو له خوا ويل شوې وې، هغه يې را غونډې کړې وې، زما له پاره ډيره جالبه وه. زه له هماغه وخته ، د فولکلور په برخه کې، د ده له کارونو سره آشنا شوم او علاقه مې ور سره پيدا شوه.

وروسته له هغه، ده(لايق) بيا د پښتو لنډيو په باب ژوره مطالعه وکړه، د هغو په سوابقو، د لنډيو په جوړښت، د لنډيو په سکښت، خوږوالي او بلاخره د لنډيو په متنوع والي، په راز راز والي او د ځينو نورو ژبو له ورته ادبياتو سره د لنډيو پرتله ده.

نو په دې ترتيب، ده د لنډيو له پاره ډير کار کړی او د خپل کار له پاره يې په زرګونو لنډۍ له کتابونو او د خلکو له خولو را غونډې کړي او يو لوی کليکسيون يې د لنډيو جوړ کړی دی.»

د رفيع صاحب له دې خبرو نه دا ثابتيږي چې لايق لا په تانده ځواني کې له پښتو فولکلور  او لنډيو له ټولولو او خوندي کولو سر مينه درلوده او دې کار ته يې بډې وهلې وې. کله چې د رفيع صاحب د مالوماتو له مخې زه د پښتو فولکلور او پښتو لنډيو په باب د لايق د کار له پيل نه خبر شوم خپل هغه مالومات را ته غلط ثابت شو چې ما فکر کاوه چې د پښتو لنډيو په باب به، په «پښتو لنډۍ، ۱۳۶۴ کال» نومې ټولګه کې د لايق په قلم ليکلې مقدمه، د ده لومړنی کار او لومړنۍ ليکنه وي. سره له دې چې ما خپل دا نا سم مالومات چيرې خپور کړی نه دی او يوازې له ما سره موجود و، خو بيا هم زه له خپل دې ناسمې انګيرنې نه همدا اوس ښننه غواړم.

سليمان لايق د لنډيو په باب ډيرې علمي او هر اړخيزې څيړنې کړې دي. د لنډيو په باب به لايق لا په تانده ځوانۍ کې هم څه ليکلي او خپاره کړي وي، خو لومړني علمي او هر اړخيزه ليکنه يې ما د لنډيو په هغې ټولګه کې کې وليدله چې د افغانستان د علومو اکاډيمۍ په ۱۳۶۴ کې خيره کړه. لايق هلته د لنډيو په شکل او محتوا باندې ډيره ژوره او هر اړخيزه ليکنه کړې ده. ټوله شپيته مخه ده چې د يوې رسالې بڼه لري.

په دې ليکنه کې د لنډيو په باب له مقدماتی خبرو نه وروسته اصلي بحث پيل کيږي او لايق په لنډيو پورې اړوند، پر دغو موضوعاتو باندې خبرې کړې دي:

ـ په لنډيو کې د منظرې جوړولو او شکل مننې خصوصيت،
ـ د لنډيو وحدت الوجود،
ـ باد او انسان،
ـ سپوږمۍ او لنډۍ،
ـ لنډۍ د وطن د انسان د غمونو هينداره،
ـ په لنډيو کې د وياړونو د عنعنې هستونې،
ـ د لنډيو د تغزلي مانۍ اساسي مضمون،

ــ په لنډيو کې د تغيير او بدلون پروسه،
ــ لنډۍ د ښځې د تاريخي، اجتماعي موقعيت صادق ويندوی،
ــ په ښځمنو لنډيو کې د اعتراض تاريخي سر چينه،
ــ د لنډيو طبقاتي خصلت،
ــ د فيوډالي دوران په لنډيو کې د ښځې د موقف انعکاس.

د لنډيو په باب د لايق له دې سريزې نه وروسته، د لنډيو په باب د لايق هغه مقالې يادولای شو چې د ده په خپل ويبسايت، سپنتا دات ډي اي (Spinta.de) کې په دري او پښتو ژبه باندې اېښودل شوي دي.

کله مې چې د لنډيو په باب دا خېړنه پيل کړه، پته را ته ولګېده يوه ويبپاڼه (spinta.de) هم شته چې د لايق په باب مالومات او د لايق آثار خپروي؛ هلته مې چې سر ور ښکاره کړ، د لايق او د لايق په باب له مالوماتو سره د لايق آثار او د لايق په باب د ليکل شوو مقالو تر څنګه، د لنډيو په باب په پښتو او دري ژبو باندې د سليمان لايق په قلم ليکل شوي مفصل او هر اړخيزه مالومات هم اېښودل شوی وو.

په پښتو برخه کې يې د لنډيو په باب هغه مقالې را اخستل شوي دي چې د افغانستان د علومو اکيډمۍ په نشراتي ارګان کابل مجلې د ۱۳۸۵، ۱۳۸۶، ۱۳۸۷ په بيلابيلو ګڼو کې چاپ شوې دي. د يادو مقالو سر ليکونه دا دي:

ــ پښتانه په لنډيو کې، لومړۍ برخه،
ــ پښتانه په لنډيو کې، دويمه برخه،
ــ د لنډيو مآخذونو ته يوه کتنه، لومړۍ،
ــ د لنډيو مآخذونو ته يوه کتنه، دويمه برخه،
ــ د لنډيو مآخذونو ته يوه کتنه، دريمه برخه
ــ د لنډيو مآخذونو ته يوه کتنه، څلورمه برخه.

د همدغو بحثونو په ترڅ کې يې د لنډيو په باب ډير په زړه پورې بحثونه کړي دي چې ما د لنډيو په باب د مقالو د سلسلې په دويمه برخه کې استفاده ورنه کړې ده...»

لايق د لنډيو په باب ډېر د قدر وړ کار کړی دی، هرڅومره چې بحث پرې وشي، لا کم به وي.

اوس دا دی د پرکاره فرهنګي شخصيت ښاغلي باز عابد په زيار د لنډيو په باب د سليمان لايق نورې خبرې او نظريات په ټولنيزه ميډيا کې انلاين شوي دي او زه يې د لنډيو په باب د نظرياتو د راټولولو په لړ کې دا نظريات هم راخوندي کوم او له ښاغلي باز عابد نه په مننې سره يې کټ مټ يې رااخلم:

«د اروا ښاد اکاډيميسن سليمان لايق د دريېم تلين په مناسبت
د جولای ۳۱ مه
سليمان لايق په لنډيو غږېدلی
د ۲۰۰۸ م کال د اګست په ۲۱ نيټه قلم نړيوالې ټولنې د لنډيو په هکله اکاډيمسن سليمان لايق غږولی و ما يې غږ ثبت کړی و. خبرې اورېدې دي خو د پښتو لنډۍ په اړه په زړه پورې معلومات په کې شته چې دا دی کټ مټ يې ستاسې په وړاندې ږدم.
بازمحمد عابد
دا سمه ده چې ما يو څه وخت په سياست کې تير کړی دی، مګر ما ډېر عمر په انشايي ادبياتو لکه شعر او نثر کې هم تير کړی دی. د پښتو په څېړنيزو ادبياتو کې زما کار ډېر نوی دی. تقريباً ديارلس څوارلس کاله له هيواده لرې د مهاجرت په ديار کې مې څېړنيز کار ته مخه کړې ده. ما په وروستيو وختونو کې خپل وخت دې دوو برخو ته ورکړی. په لنډيو اساسي څېړنه او په فارسي ژبه مې يو رومان تر لاس لاندې دی چې نوم مې ورته (مردی از کوهستان) ايښی دی. دا کتاب د انقلاب د دوران ټوله ماجرا په ځان کې رانغاړي، تکميل شوی نه دی تر اوسه

لا دوام لري. ما دغه منظوم رومان په ۱۳۵۹ ل کال کې شروع کړی دی. تشویش لرم چې زما په ژوند کې به زه په دې قادر نه شم چې دا منظوم رومان پوره کړم. په هر حال که په دې دوران کې په ما پسې عزرائیل راغی، نو داسې څوک به پیدا شي چې دغه رومان پای ته ورسوي؟ صلاحي صاحب په خپلو خبرو کې زه له یوه مشکل سره مخ کړم. هغه دا چې لایق په لنډیو باندې کنفرانس ورکوي. لنډۍ هغه بې پایانه بیان دی چې په یوه، دوه یا دریو بیانونو کې سر ته نه شي رسیدی. ما د دنیا د فلکلورونو سره یو څه بلدیت پیدا کړی دی. د دې له پاره نه چې د پښتانه هر څه راته بهتره ښکاري. پښتانه د انتقاد له پلوه هم ډېر موارد لري، کمبودتات لري، لیکن د پښتانه فلکلور او په خاصه توګه لنډۍ یو بې نظیره شی دی. زما په فکر مونږ کولای شو چې د لنډیو په ضمانت دنیاوالو ته ووایو چې مونږ هم فلکلور لرو. لنډۍ یو عجیبه خصوصیت لري .په یوه لنډۍ کې ټول ژوند رانغښتلای شي. په فلکلوري شعرونو کې معمولاً طنزیه افکار روزل شوي دي. ولې په لنډیو کې د لنډۍ مفکورې، د لنډۍاحساسات، د لنډۍ تصویرونه رزمي برخې ته وراوړدیړي او لنډۍ په دې برخه کې ډېرې غني دي. په لنډیو کې د انسان د احساساتو درجه بندي دومره دقیقه ده، چې د پښتو په نوره شاعرۍ کې یې ما ساری نه دی لیدلی. سالونکا د اسپانیې یو ډېر لوی وطنپال شاعر تیر شوی دی چې په ټول جهان کې مشهور دی، هغه وایي چې د فلکلورونو او مکتوبي ادب دومره فرق دی لکه د یوه طبعیې ګل او کاغذي ګل تر منځ چې فرق وي. البته هغه د اسپانیې په پونتوجوندو نوم

چې لنډیو ته ورته یو شی دی په هغه باندې خبرې کوي.څه وخت زه د پونتوجوندو په ترجمو لوستلو مصروف شوم. خو زه تاسې ته په ویاړ وایم چې لنډۍ په پونتوجوندو هم وسیع او پراخه دي. یو عاشق وایي:

خدای دې زما کړه غونډې مونډې

لنډۍ کچر به چلوم تا به ساتمه

تاسي وګورئ چې په دغه فقره کې زموږ د هیواد یو فقیر او غریب ځرنګه په خپل چوکاټ کې داسي یوه خبره کوي، چې که موږ دا لنډۍ واورو کولای شو چې ټول ژوند یې تکسیر کړو. نو دا غني فلکلور چې زه امیداواره یم د قلم ټولنه او نور فرهنګي سازمانونه چې د افغانستان ادبیاتو له پاره کار کوي، او پښتو برخه هم پالي، نو د پښتو لنډیو له پاره خپل پام واړوي او په لنډیو کار پیل کړي. ما په ۱۳۵٤ل کال خپل لومړنی کار په لنډیو باندې شروع کړ. هغه هم ډېر تصادفي کار و. یو فرهنګي سړي، یو زیارایستونکي ادیب، یو استاد چې اوس د هغه وخت زلمی نه دی. شهرت یې پیدا کړی، یعني زلمی هیوادمل چې هغه وخت په مطبوعاتي کارونو بوخت و ماته راغی او ویې ویل چې ته باید د زیرې جریدې ته په هره ګڼه کې یوه مقاله ولیکې. ما ورته ویلي وو چې سمه ده. دا چې ووت نو زما دغه لنډۍ په یاد وه چې:

**خدای دې زما کړه غونډې منډې**
**لنډۍ کچر به چلوم تا به ساتمه**

بس له همدې ځایه مې شروع وکړه. ما په هغه کال ۲۷ مقالې په لنډیو ولیکلې. خو هغه وخت مالنډۍ په هنري جامه کې رانغاړلې وې، لکه شعر. خلکو هم زما د لیکنو نه خوند اخیسته او زه یې تشویقولم چې ډېر عجیب شي ته دې پام شوی دی. خو زه هماغه وخت پوهیدم چې زما لیکنې ناقصې دي .دا کار علمي پوښتنو ته ځواب نه شي ورکولای. په مهاجرت کې ما په لنډیو باندې دوباره کار پیل کړ، خو اکاډیمک، ژور او علمي کار. شاید ژبه به یې هغسې شاعرانه، عاطفي او احساساتي نه وي چې ما په هغه ۲۷ مقالو کې کاروله. لیکن ژورو مطالبو ته تر تله پورې لاړم. په دغه کار تر اوسه پورې ما ۱۲٦۰ پاڼې توری کړې دي. ما غوښتل چې دا د کتاب په بڼه چاپ کړم. ما ته ډېرو دوستانو مشوره راکړه چې دا کتاب چاپ کړم، خو ما ورسره ځکه دا خبره ونه منله چې ما غوښتل چې دا کتاب زه د مقالو په بڼه خپور کړم . د دې له

پاره چې له دوستانو او نقادانو نه پرې انتقادي او تاییدي نظر واخلم. نو چې زه کتاب چاپوم نواقص به یې کم وي. ځکه چې دا کار لومړنی کار دی او طبعي ده چې له نواقصو نه به خالي نه وي. دا خبره زه په دې خاطر نه کوم چې تاسې به دې کتاب ته په کوم نظر وګورې، کوم کار چې ما کړی دی، زه ورته تشویش نه لرم، ځکه چې په ډېر شوق او امانتدارۍ مې دا کار کړی دی. لیکن کیدای شي چې ډېر ایرادونه او انتقادات پرې وارد شي. په دې ملک کې یو بدبختي دا ده چې چا ته ووایې چې دا غلطه ده، یا دا ضعیفه ده، یا دا ریفرنس نه لري، هغه خپه کیږي. یعنې د انتقاد تحمل زموږ په خلکو کې نه شته.خو زه تاسې ته وایم چې دلته ما یو تنکی ځوان د هارون حکیمي په نوم ولید، دده غزلې مې واورېدې ربښتیا درته وایم چې زما له پاره ډېر د تعجب ځای و. که دغه هارون پورته شي او زما په شعرونو کې ماته زما کمبودتات راوښیي، زه به هیڅکله خپه نه شم.
البته په لنډیو کنفرانس ورکول ممکن دي، خو باید سړی ورته ډېر وخت ولري. له سره یې مطالعه کړي. د دې کار له پاره زما ژوند داسې دی چې زه ډېر امکانات دلته نه لرم. خو د قلم ټولنې له مانه غوښتنه کړې وه چې زه به تاسې ته په لنډیو یو لکچر درکوم. ما د خپلو لیکنو نه یوه برخه غوره کړې ده چې زه یې تاسې ته اوروم. یوه خبره باید تاسې له ما سره ومنئ چې لنډۍ د ښځو شعر دی. ښځې چې په ټولنه کې د نارینه وو له خوا محکومې دي، په لنډیو کې یې د خپل محرومیت اواز پورته کړی دی او نارینه یې سم په خپل ځای کینولی دی.په دې مقاله کې ما هغه برخه را اخیستې ده چې په ښځو پورې اړه لري. ځکه چې ښځې زموږ میندې دي، ښځې زموږ خویندې دي او ښځې زموږ معشوقې دي. نو زه ترجح ورکوم چې د دغې نیمې بدنې، د ژوند په باره کې به زه خبرې راټولې کړم. او د دې نه وړاندې غواړم چې د لنډیو په تاریخي اصالت باندې یو څه وغږیږم. زما په عقیده لنډۍ داسې شی نه دی چې پنځه سوه، اته سوه او یا هم د اسلام تر راتګه وروسته یې تشکل پیدا کړی وي. زما په نظر لنډۍ د اریایانو د وخت نه راپاتې یو شی دی. د

دي له پاره ډېر دليلونه شته. زه په همدې بنياد څېړنه کوم او اوس دغې ځای ته رارسيدلی يم چې د هندوستان د شمال د برخې فلکلورونه څېړم او د لنډيو سره يې مقايسه کوم. له بده مرغه په افغانستان کې تر اوسه دا کار چا نه دی کړی، هميشه د لنډيو په باره کې ډېر سطحي کار شوی. ځيني خلک هغه لنډۍ ياداشت کړي، چې د هغه خوښې وي او بيا په دې اکتفا کوي چې له سندرغاړو نه يې واوري او خوند ترې واخلي. مګر لنډۍ په اجتماعي برخه کې ډېرې ژورې دي. موږ کولای شو چې د خپلو اجدادو خاطرې، عقايد، غړونه او تمايلات په لنډيو کې پيدا کړو او جامعې ته يې وړاندې کړو. نو په دې برخه کې چې ما ادعا وکړه چې دا ډېرې پخوانۍ دي نو ما د هند د شمال د برخې فلکلور څېړلی دی. په هغو کې د پنجابۍ ژبې يوه سندره ده چې (ماهيا) ورته وايي. ماهيا هغه شپانه ته وايي چې له اوزو، ميښو او غواګانو سره ژوند تيروي. ډېره عجيبه خو يې دا ده چې د دغه شپانه په ادرس باندې په دې سرود کې داسې افختارات او داسې لوی القاب او داسې مفکورې افاده شوې دي چې سړی حيرانوي. د ماهيا شباهت له لنډيو سره دا دی چې هغه هم د ښځو شعر دی. ښځو ويلی او ښځو شپون د خپل قهرمان په حيث منلی دی. په جوړښت کې زموږ له لنډيو سره دا فرق لري چې اوله فقره يې اته ده او دويمه يې شپاړس ده. او د لنډۍ اوله فقره نهه ده او دويمه يې ديارلس ده .د ماهيا په باره کې ما خپل بحث بشپړ کړی دی.. د علومو اکاډمي مجلې ته مې سپارلی دی، تمه ده چې هغوی به يې چاپ کړي. او له تاسې ټولو نه هيله کوم چې هر هغه څوک چې د پښتو د فلکلوري ادبياتو سره علاقه لري، دغې مجلې ته مراجعه وکړي، که کوم نظر لري، په همدې مجلې کې يې خپور کړي، نو زه به د خپل کار په لا بشپړولو کې ستاسې له نظرونو او انتقادونو څخه استفاده وکړم.

يو پيراګراف به زه د لنډۍ د تاريخي پيژنګلوی په باره کې تاسې ته ولولم ، بيا په لنډيو کې زه د ښځو مسلو ته راځم. ځکه چې د لنډيو په بحث کې د اوج نقطه د ښځو د مسايلو تصويرګيري ده. يوه پښتنه ښځه

په لنډیو کې څنګه انعکاس لري؟ او ښځو په لنډیو کې کوم نقش لوبولی دی؟ زه به هغه تاسي ته عرض کړم. په اول کې د لنډیو پېژندګلوي.
افغاني فلکلوریستان باور لري چې پښتو لنډۍ د عامیانه ادبیاتو د شتمنۍ یوه برخه ده. او کیدای شي چې په لوړ سبک هغه د افغاني فرهنګ د تجمو او میراثونو په توګه معاصرې نړۍ ته وړاندې شي. د دې خبرې منلو سره چې فلکلور د لرغونو ټولنو د ژوند د اسطورو او حکمت داسې یو شی دی چې دخپل چوکاټ د ساتلو باوجود د خپلو د لومړنیو سپیدو څخه د ژبو او لهجو د تکامل له راز راز قوي څخه تیر شوی او د مذهب له اغیزې سره یو ځای زموږ تر مهاله رارسیدلی دی. د پښتو د فلکلور او په تیره بیا د لنډۍ داسې تصور ته رسیږو چې دا منظومې غاړې داسې فرهنګي میراث دی، چې د اکسوس او اندوس د ناوو تر منځ د استوګنو اریایي ټبو او د ګندهارا د اوسیدونکو څخه اوسنیو پښتنو ته په میراث پاتی دی. د ګندهارا د اریایانو او د هند د شمال د اریایانو تر منځ فرهنګي اشتراکونه او د پښتو او سانسکریت د ژبنیو اصطلاحاتو تداخل ښیي چې د افغاني فلکلورونو او د هغې له جملې څخه د تاریخي او اجتماعي منځپانګې د سرچینو د څېړلو او پیدا کولو له پاره د زاړه هندي فرهنګ په تیره د ویدي سرودونو ژوره مطالعه او د پښتو سره د سانسکریت پرتله ییزه څیړنه یوازینۍ اړتیا ده. داسي یو کوښښ که پخپله د افغاني عالمانو له لوري سر ته ورسیږي، له یوې خوا به د افغاني فرهنګ په پیژندګلوی کې مرسته وکړي، له بل پلوه به د غربي ختیز پیژندونکو د څیړنو موقعیت مطابقت سره چې په ختیزو څیړنو کې تیروتنې کوي، څه نا څه مصون شي. که څه هم موږ د زړو اریایي ژبو او د خپل لرغوني تاریخ په ژغورنې او څیړنې کې د غربي پوهانو د زحمت او زیار منونکي یو خو دا حقیقت هم له پامه نه غورځوو چې هیڅوک په پردي کور کې د کور د خاوند په اندازه نه وي بلد. په همدې موخه که د ځینو باندینو سیاسي پوهانو هغه تمایلات چې په علمي پلټنو سیوری غوړوي، له نظره وغورځول هغوې یې له ختیزو هیوادونو سره د خپلو محیطي او رواني ځانګړتیاوو د تباین په وجه زموږ د

هیواد او سیمې د حقایقو په کشف او درک کې زموږ تر عالمانو وړ نه دي. خو تر دې دمه د علمي افغاني ماهرانو د لنډون په وجه د افغاني، هندي او فارسي اریایانو د ژبې، ادبیاتو او عمومي فرهنګ څېړنه او په تیره د هغه پرتله ییزه مطالعه زموږ د علمي او امکاني لوښې تر ظرفیت اوښتې ده. د کوشانیانو په باب د اتیایمو کلونو په یوه سیمینار کې د هندوستان د جواهر لال نهرو پوهنتون د یوه استاد رام راهول سره د پښتو د فلکلورونو په باب په بحث واوښتم .هغه دا نظر درلود چې بې د سانسکریت د عمیق تحقیق نه او په هغې باندې له ورود نه پرته دا ناممکنه ده چې د پښتو د فلکلوریکو سرچینو او همدا راز د پښتنو د اریایي اصالت په باره کې هغسې چې وړ ده؛ تحقیقات دې وشي .نو ضروري ده چې سانسکریت ته مراجعه وشي.

د پوهاند صدیق الله رښتین اروا دې ښاده وي، لیکي:

د اکسوس او اندلوس تر منځ پرته سیمه چې د کشمیر او پامیر څخه د هند تر سمندرګي پورې سور لري، د پښت د تپو پیدا کیدو او د استوګنې ځمکه پاتې شوې ده. د دې تپې نور اریایي ورونه دوه درې زره کاله پخوا له دوی سره یو ځای اوسیدل. خو کله چې د دوې یوه برخه د اندلوس پورې غاړه ختیز پلو ته لاړل او بلې برخې یې د لویدیز په لورې مخه وکړه. په دریو څانګو سره جلا شول. یعنې په ختیزې. لویدیزې او مرکزي څانګې. د دوې ګډې ژبې هم د دریو جلا ژبو په توګه وده ومونده. یعنې په ختیز کې سانسکریت، په لویدیز کې اویستا او د دوې تر منځ پښتو رامنځ ته شوه. د دې عالم په نظر پښتو د هغو اریایانو ژبه ده، چې د رګویدا په سرودونو کې د پګهت په نامه یاده شوې ده .رښتین صاحب د پښتو لنډیو د تاریخي پیژندګلوی په باره کې عقیده لري، چې د سانسکریت سرودونه هغه دي چې په څلورګونو ویدونو کې ثبت شوي دي. کوم سرودونه چې تر هغو وړاندې ویل شوي دي په هغو سرودونو کې شامل دي چې اوس له لاسه وتلي دي. د پښتو سرودونه هم په دوو برخو ویشل کیږي. لیکل شوي سرودونه او شفاهي سرودونه .د دغو له منځه لنډۍ په شفاهي سرود پورې اړه لري او د

تير و زمانو څخه په موږ پوري سينه په سينه رارسيدلي دي. پروفيسر محمد نواز طاهر د پيښور د پښتو اکاډمۍ پخوانی ريس په دې عقيده دی چې پښتو لنډۍ د اويستا له ګاتونو سره چې يو راز مناجاتي سرودونه دي، تاريخي قرابت لري. دی د نورو محقيقانو په حواله ليکي چې ګاتونه او رګويدا له لنډيو سره ورته والی لري .دی وايي چې تر کومه ځايه چې لنډۍ له ګاتونو سره په يوه ماحول کې پالل شوي دي، بعيده نه ده چې د ګاتونو ژبه له هغې لرغونې پښتو سره شباهت ولري، کومه چې شپنو او د ګلو خاوندانو په لنډيو کې استعمالوله .
زما په نظر که څه هم دغه دوه عالمان حقيقت ته نيږدې شوي دي، خو ورسيدلي نه دي. د دې خبرې مانا دا ده چې دغې دوو د مغربي محقيقانو نظريات او اټکلونه په دې باره کې منلي خو پخپله يې څيړنه او ازموينه نه ده کړې. د دوی نقلونه او څرګندونې نقلي ماهيت لري. او له هغو طالبعلمانو سره مرسته نه شي کولای چې د څيړنې د علمي ميتودولوژۍ او فاکټونو په اساس مشخصو نتيجو ته رسيدل غواړي. د پښتو فلکلورونو د څيړنې له پاره د پښتو اويستا او سانسکريت په باره کې چې د هند اروپايي ژبو چې د يوې کورنۍ خويندې دي، د مقايسوي ژبپوهنې په اساس يو څه څيړنه په کار ده. او تر دې هاغه خوا د لنډيو د هغو منسوخو شويو ټولنيزو عنعنو څيړنه په کار ده چې په لنډيو کې د تيرو تاريخي، فرهنګي بهيرونو په وچ شوي خړوب کې د پوسيلونو په توګه موجود دي. لکه د (ستي) کلمه او د هغې پراخ مفهوم. ستي چې په سانسکريت کې د محترمې، پاکې لمنې، سپيڅلې او هغې ښځې له پاره کارول کيږي، چې ځان د خپل مړ خاوند سره يو ځای سوزوي. ستي د سون په مانا په لنډيو کې په سلهاوو ځلې کارول شوې ده. د ستي په څير داسې نورې کلمې هم شته چې د خويندو ژبو د انشعاب د زيات قدامت با وجود د هغوی د پاتې شويو مشترکو اړيکو د کشف او څيړنو په دندو کې کارول کيدای شي. او موږ د لنډيو په باب د اټکلونو پر ځای علمي پلټنو ته ورتيروي. د ساري په توګه د سانسکريت د (ديس ) کلمه د هيواد په مانا طـاو د ګر کلمه د غر په مانا په پښتو کې کټ مټ د

سانسکریت په توګه کارول کیږي. او هماغه مانا ورکوي. د دیس کلمه په پردیس کې د وطن په مانا او د ګر کلمه غ ته د ګ د بدلون او ز ته د س راوښتون له کبله په ګردیس یعنې د غرونو په وطن کې چې په ګردیس کې ځان ښکاروي څرګنده ده. چونغر د چینو غر او غرجستان د غرونو سیمه. په دواړو ژبو کې په یوه مانا کارول شوي دي. په سانسکریت کې د همالیه غرونو ته ګراج هم ویلاۍ شوې دي. چې مانا یې د غرونو پاچا ده. په دې ترکیبي نوم کې د ګر مانا هم هماغه ده چې د افغانستان کې په زړې فارسي او زړې پښتو کې مستعمله ده. او اوس هم لکه د ګردیز او ځینو نورو نومونو په تانیسته کې ځان ښیي. د غره په نامه غ ته د ګ د بلیدو په وجه د ګرچه، ګرستان، چونګر کلمې چونغر ته اوښتي. په سانسکریت کې بنګال ته انګدیس ویل شوي دي. چې اوس سین ته د شین په په استبدال او د بنګال په اضافه کولو بنګله دیش شوی دی. په هند کې د اتراپردیش او د افغانستان په کندهار کې د دیشو نومونه د همدې ریښې څخه اخیستل شوي دي. د سانسکریت په لرغونې حماسه ( راماین ) کې د ګندهاروا دیس په نامه یو داسې وطن یادوي چې په هغه کې ګندرواهانو ژوند کاوو. دا هماغه سیمه چې د ننګرهار د ناوې په شمول د پیښور ناوه تر سوات پورې رانیسي. په دې نامه کې د دیس کلمه په هماغه لرغونې بڼه پاتې شوې ده. د زیاتو مالوماتو له پاره زما هغې مقالې ته مراجعه وکړئ چې د لنډیو په ژبه مې لیکلې ده.

په لنډیو کې د تاریخي ریښو او رابطود پلټلو او پیدا کولو تر ټولو لنډه او ګټوره لاره دا ده چې خپله په لنډیو کې ځیرنه ژوره شي. د دغو اصطلاحاتو علمي پلټنه لکه ستانه، انغرۍ، سپیلنۍ، ګودر، جرګه، هوډ او نور چې په لنډیو کې لا د زړو اجتماعي انستوتونو د پاتې شویو سمبولونو په توګه کارول کیږي، د لنډیو د تاریخي او فرهنګي پیژندګلوۍ سره ډېره مرسته کولاۍ شي. دا مصطلاحات هغه پلونه دي چې موږ ته امکان راکوي په هغه رول چې زمان زموږ او زموږ د اجدادو تر منځ رابښکلی دی، تیر شو او د لنډیو سرچینو ته په رسیدو

کې ګټه ترې واخلو .د لنډۍ یو بل خصوصیت د هغه غاړه ییز فطرت دی. چې ډېرې ستونزې د لسګونو غاړو او میلوډي ګانو په قالب کې کیني او د ساز او اواز هنرمندانو ته امکان ورکوي چې د بیلابیلو غاړو هستوونکو سرکو سره د هغوو د ترکیب کولو له لارې غږونه هسک کاندي. او دا د لنډیو جاوداني خصوصیت دی. د لنډۍ دغه فطرت د انسان د ژورو غمونو او سر اخیستو خوښیو او ارماني خوندونو د هغې ورکې بیان دی کوم چې انسان په خپل جبلت کې په هغه اخته شوی دی. یعنې هغه روحي ګرفتارۍ چې په الفاظو کې د بیان وړ نه دي او ژبه لا تر اوسه د هغه د تصویرولو صلاحیت نه لري، په صوتي سندریزو غاړو کې بیا پیدا کوي. او په همدې توګه لنډۍ پخوا تر دې چې د شعر په توګه زیات مقبولیت ولري، د غاړو او غږونو په توګه د خلکو په زړونو کې زیات مقبولیت لري. فاروق افندي د افغانستان ترک اصله موسیقي پیژندونکی متعقد و چې زموږ د سیمې په جغرافیوي قلمرو کې هیڅ فلکلوریک شعر او ترانه د لنډیو غوندې د غاړو د پاللو تغزلي غنا او د خپلې د رښتیندویه او هیجان هستونکي ژبې له پلوه دومره اوچت الوت ځای نه لري. کله چې زه د لومړي ځل له پاره د لنډۍ د دې غږنۍ ځانګړتیا سره اشنا شوم او هغه مې د سیمې د ورته فلکلوري آثارو سره مقاسه کړه، زه یې دې قناعت ته ورسولم چې لنډۍ په واقعي مانا د خلکو د هستونو او نبوغ یو شهکار دی. دغه دوه پوړیز جادوګر اوازونه چې د هر پښتانه په ژبه جاري دي، او بې اختیاره د هغه په مرۍ کې په سندریزو غاړو بدلیږي، د انسان د عواطفو، درونو، ستونزو، انګیرنو، دقیقه درجه بندي کړې ده. او سرۍ د خپل حقیقت د بربنډولو میدان ته راکاږي. دغه د لنډیو د تاریخي ریښې او د لنډیو پیژندګلوی . لومړۍ برخه وه چې خلاصه شوه.

په لنډۍ کې د ښځې تصویر

لنډۍ په رښتیا سره د پښتني ښځې شعر دی. ښځې یوازې په لنډیو کې خپل واقیعت څرګندوي. هینداره ښځه ښیي، خو په ظاهري بڼه او سینګار کې. نقاش او سیکه توږونکی ښځه تصویروي او توږي خو د

موادو او رنګونو له ترکیب څخه. او هغسې چې ته یې غواړې. نه هغسې چې دا ښځه پخپله ده یعني له روح او احساس سره. شاعر ښځه ستایي خو ایډیال ښځه. داسې ښځه چې د خیال په بلوري مانیو کې د پاشلو څېو تر معطر چتر لاندې د سرو شرابو شیشه په لاس پرانیستې ګریوان د ده راتلو ته سترګې په لار ده. لکه د دري ژبې ستر غزلبول حافظ شیرازي چې وایي:

زلف اشفته و خوی کرده و خندان لب و مست
پیرهن چاک و غزلخوان و صراحی در دست

د ښځې دا ننداره ینه د شاعر دجنسي غریضې د طبعي احساس نتیجه ده چې د ده د هنري نبوغ په وړې احساس کې پالل شوې ده. د ښځې ښکلا، لیوالتیا او لیونۍ مینه درواغ نه ده. او د هغې د جلوو او کرشمو انځورول او ستاینه د هنري انځورګرانو، هنرمندانو د تل پاتې شهکارونو د هستولو اساسي منځپانګه ده. خو ښځمنتوب او د نارینه له پاره د هغې جنسي جاذبیت د ښځې د اصلي څرخ یو اړخ دی. ښځه په خپل شعر یعني لنډیو کې خپل واقعیت څرګندوي. لنډۍ د پښتنې ښځې هغه اعجاز لرونکې هینداره ده چې د پښتانه په ټول تاریخ کې د هغې د ظاهر او باطن، شعور او لاشعور بشپړ تصویر وړاندې کوي. ځکه چې ښځه خپله د هغې د هستیدو، نقش و نګار او نندارینه کې خضور لري. د لنډیو د ځانګړنو څخه داسې اټکل کیږي چې د ډېرو لنډو شعري سپرغیو د تاریخ د ډېرو بدلونونو باوجود په خپل اوږده مسیر کې د لرغونو فرهنګونو د پرله پسې څپو هغه پاتې شونې چې په لنډ مهال کې ترسد نه کوي، لا تر اوسه په ځان کې ساتلې دي. له همدغه کبله دغه لنډکې فلکلوري شعرونه د پښتنو د ټولنیزو روابطو او فرهنګ د څیړلو له پاره هغه عمیق ارزښت لري .کوم چې پوسیلونه یې د ژوند د تاریخ د مطالعې له پاره لري. لنډۍ د ښځو د ځانګړي شعر په توګه د پښتنې ښځې د دریځ چیرنه او پلټنه کې بې ساري او موثق مدرک دی. ښځه په دې روښانه کړکۍ کې د خپل تاریخي وضیعت او اوسني اجتماعي موقف بشپړ رښتینی تصویر وړاندې کوي. که څه هم لنډۍ تلپاتې پدیده

نه ده او قانونمند تولد مرګ او ژوند لري. خو يوځايي او ډله ييز زوال نه مومي. يوه يوه په تدريجي توګه د يوې قانونمندې قاعدې له مخې رژيږي او ځای يې نوي افوات نيسي. ليکن په هغوی کې دا فلکلوري ځانګړنه خورا پياوړې ده چې د هغوی مخکيني نسلونه، لکه د ژيوو او نباتاتو په څير خپلو وروستنيو ته د اجدادو عمده خصوصيات نقلوي او له مبدا سره اړيکې نه پرې کوي. د همدې ځانګړنې په وجه لنډۍ د يوه باوري څرک او مدرک په توګه د لرغوني تاريخ او د پښتنو د پخوانيو اجتماعي مناسباتو په پلټنه کې اغيزمنه مرسته کولای شي. په لنډيو کې ښځه تر نارينه زيات غبرګون لري، ځکه خو د ښځې د تاريخي وضعيت د څرنګوالي د څېړنې له پاره چې د ځانګړو تاريخي عوارضو له کبله له نظره غورځول شوې ده خاص اهميت لري. د ټولنې دويم نابرابر دريځ ته د ښځو د پوهولو تاريخي عوامل هر څه وي، خو د هغه ټولنيز پای يعنې د نارينه په مقابل کې د ښځې تابع دريځ مشخص او روښانه دی .په دې ټولنيز دريځ کې ډېر څه او د دې جملې څخه د طبعي انتخاب او فطري غوښتنود اظهار او د بيان آزادي حتی د نارينه د تيري او تادا پر ضد د اعتراض حق له لاسه ورکړی دی. ښځو ته په مذهي مشرتابه او اقتصادي ډګر کې د فعاليت مناسب ميدان او امکان نه شته. د هغې ديني ارشاد نه منل کيږي. او د فرهنګي بهير په اساسي برخو کې لکه شعر، نقاشي، معماري او ځينې نور ې سيمې مخصوصه ونډه نه لري.
خو افغاني ښځې په مجموعو کې او پښتني ښځې په ځانګړې توګه د ځان ، ټولنې او ژوند په باره کې په تيره د خپل ژوند د نا انډول ملګري نارينه په باره کې خپلې خاصې طريقې او وسيلې پيدا کړي دي. د دغو وسيلو په منځ کې نقلونه، فلکلوري نظمونه، متلونه او د عاميانه فرهنګ فلکلوري برخې ټول ادبي ژانرونه د ياديدو وړ دي. خو لنډۍ د دغې ژانرونو هغه شتمنه او د عواطفو له شور څخه ډکه برخه ده چې ښځې يې تر هر شي زيات استعمالوي. پښتنه ښځه په خپل ټول واقيعت سره په لنډيو کې نارې وهي او ټول انسانيت، حتی لمر، باد باران، غرونه او هر څه چې د هغې مخې ته راځي په خطاب کې راولي. د خپلې دنيا،

د هغې غمونو دردونو او ښکلاوو سره یې اشنا کوي. په دې توګه پښتنې ښځې هغه ناموسي پګړ چې نارینه د ښځې په تغزل لګولای دی، د شفاهي ادب پر ټول قلمرو خصوصاً په لنډیو کې مات کړی دی. او د تغزل د شوره داسې ډکه مانۍ یې ودانې کړې دي چې په هیڅ لیکلي غنايي شعر کې د هغې د یرغلیزې جاذبې زور او شور نه شته. لنډۍ نه یوازې د پښتنې ښځې، بلکې د افغانستان د ټولو ښځمنو جنس له لوري چې د خپل هنري نبوغ د ځلولو د حق څخه محرومه شوې ده، د آزادۍ له پاره د مبارزې چلنج دی .ښځې په خپل ټولې ښکلا د خپل بشپړ لیوالتیا او د جنسي تبعیض د ټول درد او حسرت سره په لنډۍ کې علول کړی او هغه یې په خپله وینه او مینه کې رنګولې ده. دې رنځونو ژبه ورکړې ده. د عاطفې د جلال او جمال په بټۍ کې یې پخه کړې او د نارینه په رښتینډویه انځورونو کې یې د برهان قاطعي په توګه کارولې ده.
زه په دې خاطر له تاسې ډېره عفوه غواړم چې خپلې خبرې راټولوم. ځکه چې تاسې به هم له لیرو ځایونو څخه راغلي یاست. په ښار کې نظم هم سم نه دی او موټرې هم پس له ماښامه نه وي. خو زما له تاسې ټولو دا هیله ده چې د لنډیو د راټولو او د هغې د تصنیفولو په چارو کې مرسته وکړئ. دغه لنډۍ چې موږ او تاسې یې د پښتو ټولنې په ټولګو کې ګورو او یا هم په پېښور کې د لنډیو چاپ شوې کتابونه، دا علمي بنیاد نه لري. زه ډېر افسوس کوم چې زما په لاس کې داسې مشخص وخت نه شته چې سبا په غرب کې، په روسیه کې، په امریکه کې او یا هم په جاپان کې یې څوک ولولي او زه ریفرنس ورکړم چې ما دا لنډۍ له هغه ځایه اخیستې او دا یې ومنې. هغه شک کوي چې شاید دا لنډۍ به ما پخپله جوړې کړې وي. شاید دا لنډۍ اسالت ونه لري. ممکن دا لنډۍ اوس زیږیدلې وي او تاسې پرې د اریایانو د وخت ټاپه لګوئ.
یو سړی د چې ارنولډسن په نوم یادیده، چې هغه په پېښور کې په لنډیو باندې کار کړی و او یوه کوچنۍ رساله یې پرې هم خپره کړې وه .زه فکر کوم چې هغه لنډۍ پیژندلې وې. هغه په یوه لنډۍ حکم کړی دی چې دا لنډۍ د هغه وخت لنډۍ ده چې جونو به د سوات د غرونو ته د

سوما د ګلونو له د راټولولو له پاره تللي. خو دا لنډۍ بیا ما وروسته د یوه افغان دوست په خپاره شوي کلیکسیون کې ولیده چې ده د خپلو لنډیو په نامه باندې چاپ کړې وه .دا کتاب د انولډسن له کتاب نه شل کاله وروسته چاپ شوی دی. ما هغه سړي ته ولیکل چې دا څه فاجعه کوئ؟ بل شعر نه شته چې تاسې لنډۍ لیکئ؟ دا لنډۍ ولې جوته کوئ؟ او ته ولې دې لنډۍ ته خپله لنډۍ وایې؟ دا خو انولډسن په خپل کتاب کې شل کاله مخکې لیکلې ده او که هغه اوس په لنډیو خیړنه کوله او ستا کتاب لاس ته ورغلی و، هغه به څه فکر کاوه. هغه به ضرور متردد و او له ځانه سره به یې ویل چې دا څه حال دی.

نو ویلی شو چې لنډۍ ډېر لوی بحث دی چې څرنګه کولای شي چې له تاریخ سره مرسته وکړي، له انسان پیژندنې سره مرسته وکړي، له علمو سره او له سوسالوژۍ سره مرسته وکړي. زه د ټولو پښتنو شاعرانو او لیکوالو څخه هیله کوم چې د لنډۍ په لیکلو دې خپل وخت نه ضایع کوي، ځکه چې نوی جوړې شوې لنډۍ اصیلې لنډۍ بې پته کوي. او بې اعتباره کوي یې.

زه د علومو اکاډمۍ او نورو پښتو نهادونو څخه دا هیله لرم چې ولایاتو ته د اصیلو لنډیو د راټولو له پاره ټیمونه ولیږي. د لنډیو شرایط بیخي معین دي. هغه سړی چې ده ته دا لنډۍ ورکوي، دا یې باید په کسټ کې هم ثبت کړي. په لیکلې بڼه یې یې ثبت کړي.، د هغه سړي نوم، د پلار نوم، د هغه عمر، سیمه او د لنډیو د ثبت وضعه . دا ټول باید ولیکل شي چې دا ټول بیا د اکاډیمیو مخزنونو ته رسول کیږي چې بیا د مختلفو علومو له پاره ترې کار اخیستل کیږي چې دا لنډۍ بیا په علمي کچه د اعتبار وړ کیدای شي. ستاسې د پاملرنې څخه ډېره مننه چې ما بیچاره ته مو تر ډېره غوږ ونیو. زه یوه هیله لرم چې راځئ چې په ګډه کار وکړو او دا د پښتو ارغلې تود کړو.

ګرانو مشرانو، همزولو او کشرانو! زه له یو شي نه ډیر تشویش لرم . په دې افغانستان کې په فرهنګي ساحه کې هیڅکله داسې وضعه نه وه لکه دا نن چې یې موږ او تاسې وینو. زه د یوه سپین ږیري په حیث له

بحث نه وتلي يو دوه دري کليمي تاسي ته عرض کوم. او دا خپله وظيفه بولم. هغه دا چې د فارسي او پښتو جنګ زموږ جنګ نه دی .دا دښمن زموږ هیواد ته راننه ایستی دی. دا دواړه زموږ ژبې دي. دري زموږ ژبه ده. دا فارسي د عربو په وخت کې په ایران کې مړه شوې وه. همدې خراسانیانو چې اوسنی نوم افغانستان دی بیرته یې ایرانیانو ته ورزده کړه. یعني دغه هیواد چې اوس ځان ته ایران وایي او اصلي نوم فارس دی، دا نوم تقریباً په ۱۹۳۵م کې له موږ نه ایرانیانو غلا کړ. او زموږ د هغه وخت حاکمانو چې ډېر بې غیرته خلک وو، دا کوشش یې ونه کړ چې هغوی ته ووايي چې دا یو مشترک نوم دی، دا نوم تاسې په ځان مه ړدئ او ځان ته بل نوم پیدا کړئ. اوس زموږ ټول افتخارات د ایران په نامه باندې ثبتیږي. (حکیم سنایي شاعر بزرګ ایران ) کله چې دا کتاب ما ولید دومره غوسه راغله چې کتاب مې راپورته کړ او په دیوال مې وویشتو. دا بې خبرې نه دي موږ نه خوشحاله کوي. موږ هم یو ملت یو، موږ هم حیثیت لرو. موږ هم فرهنګ لرو. زموږ د بلخ تاریخ او د پښتو او دري ژبو تاریخ ډېر لرغونی دی تر هغه تاریخه چې په غربي ایران یعني فارس کې یې خلک د فارسي ژبې له پاره پیشنهادوي.»

*****

ښایسته ډېره موده ونه‌توانېدم چې د عادي لنډیو لړۍ خپلو مخاطبینو ته وړاندې کړم. دلیل یې دا و چې د ځلوروماشتو شاوخوا موده زه د یو شمېر ځانګړو لنډیو په راټولولو، تنظیمولو او خپرولو باندې بوخت وم. دا ځانګړې لنډۍ په کډوالۍ پوره اړوند هغه لنډۍ دي چې له ځینو هېوادونو نه د افغان کډوالو د راشړلو په موده کې او له کډوالو سره د شوو ناروااوو په باب د خلکو له خوا تخلیق شوې دي او د خلکو په کډوالۍ پورې اړوند ورځنۍ ستونزې او کړاوونه په کې انځور شوې دي.

په یاده موده کې ما په کډوالۍ پورې اړوند ترزرو ډېرې لنډۍ راټولې کړې او په پنځوس برخو کې مې خپرې کړې، ډېرى برخو ته مې له راشړل شوو کډوالو سره د ترسره شوو غیرقانوني چلندونو او ناروااوو په باب خپلې تبصرې او د میډیا ځینې اړوند رپوټونه راټولول او خپرول به مې چې وروسته مې بیا د لنډیو د یوې جلا ټولګې په ډول د «د لنډیو پر تـتـر باندې د ګډوالۍ انځور» ترسر لیک لاندې خپرې هم کړې.

اوس چې په کډوالۍ پورې اړوند د لنډیو د تخلق لړۍ لړه سسته شوې ده، خو راټول یې دوام لري. اوس بېرته خپلو هغو عادي راټولو کړو لنډیو خپرولو ته راوګرزېدم چې تر اوسه ما راټولې کړې دي د خپرولو لړۍ یې بیا پیل کوم.

*****

د ۲۰۲۴ ام کال د جولای په ګرمۍ کې له پلان پرته لندن ته لاړم. هلته مې کشرى ورور (شاه‌محمود بهاند او کورنۍ یې) ښه ونازولم. د موزیمونو او تاریخي ځایونو لیدل او په پارکونو کې چکرونه مو ورځنۍ بوختتیا وه. په فارغ وخت کې به مې لپټاپ راواخست یاداښتونه به مې لیکل، خبرونه به مې له نظره تېرول او په افغان جرمن پورټال کې به مې د انلاین کېدو له پاره مطالب هم ایډټ کول، کله ـ کله به مې فیسبوک ته هم سر ورښکاره کاوه.

له فیسبوک او په عام ډول له میډیا نه زه نوې لنډۍ راخوندي کوم. د ۲۰۲۴ ام کال د جولای په ۲۶ مه نېټه په فیسبوک کې په یوې داسې لنډۍ ورپېښ شوم چې بیخي راته نوې وه:

**تاوان د دواړو برابر دی**
**ما ته بایللی یې، تا زه بایللې یمه**

ژر مې خوندي کړه او بيا له لنډۍ نه لاندې راغلی متن په لوستلو بوخت شوم؛ که گورم چې دا د دوو مينانو تر منځ ډيالوگ دی او د ډيالوگ په متن کې څو نورې راغلې لنډۍ هم راته نوې وې، نو مې ټولې راخوندي کړې.

د دوو مينانو په منځ کې ياد ډيالوگ ډېر خوږ و، خو زه يې له ډيالوگ سره څکه کار نه لرم چې د خلکو خصوصي حريم ته ننوتل ښه نه راته ايسي، مگر د هغه دوو مينانو د ډيالوگ په ترڅ کې چې کومې لنډۍ د سوال ــ ځواب په ډول راوړل شوې وې، هغه مې ټولې د همدې ټولگې په بېلابېلو برخو کې خوندي کړې دي.

*****

احمدولي اڅکزي لکه تل نن (۲۰۲۳/۱۲/۱۵) هم په خپل فيسبوکپاڼه کې يوه نوې خبره او هغه يې هم د لنډيو په باب کړې ده چې زه يې له مننې سره‌مل، دلته راخوندي کوم:

«مېرمنې، لنډۍ او داستانونه...

په پښتني ټولنه کې ښايي تر بل هر وخت اوس مېرمنې زياتې حاشيې ته کړل شوې دي. که ورځنې ژوند، علم، فن او که هنر دی، پکښې د مېرمنو لپاره ځای موندل او د ودې او پرمختگ امکانات ترلاسه کول هغه د انگريزي په اصطلاح يو «مشن ايمپوسيبل» يا يو ناممکن مديريت ته ډېر ورته کار دی.

خو د ټولو محدوديتونو، محروميتونو او بې عدالتيو باوجوده بيا هم مېرمنو د پښتو ژبې په ژوندۍ پاته کېدو، وده کولو او په بډايه کېدلو کې تر ټولو لوی او تر ټولو زيات حياتي خدمتونه کړي دي. دغه خدمتونه له ماشوم ته پښتو ښودلو څخه نيولې بيا تر شفاهي ادبياتو پورې غځېدلي يوه ډېره پراخه ساحه ده. زما په فکر د پښتو شفاهي ادب زړه او شهرگ

يعني لنډۍ يا ټپې و دغې ژبې ته د پښتنو مېرمنو هغه تحفه ده، چې بې بها ده. د مېرمنو له لاسليک څخه برخمنه هره يوه لنډۍ په ځان کې يو داسې لوی او فصيح داستان او آن داستانونه رانغاړي چې ساری نه لري.

خدای دې زموږ مېندې، خوېندې او لوڼې راته تل خوشاله، آبادې او برياله لري او الله دې موږ ته د دوی په حق کې د عدل کولو عقل، فهم او د عملي اقدام وس راکړي. آمين»

*****

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه په لړ کې زه په ډېرې خوارۍ سره نوې لنډۍ راټولوم. کله، کله ښاغلی ډاکټر حنيف حيران يوه نيمه نوې لنډۍ خپره کړي هغه راواخلم، کله زما اشنايان د مسنجر په مټ ځينې نوې لنډۍ راولېږي او کله په عامو مجلسونو کې يوڅه نوي اورم او ډېر ځلې سندرغاړي هم د خپلو زمزمو په ترڅ لنډۍ زمزمه کوي هلته هم کله، کله نوې لنډۍ اورم او راخوندي کوم يې؛ خو کله، کله زما نالېدلی دوست ښاغلی عزيز نايبي په خپله فيسبوکپانه کې يو شمېر لنډۍ خپرې کړي چې ډېری يې نوې وي. دا دی ببيا يې نن (۲۰۲۵/۰۹/۰۷) څو لنډۍ خپرې کړې دي چې ما ته نوې وي، ځکه مې ټولې راخوندي کړې.

*****

## د لنډيو په هنداره کې

### د خيبر جرګې څو انځورونه

**په خيبر داسې ځوانان مړه شول**
**لکه ياقوت، لکه مرجان، لکه لالونه**

ځوک به چړچو باندې اخته وي
ځوک ځي خیبر ته عدالت به لټوینه

راشه قسم راسره وکړه
که د خیبر جرګې ته ځې، درسره ځمه




«پښتنو د دونیا له صف نه وتلي یئ، په اقوام متحده کې هرکال د دونیا خلک سره کېني د دونیا فیصلې کوي، پښتونه ته پهکې نهیې، ته وتلی یې د لستونو نه، ستا قومي وجود ختم شوی دی، د دغ ملک په نصاب کې ستا ژبه نهشته، ستا تاریخ نهشته، ستا د تمدن حقدار نهشته، وروره! ستا په وسایلو ستا اختیار نه شته، په دې خاوره کې چې کومې فیصلې کیږي، په هغه کې هم ستا مشوره نهشته.

ساده خبره ده، د پنجاب یو جرنیل یې د بلوچستان کور کماندر کړی دی، یو جرنیل یې دلته کورکماندر کړی دی، ټول اختیار د هغو په لاسونو کې دی، موږ په تعجب خبرې نه کوو، خو دا یو حقیقت دی چې پنجاب او پنجابي جرنیلانو دا وطنونه په داسې انداز نیولي دي چې

**خلک تیکنیل هغه په بل نظر کتلی نه شي یا دي وهي یا غدار يي او خلک د خپلو وسایلو په باب پوښتنه نهشي کولای نه د خپلې ژبې په باب په څه پوهېږي، نه يې کومه نمایندهګي شته دی، د خپل وطن اختیار خو لاپرېږده .**

**فلهذا لږ سوچ به کوو، په ملي فکر به راټول شو، چېرې تللي يئ، راشئ چې غاړې سره میلاو کړو، یوقام یو وطن یو.**

(د منظور پښتین د وینا يوهبرخه)

https://www.facebook.com/reel/2803988609766355

په افغانستان کې د انګرېزي استعمار ماته، د دې سبب شوه چې پر افغانانو باندې د نورو ناخوالو ترڅنګ د دیورند کرښه هم وغزول شي او د کرښې دواړه غاړه پښتنو ته يې رنګارنګ جالونه وغوړول شي. د فرضي کرښې پورې غاړه پښتانه يې په څو پولیتیکل ایجنسیو وویشل او نوي جالونه يې ورته وغوړول د د ظلمونو نوې بڼې پیل شوې. د وخت په تېرېدو سره څومره چې حالات بدلېدل، د استعمار د جالونو او ظلمونو بڼې هم بدلېدې.

انګرېز په نوې زمانه کې د خپلو ظالمانه عملونو د ترسره کولو لهپاره، خپل نوی ناجایز اولاد پاکستان وګماره او تر نن پورې د انګرېزي استعمار د ظلمونو تطبیقول همدې ناجایز اولاد ترسره کوي.

د استعماري او پاکستاني ظلمونو په پایله کې، په سیمه کې نوي مبارزین او د عدالت او ازادۍ غوښتلو نوي نهضتونه پیدا شول چې یو په کې د پښتونژغورنې غورځنګ دی. د پښتونژغورنې غورځنګ (پي ټي ایم) د مظلومو پښتنو د مبارزینو هغه ټولی دی چې له اوږدې مودې را په دېخوا په پاکستان کې د پوځ، آی ایس آی او نورو ادارو له خوا د پښتنو د جبري ورکولو، وژلو، شکنجه کولو، لوټلو او نورو ظلمونو پر

وړاندي راپورته شوی او د سر په بیه د پاکستاني استبلیشمنت په مقابل کې مبارزه کوي.

د پښتون‌ژغورنې غورځنګ د تاریخچې په باب میډیا لنډ او اوده مطالب خپاره کړي دي، خو د ټولو اصلي مطلب داسې رالنډېدای شي:

«دې غورځنګ شاوخوا شپږ کاله وړاندې خپلې هلې ځلې پیل کړې دي.
تر دې وړاندې دغه سازمان د 'محسود تحفظ مومنټ' په نوم یادېده چې منظور احمد پښتین له خپلو څو ملګرو سره په ۲۰۱۴ کې وزیرستان کې د ناامنۍ او په ځانګړې توګه له جګړو د پاتې ماینونو پر ضد جوړ کړی و.

په ۲۰۱۸ کې دغه سازمان هغه وخت خپله مبارزه یوې قبیلې نه ټول قام ته وغځوله چې په کراچۍ کې د نقیب الله مسید په نوم یو ځوان د پولیسو په توقیف ووژل شو او ترې وروسته احتجاجونه پیل شول. هغه مهال دا سازمان په لویه کچه وپېژندل او وستایل شو او له هماغه ځایه 'محسود' نه 'د پښتون ژغورنې غورځنګ' ته واوښت.

د پښتون ژغورنې غورځنګ د ډیورنډ کرښې دې غاړې ته په پښتون مېشته سیمو کې د ناوتریخوالي او جبري لادرکیو پر وړاندې او د پښتنو د بشري، سیاسي او کلتوري حقونو لپاره له تېرو شپږو کلونو راهیسې مبارزه کوي او دا جرګه هم د دې مبارزې یوه مهمه هڅه بلل کېږي.»

د دې غورځنګ غړو او لارویانو د خپلو وینو په بیه دا مبارزه اوس تر دې بریده رارسولې ده چې پاکستاني مقامات د خپلو ټولو نظامي امکاناتو سره ـ سره ورنه ډاربېږي. پښتون‌ژغورنې غورځنګ «د پښتنو د عدالت جرګه» راِغوښتې ده چې په نوې او مدرنه او سوله‌ایزه‌بڼه خپلې غوښتنې او پوښتنې د پاکستاني مقاماتو او نړیوالو تر غوږنو پورې

ورسوي، که وسلې ته لاس وروړل شي، بیا به ټولې سیمې او لا نړۍ ته د یوې بلې ستونزې ور پرانستل شي.

د پښتنو د عدالت جرګې په ترڅ کې، پر پښتنو باندې د شوو ظلمونو کوم مستند ارقام چې ښودل شوي دي، حیرانوکی او هیښونکي دي. د تاند په یوه رپوټ کې په دې باب داسې راغلي دي:

« تاند (شنبه/د میزان ۲۱مه) ـــ د خیبر په حماسي خاوره د پښتنو د لویې جرګې په سکرینونو برخه والو ته د هغو ظلمونو یو شمېر پېښې وښودل شوې چې د پاکستان پوځ د تېرو دوو لسیزو په ترڅ کې په پښتونخوا او خواوشا سیمو کې په بې دفاع پښتنو باندې کړي دي.

د جرګې غړو او برخه والو ته په سکرینونو وښودل شول چې د پاکستان د پوځ د ډالري جنګ په ترڅ کې ۷۶ زره ۵۸۴ پښتانه په بې دردۍ سره وژل شوي دي.

دغه راز په معلوماتو کې راغلي، چې ۷۵۳۸ پښتانه د چاودېدونکیو توکو ښکار ګرځېدلي او لا هم په سیمه کې د پاکستاني پوځیانو له خوا کرل شوي ماینونه پراته دي.

په دې سربېره، په زرګونو نور پښتانه چې پوځ، امنیتي ځواکونو او استخباراتي ادارو نیولي وو لا هم ورک دي او ادارې یې په هکله چاته هېڅ معلومات نه ورکوي.

د پښتنو جرګې ته وینا کې د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور احمد پښتین وویل، «دېر هغه مستندات چې ملګرو یې د تېرو درې میاشتو په ترڅ کې راټول کړي وو د پاکستان امنیتي ځواکونو د خپلو بریدونو په ترڅ کې وسوزول،»

هغه وویل، «ډېر نور مستند معلومات چې ملګرو یې په خپلو موبایلونو کې ثبت کړي وو، هغه هم امنیتي ځواکونو تخریب او موبایلونه یې ترې ضبط کړل.»

ځوورځې مخکې د پښتونژغورني غورځنګ له خوا « د پښتنو د عدالت جرګه» په خیبر نومې سیمه کې جوړه شوې وه. د پاکستاني مقاماتو له لوري ډېر خنډونه پېښ شول چې د جرګې د جوېدو مخنیوی وکړي، خو ونه‌توانېدل چې د جرګې د جوړېدو مخنیوی وکړي.

په خیبر کې د پښتنو د «قومي عدالت» جرګې په باب ښاغلي غفور لېوال د «خیبر، له خپلواکۍ تر ملي واکمنۍ» ترسرلیک لاندې یوه لنډه، خو د حساب‌وړ مقاله لیکلې ده، چې د موضوع د مهموالي په وجه یې دلته رااخلم:

«په خیبر کې د پښتنو «قومي عدالت» ستره جرګه له سختو پړاوونو په راتېرېدلو سره پیل شوه. د دې جرګې په اړه تبصرې بیخي زیاتې دي، رنګارنګ دي، اندېښني شته، هیلې شته، لوی توقعات هم شته او معقولې تمې هم. ځینې کسان تبصرې کوي، چې نه‌ښایي تمې و توقعات ډېر لوړ وساتل شي، دومره لوړ، چې که بیا هغه توقعات پوره نه شي، ښايي د خلکو ترمنځ ناهیلي خپره شي او داسې نورې ګونګوسې.

خبره دا ده، چې دا جرګه له پیلیدو سره خپلو ډېرو لوړو توقعاتو ته رسېدلې ده. د جرګې جوړېدل تر ټولو لویه ولسي تمه وه، چې وشوه او په جرئت وشوه. د جرګې جوړېدو د ډیورند کرښې هاغاړه پښتنو د خپلواکۍ څرګندونه وکړه، دوی د جرګې په پیلولو نړۍ او څارونکیو ته وښودله، چې دا ولس خپلواک دی او هغه څه کوي، چې غواړي یې. د پښتنو خپلواکي تر ټولو لویه توقع وه، چې د جرګې په جوړېدو ترلاسه شوه.

ولې وایم، چې د پښتنو خپلواکي د جرګې له جوړېدو سره تثبیت شوه؟

د پاکیستان پوځي واکمني او استخباراتو د ټولو مُلکي او پوځي ملګریو ترڅنګ خپلې ټولې هڅې وکړې، چې جرګه ونه شي. دوی د پښتونژغورنې غورځنګ یو له تر ټولو د پراخ ملاتړ خاوند مشر علي وزیر پرته له هېڅراز قانوني لاسوندي زنداني کړی دی، د جرګې څلورسوه سمونچاري ( منتظمین) یې ونیول، د جرګې سیمې ته د راتلو لارې یې بندې کړې، له هرې لارې یې ګواښونه وکړل او بالاخره یې د جرګې په درشل کې درې ورځې وړاندې جرګې ته د چمتووالي پر سیمه د پوځي تاړاک و ناتار یرغلونه پیل کړل، کوټک و ټوپک یې وکارول، ډزې یې وکړې، اوښلن ګازونه یې وکارول، نیولو او وهلو ته یې زور ورکړ، چې دا هم ونه شوه، مخامخ یې پر پښتنو ځوانانو ډزې وکړل، څلورتنه یې شهیدان او په درجنو یې ټپیان کړل، د پښتنو د پاسپورتونو او شناختکارتونو د ټرلو ګواښونه یې وکړل، خو منظور پښتین ودرېد او ویې ویل:

## دا جرګه به کوو!

ولس چې دا هرڅه څارل، راوخوځېد. په غرونو رغونو یې سلګونه کیلومتره لاره ووهله زده و زخمي په لسګونو زره خلک د جرګې ډګر ته راغلل، څه شمېر پښتنو پولیسو هم ډنډې و وسلې وغورځولې او د خپل قوم ترڅنګ ودرېدل.

پاکیستاني پوځي استبلېشمېنټ چې دا ولیدل، وډار شو او امر یې وکړ، چې په پوځ و پولیسو کې ټول پښتانه پرسونل احتیاطي ځایونو ته شاته کړۍ او د هرډول اقدام صلاحیت ترې واخلئ.

د پاکیستاني واکمنۍ شا ولړزېده او مجبور شو د پښتنو د غوسې له توپان څخه ځان بچ کړي، په روستیو شېبو کې یې د جرګې د جوړېدو لپاره جرګه وکړه او ویې غوښتل چې د فیزیکي جبهې پرځای له سیاسي و پټې جبهې کار واخلي. هڅه یې وکړه تاوتریخوالی په رواني جګړه

واړوي. که څه هم مزاحمت روان و، د جرګې لپاره پر لار تخنیکي وسایل په لاره کې ورک شول او د ډله‌ییز ترانسپورت په وسیله د راتلو لارې لا هم تړلي پاتي دي، خو د خلکو سیلاو راروان و او کله چې ټولو ولیدل، پښتانه په خپلواکۍ سره خامخا دا جرګه جوړوي، نو له خپلو دریځونو او شهرتونو وډار شول، څه شمېر سیاستځپلي او واک ته تږي تش په نامه ملتپال هم له پټنځایونو راووتل، څه له اخلاص و له درده او څه هم له ځانښوونې د جرګې په لوري راروان شول.

د پښتنې او د هغه د ملګرو استقامت یوه اسطوره شوه او په دې توګه یې د پښتنو خپلواکي تثبیت کړه، جرګه وشوه او تر هغه په شانداره، ستره او ولوله‌پاروونکې بڼه د پیل شېبو ته ورسېده، چې تصور یې کېده. له دومره خنډونو او مخنیوېو راتېرېدل او پر خپل ملي دریځ ټینګېدل، قرباني ورکول او سر په ډېره وهل د پښتنو د خپلواکۍ ثبوت دی او جرګه په دې برخه کې بریالۍ شوې ده.

اوس نو د جرګې دویمې سترې بریا ته سترګې دي، چې هغه د دغې خپلواکۍ ساتنه ده. ټول په دې پوهیږو، چې د خپلواکۍ ساتل د یوې ملي واکمنۍ تر مشرۍ لاندې په یوه خپلواکه سیاسي جغرافیا کې ممکنه ده. تر ډیورند کرښې پورې‌غاړه پښتانه که غواړي، چې خپله دغه ترلاسه کړې خپلواکي وساتي، د دوښمن له راروانو کساتونو خلاص شي او له مرګونو، ترهګرو ډلو، روسته پاتې والي، د اقتصادي سرچینو له چورتالان، د فرهنګ و ژبې له مسخې و فسخې، د پردیو خونړیو وسله والو له شره او د پنجاب له پوځي یرغلونو وژغورل شي، باید هم خپله سیاسي جغرافیا ولري او هم خپله ملي واکمني. اوس نو جرګې ته سترګې دي، چې د دغو دوو اړتیاو په راخپلولو کې به څه پرېکړه کوي.

موږ ټول پوهیږو، چې دا په یوه ورځ او یوه جرګه کې نه شي ترلاسه کېدلای. هر سلیم عقل په دې پوهېدلای شي، چې خپلواکه سیاسي

جغرافیا او خپله ملي واکمني همدا سبا بله ورځ نه کرل کېدلای شي او نه يې هم رېبل کېدلای.
خو باور داسې دی، چې دا جرګه به د دغو دوو لويو ملي موخو په لور د مزله د پيل او  د يوه رانه ليدلوري و تګلوري افق خامخا پرانيزي.

په دې جرګه کې به هرومرو ولسي مشران او مخور دې پايلې ته رسيږي، چې د خپل واک او اختيار د ساتنې او د پښتنو د ژوند ژغورنې لپاره نور نو له پنجاب سره په يوه لار تلل ناشوني دي.  پښتانه اوس پوهېدلي دي، چې د دوی ژوند و ژواک د انګريز له ښکېلاک څخه راپه دېخوا هماغسې د غلامۍ او بلواکۍ تر توري تيارې لاندې ورنه لوټل کيږي، چې سل کاله پخوا ورنه لوټل کېده. ښکېلاک ښکېلاک دی، څه د انګريز او څه د پنجاب. کيسه هماغه ده. د پښتانه انساني ځواک او جغرافيا دواړه زبېښل کيږي.

د پاکيستاني ښکېلاک له خوا پښتانه په دريو ډلو وژل کيږي:

۱- له سرې جګړې څخه راپاتې پاکيستاني او نړيوال ترهګرې ډلې، چې په ايډيولوژيک فشار يې د پښتنو په سيمه کې ځای پرځای کړې دي، القاعده، داعش او د عربو، چين، چيچين او منځنۍ اسيا ډلې يې بېلګې دي.

۲- د هغو ۶۰۰۰۰ مدرسو او معهدونو په تاوتريخجنو توليداتو چې په تېرو څلويښتو کلونو کې د نړيوالو استخباراتو له خوا په سيمه کې راټولې شوې دي او غواړي له پښتنو څخه د غوښنو جنګي ماشين جوړ او بيا يې د لويو ځواکونو او سيمه ييزو سيالانو ترمنځ د نيابتي ډلو په توګه سره وجنګوي. چې د ګوډ و بېډ طالبانو ډلې (TTP) او د شيعه و سني پښتنو جګړې يې بېلګې دي.

۳- د ترهګرو ډلو په پلمه د پوځ د یرغلونو او عملیاتو په پایله کې د ښننده نیواک هغه څپې چې له ۲۰۰۲ کال را په دېخوا یې د پښتنو ۸۰۰۰۰ وګړي ورووژل او دغه سیمه یې له هره اړخه تباه کړه.

له دې ټولو څخه د خلاصون یوازینۍ لاره بشپړه سیاسي، فرهنګي، جغرافیایي او اقتصادي خپلواکي ده. پښتانه د ځانژغورنې په پار په دې محکوم دي، چې ځان له هره اړخه خپلواک کړي. پښتانه د قصاب له ساتور څخه د رحم غوښتنه کړلای نهشي.

اصلي کیسه دا ده، چې ټول افغانستان د دغې لوبې قرباني دی. هغوی چې وایي د دې غاړې نیمګړي افغانستان د خلکو یې په دې کیسه څه؟ نو بیخي څرګنده ده، چې د لوبې له تاریخي ماهیت څخه خبر نه دي. د ډیورند د کرغېړنې کرښې د راکښلو او بیا د دغې کرښې هاغاړه پښتنو په سیمه کې د ترهګرو ځالو د ځای پرځای کولو منطق همدا دی، چې افغانستان هم د پاکیستاني پوځ تر ستوني تېر کړي. دغه پښتانه د افغانستان د لاندې کولو لپاره د ستراتیژیک عمق د پالیسۍ قربانیان دي، ځکه خو د دوی د ځانژغورنې هڅه په حقیقت کې د افغانستان د ژغورلو هڅه هم ده.

په دې توګه باید ټول افغانان د پښتونژغورنې د غورځنګ او د هغه د ځوانو مبارزانو د احسان پوروړي وي، چې د دغې یوه پېړۍ زوړ زاولن زخم رغولو ته یې ملا تړلې ده.

جرګه خپلو موخو ته همدا اوس لا رسېدلې ده، د نړۍ تر یو سلو دېرشو ډېر معتبر اژانسونه جرګې ته راځي او هلته به پر سکرین د هغو ناروا وو او ظلمونو مستندات ګوري، چې په دې خلکو او سیمه شوي دي. په دې توګه به په نړیوال کچ د پښتنو راتلونکې مبارزه مشروعیت مومي او بالاخره به له خپلواکۍ تر ملي واکمنۍ دغه مزل په پوره ځواک او قوت سره راپیلیږي.

همدا ده د ټول افغان د ژغورنې لاره.

مګر خوشال بابا نه و ویلي، چې:

**بله هیڅ لیدلی نه‌شي په دا منځ کې
یا مغل له ملکه ورک یا پښتون خوار»**

د پښتون‌ژغورنې غورځنګ له خوا په خیبر کې د لویې جرګې د جوړلېدلو مسأله هم په پښتو لنډیو کې راڅرګنده شوې ده. پښتو لنډۍ داسې هنداره ده چې په هغې کې هرڅوک او هرډول روان حالات لیدل کېدای شي، په ټولنه او خلکو کې چې هرڅه روان وي، د پښتو لنډیو په هنداره کې په شفاف او رڼه بڼه راڅرګندیږي او د پښتو لنډیو په ستره خزانه کې خوندي کېږي.

د خیبر په جرګه کې د پښتون‌قوم پر برخلیک باندې خبرې کېږي، هوډونه به کېږي او... که داځل میدان بایلول شو، بیا نو ګوره چې کله به داسې چانس پښتنونه برابرېږي. دا په اوسنۍ زمانه کې یوه لویه سیاسي تولنیزه مسأله ده، همدې پېښو او کړنو ته هم لنډیو په خپلې پراخې لمنې کې ځای ورکړی او هرڅه د لنډیو په هنداره کې په هنري بڼه انځور شوې دی. دا څو ورځې مې د یادې جرګې په باب د شعارونو، احساساتي خبرو، پخو او ناپخو سیاسي لیکنو او میډیاي مبارزو په ترڅ کې د پښتون‌ژغورنې د نهضت او خیبر جرګې په باب یو شمېر لنډۍ راټولې کړې دي.



*****

نعمان دوست د ليکوالۍ ځانګړی سبک لري، تل يې نويو مسايلو ته پام وراوړي، هغه د خپلو تجاربو په تله کې تلي، د خپل ځانګړي سبک په هنري رنګ يې رنګوي او بيا د خپل فکر مالګه ـ مرچ ـ مساله وراضافه کوي او د يوې مقالې يا نوي شعر په بڼه يې خپلو مخاطبينو ته وړاندې کوي.

لنډه موده پخوا يې (۲۰۲۴/۰۹/۲۶) د لنډيو په باب څو نوې خبرې سره پيلې وې، «د لنډيو کمال» ترسرليک لاندې يې په لنډيو کې د نيوکو يوې برخې ته هنرمندانه اشاره کړې ده او يوه نيمه لنډۍ يې هم د خپلو خبرو د ثبوت له پاره رااخيستې.

زه چې د نویو لنډیو د راټولولو ترڅنګ، د لنډیو په باب یوه نیمه نوې لیکنه هم رااخلم او له خپلو ځانګړو تبصرو سره یې خپروم، نو مې اړینه وګڼله چې د ښاغلي نعمان دوست مقاله هم د لنډیو په باب د نویو خبرو د درلودلو په وجه، له ده نه په مننې سره، دلته راخوندي کړم:«

## د لنډیو کمال

ښغه نیوکه ستوغه وي؛ ځکه خو یې په اوریدو خلک د هوش په ځای جوش ته ځي او احساساتي کیږي؛ خو که همدې ستوغې نیوکې سره د طنز مساله ګډه شي؛ نو ترسکونه شي او خپل تاثیر خور کړي.

د پښتو په بې بدیله پانګه لنډیو کې ځینې جدي نیوکې په داسې انداز شوي چې خلک یې د ویناوالې طنزي ظرافت او مهارت ته ګوته په غاښ شي. په دغسې لنډیو کې ویناوالې خپلې نیوکې په داسې حکمت سره کوي چې مقابل لوري سره د ضدیت لرلو ګومان پرې نه کیږي.

وګورئ؛ زموږ په ټولنه کې د خواښې او نږور ترمنځ رقابت، تربګني او جنجال یوه مهمه موضوع ده. البته دا یوازې زموږ د ټولنې خاصه نه ده؛ په ګڼو دودیزو ټولنو کې دا ستونزه قابل درک ده. د بیلګې په توګه، هندوستان خو په دې جنجال بیخي یو اوږد سریال ( کیو کی ساس بهی کبهی بهوتی) جوړ کړی دی. یعنې: یو وخت خواښې هم نږور وه. دغه جنجال عموما د اقتدار د ساتنې له کړیوانه سر پورته کوي. اقتدار که په هره کچه وي، لرل او بیا یې ساتل یو جنون دی، یوه نشه ده او دا جنون او نشه چې څومره په لوړه کچه وي، هومره خطرناکه وي.

په ډیری کورنیو کې چې کله یوه میرمن خواښې شي، نو ور سره جوخت یې دا فکر په سر کې ریښې وځغلوي چې په کور کې یې د قدرت شریکه پیدا شوه او له دې سره یې داسې احساس زړه ته لاره وکړي چې ګوندې د مطلقه اقتدار ستنې یې په جړقیدو دي؛ نو بیا یې د مخنیوي لپاره ټول وخت په داسې ستراتیژیو جوړولو تیروي چې څنګه

مقابل لورى (نر.ور) په خپله قبضه کې وساتي، ښنګه يې د حق او واک غوښتنې روحيه وځپي او ښنګه يې ځان ته سل سلنه تابع کړي. د دې لپاره له ګڼو لارو او وسيلو کار اخلي، کله ورته د محروميت احساس ورکوي، کله يې د ناکامه ښودلو هڅه کوي، کله يې توهينوي او کله خو خبره آن تر شکنجې ورسيږي. ټول کوښښ يې دا وي چې ښنګه ټول واک په خپلو منګولو کې وساتي.

په ځينو پښتو لنډيو کې چې اصلاً، د نا معلومو ښځينه ويناوالو د زړه اصلي غږ دی، دغه حالت په ډير ښه او ماهرانه انداز پورته شوی دی. د خپل مظلوميت او محروميت روښانه تصوير يې په داسې ښايسته رنګونو نقاشي کړی چې له خوابنې سره د مستقيمې دښمنۍ ګومان پرې نه کيږي.

د بيلګې په توګه: په دغه لنډۍ کې يوې نر.ور د خپل محروميت ځومره رنځ او ژوره عکاسي کړې ده، د داسې محروميت چې حتا د خوابنې له اجازې پرته د تيکلې (ډوډۍ) خوړلو واک هم نه لري. خو همدا خبره يې په داسې انداز کړې چې په ښکاره له خوابنې سره مخالفت ترې نه محسوسيږي:

**قربان قربان د دادا کوره**
**له ډکه شکوره به چاپيره تاويدمه**

په خپلو منګولو کې د واک ساتنې لپاره، ځينې خوابنې ګانې هڅه کوي چې د زامنو د ميرمنو د هر کار تفتيش وکړي او په دې توګه غواړي چې هغوی له واک موندلو محرومه وساتي، له هغوی ښځه په خپل نوي کور کې د مالکيت احساس واخلي او تل د دې د يوې مزدورۍ او خادمې په توګه ژوند وکړي.

وګورئ، په لاندې لنډۍ کې يوه نر.ور د خپلې خوابنې بدګومانه تفتيش تشريح کوي او ښيي چې دومره ځارنې لاندې ده چې حتی ډوډۍ هم

بايد د هغې د شمارلو تر پروسې لاندې تيرې شي او په خپل سر نشي کولای کومه ډوډۍ اضافه پخه کړي؛ خو همدا خبره هم په داسې انداز کوي چې ظاهرا ترې د شکايت بوی نه لتيږي:

**خوابښې مې ښهٔ ده بده نهٔ ده**
**پهٔ تناره کې سر منډي ډوډۍ شمارينه**

د دومره نظارت، تفتيش او د واک له انحصار سره سره، بيا هم د ځينو خوابښو زړونه نه سړيږي، د رقابت تنده يې نه ماتيږي او پر خپلو نږورګانو هيڅ لورينه نه لري. هيڅ يې نه پيرزو کيږي چې نږور يې حتا ښه خواړه وخوري.

يوه نږور د خپلې خوابښې همدا عادت بيانوي؛ خو په داسې ژبه چې نه پرې د شکايت او ګيلې ګومان کيږي او نه له خپلې خوابښې سره د دښمنۍ. يو عجيبه او فوق العاده طنز پکې پروت دی:

**خوابښې مې ښه ده بده نه ده**
**چې چرګ حلال کړي ما د پلار کره ليږينه**

د پښتو ژبې غنې پانګه ( لنډۍ) د پښتني ټولنې د کلتور رڼه هنداره ده. په دې کې زموږ د دود دستور، عاداتو، باورونو او... ژوره عکاسي شوې ده. په دقت لوستل يې موږ ته يوه داسې شفافه هنداره مخې ته ږدي چې په اسانه پکې خپله ننداره کولای شوو او په اسانه درک کولای شو چې کومه ښه مو ښه او کومه مو ناوړه ده.»

*****

# د لنډيو په باب د پوهاند محمدحسن ضمير ساپى په قلم

## يوه پخوانۍ ليکل شوې مقاله

## (لنډۍ يا نخستين و مهمترين ممثل و معرف کلتور ملی ما در جهان ادب)

## لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۲۹۴مه برخه

د «لنډۍ او د ثبتولو ستونزه» ترسرليک لاندې چې ما د نويو او جالبو لنډيو د راټولولو کومه کار کلونه پخوا پيل کړی و، د دې پروژې په ترڅ کې مې د لنډيو د چاپ شوو او نورو ژبو ته ژباړل شوې ټولګې هم معرفي کړې دي او د دې تر څنګ مې د لنډيو په باب چې چا کومې مقالې ليکلې دي، هغه مې هم د خپل بحث برخه ګرځولې ده او که ډېره اړينه راته برېښېدلې ده، نو د پټې او ماخذ په ښودلو سره مې راخوندي کړې دي.

نن (۲۰۲۴/۱۰/۲۶) مې په فيسبوک کې د **«Benawa Abdul Rauf»** په نامه يوه فيسبوکپاڼه کې، د لنډيو په باب يو ډېر پخوانی ليکل شوی مضمون ترسترګو شو، هلته په پيل کې داسې ليکل شوي وو:

«خلاصه ای از مضمون:
لنډۍ يا نخستين و مهمترين ممثل و معرف کلتور ملی ما در جهان ادب
نويسنده: محترم محمد حسن ضمير ساپی
د موضوع لنډيز:
لنډۍ يا د ادب په نړۍ کې زموږ د ملي کلتور لومړنی او مهم استازی

لیکوال: محترم محمد حسن ضمير ساپی»

یاد مضمون مې لوست خوند مې ورنه واخیست او د لنډیو په باب مې نوي ټکي په کې ولیدل. دا مضمون د ښاغلي‌استاد پوهاند محمدحسن ضمير ساپي په قلم لیکل شوی دی او کلونه پخوا په کابل مجله کې خپور شوی دی. مضمون ښه اوږد دی او **«Benawa Abdul Rauf»** فیسبوکپاڼې د عکس په بڼه خپور کړی دی.

زه دلته په لنډ ډول لومړی د پښتو لنډیو په باب د دې مضمون د لیکوال ښاغلي محمدحسن ضمير ساپي لنډه بیوګرافي رااخلم او بیا د یاد مضمون بشپړ هغه متن راخوندي کوم چې بېنوا فیسبوکپاڼې د عکس په ډول خپور کړی دی:

**محمد حسن ضمير ساپي څوک و:**

زه فکر کوم چې د ښاغلي محمد حسن ضمير ساپي بیوګرافي ترټولو مخکې استاد عبدالروف بېنوا په اوسني لیکوال کې خوندي کړې ده. دلته به د بېنوا صاحب له اوسني لیکوال څخه د ښاغلي محمد حسن ضمير ساپي لنډه بیوګرافي راواخلم:

«ښاغلی محمدحسن ساپی د عبدالظاهر زوی په خټه ساپی د اوسنیو زلمیو لیکوالو څخه دئ، چې په پښتو ژبه روان نثر لیکي او کله کله هم په نظم کې خپل خیالات څرګندوي، خو دا خیالات یې زیاتره پښتني او قومي رنګ لري.

ښاغلی ساپی په ۱۳۰۶ هـ ش کال د ننګرهار ولایت د لغمان د علي‌خیلو په کلي کې زېږېدلی دئ، لومړني علمي تحصیلات یې د لغمان د (تیرګړیو) په ښونځي کې شروع کړل او بیا یې د غازي په لیسه او د هرات په لومړي ښوونځي کې پای‌ته رسولي دي.

منځني تحصيلات يې د کابل له متوسطه دارالمعلمين او لوړ تحصيلات يې د کابل‌پوهنتون د ادبياتو په پوهنځي کې بشپړ کړي دي او وروسته تر هغه چې يې د (سلطان شهاب‌الدين غوري) تر عنوان لاندې خپل مونوګراف په پښتو وليکه، په ۱۳۳۴ هـ ش د نوموړي پوهنځي د تاريخ او جغرافيې له انستيتيوت څخه د ليسانس په اخستلو بريالی سو.

په ۱۳۳۵ هـ ش کال په پښتو ټولنه کې د تاريخ او ادبياتو د څانګې د مدير په حيث مقرر سو او په ۱۳۳۸ هـ ش کال د (څېړنيار) علمي درجې ته ورسېد.

له ۱۳۳۷ هـ ش کال څخه يې د ليکوالۍ په ډګر کې پل ايښی دی او تر نن پورې يې په پښتو يو زيات شمېر منثور او منظوم مضامين ليکلي چې د هيواد په مطبوعاتو په تېره بيا په (کابل) مجله کې خپاره سوي دي...»

(بېنوا عبدالروف، اوسني ليکوال (بشپړمتن)، ترتيب او زياتونې: مطيع‌الله روهيال، علامه رشاد خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۸ش ــ ۲۰۰۹ع کلونه، ۵۸۷ مخ.)

دغه راز په ويکيپيديا کې د دوو ماخذونو:

1. http://www.h-obaidi.com/afghanasamai-obaidi.com-ausgabe10/Sapi-biography.htm
2. http://database-aryana-encyclopaedia.blogspot.com/2010/08/blog-post_06.html

په حواله د بناغلي محمدحسن ساپی بيوګرافي راوړل شوې ده چې متن يې دا دی:«

محمد حسن ضمير ساپی (زوکړه ۱۳۰۸ لېږديز لمريز کال د لغمان ولايت)-مړينه د ۱۳۸۷ ل ل کال د مرغومي لومړۍ) د افغانستان يو پښتو ژبی ليکوال، د ادب او تاريخ په څانگه کې يو نوميالی پوهاند وو.

**زده کړې:**

پوهاند محمد حسن ضمير ساپی د عبدالظاهر ساپي زوی، د حاجي ميرزا محمد مکمل اخوندزاده لمسی په ۱۳۰۸ لېږديز لمريز کال کې د لغمان ولايت د علي خېلو په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې په خپل کلي کې سرته ورسولې او په۱۳۳۰ لمريز کال د کابل له عالي دارالمعلمين څخه فارغ شو. هغه تر دې کچې په زده کړو بسنه ونه کړه او خپلو زده کړو ته يې د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو د پوهنځي د تاريخ او جغرافيې په څانگه کې دوام ورکړ او په ۱۳۳۴ لمريز کال له دغه پوهنځي څخه د ليسانس په درجې سره فارغ شو. پوهاند ضمير ساپي د امريکې د متحدو ايالتونو په هاروارد او جورج ټاون پوهنتونونو او بيا د هند هېواد په عليگړ پوهنتون کې لوړې زده کړې وکړې.

نوموړي هغه مهال چې په متحده ايالاتو کې زده کړې کولې، په ويتنام کې د امريکا جگړه روانه وه. هغه په يوه مقاله کې دغه جگړه وغندله او د يوه ځوان افغان محصل په توگه يې د خپل ويښ ضمير په حکم له دغې جگړې سره خپل مخالفت څرگند کړ، چې د امريکايي چارواکيو له سخت غبرگون سره مخامخ شو.

**دندې:**

پوهاند ضمير بېرته خپل هېواد ته راستون شو او د خپلو خلکو چوپړ ته يې ملا وتړله. هغه د ۱۳۳۵ لمريز کال په وري مياشت کې د کابل ښار د دارالامان په ښوونځي کې د ښوونکي سپېڅلې دنده پيل کړه او د هېواد د بچيانو په ښوونه او روزنه بوخت شو. استاد ضمير ساپي د ښوونځي

له دورې څخه له لوستلو او لیکلو سره ځانګړې مینه درلوده. هغه مهال يې شعر يې وايه، مقالې يې ليکلې او د هېواد په ډله ييزو رسنيو کې يې خپرولې.

هغه په ۱۳۳۶ لمريز کال د پښتو ټولنې د ادبياتو د څانګې د مدير په حيث وګومارل شو، چې خپل ټول فکري توان او علمي استعداد يې د پښتو ادبياتو د غوړېدو او سمسورتيا چارې ته ځانګړی کړ.
پوهاند ضمير په ۱۳۴۱ لمريز کال کې د ادبياتو او بشري علومو په پوهنځي کې د استاد په توګه په کار پيل وکړ چې وروسته بيا په ۱۳۵۷ ل ل کال کې د همدغې پوهنځی رييس شو. په ۱۳۵۹ ل ل کال کې، هغه مهال کله چې شوروي پوځ پر افغانستان يرغل کړی وو، پوهاند ضمير په دې اړه هم انتقادي دريځ غوره کړ، پټ او ښکاره يې ددغه يرغل غندنه وکړه او د هغه وخت له سياسي او ټولنيزو ناخوالو سره يې څرګند مخالفت کاوه.

رښتيا هم خنګه کېدای شو، هغه چا چې يو وخت په ويتنام کې د امريکې جګړه غندله او خپل تحصيلي امتيازونه يې له خطر سره مخامخ کول، اوس په خپل هېواد کې د پرديو لښکرو شتون وزغمي او پټه خوله پاتې شي؟ له همدې کبله وو چې غوره يې وبلله رياست پرېږدي او بېرته بيا په کابل پوهنتون کې داستادۍ سپېڅلې دنده پرمخ بوځي او له دې لارې خپل هېواد او هېوادوالو ته خدمت وکړي.

پوهاند ضمير سايې لا تنکی ځلمی وو چې له سياست او سياسي مبارزې سره آشنا شو. هغه د خپل رنځېدلي ولس درد احساس کړ او د خپل ويښ وجدان په حکم له ټولنيزو ناخوالو او بې عدالتيو سره د مبارزې په مقصد د هېواد د بادرده او منورو ځوانانو له هېوادپال غورځنګ سره يو ځای شو. هغه د ويښ ځلميانو له غورځنګ سره ملګری شو او تر پايه نه يوازې ددغه غورځنګ ارمانونو ته ژمن پاتې شو. بلکې د ويښ ځلميانو په روښنګرانه فعاليتونو کې يې هراړخيزه ونډه واخيسته.

استاد ضمیر ساپي د خپل ژوند په اوږدو کې هېڅکله هم د زور او زرو په وړاندې سر ټیټ نه کړ او تل یې په سیاسي او ټولنیزو مسایلو کې خپلواک او مستقل دریځ درلود. هغه هېڅکله هم سپین ته تور او تور ته سپین و نه ویل او د مقام او څوکۍ د لاس ته راوړلو لپاره یې د خپلې عقیدې او ارادې پر خلاف ګام وانه خیست. هغه د پوهنې په ډګر کې په لویه مینه او لېوالتیا کار کاوه او په علمي او څېړنیزو کارونو کې هېڅکله هم نه ستړی کېده.

پوهاند ساپي په کابل پوهنتون کې د استاد په حیث په زرګونو شاګردان وروزل او د هېواد د ډېرو ځوانانو په زړونو کې د پوهې، معرفت او هېوادپالنې ډیوې بلې کړې. ده نه یوازې پخپله سترې علمي او څېړنیزې پروژې پرمخ بوتلې، بلکې د تاریخ څانګې د ډېرو څېړونکو لارښود هم وو.

د اروابناد پوهاند ضمیر ساپي تر ۲۰۰ زیاتې مقالې، شعرونه،مرکې، علمي او څېړنیزې لیکنې په هېواد کې دننه او له هېواده بهر په بېلابېلو ژبو او رسنیو کې خپرې شوې دي. اروابناد ساپي په لسګونو ملي، سیمه ایزو او نړیوالو سیمینارونو او کنفرانسونو کې ګډون کړی او خپلې علمي لیکنې او مقالې یې پکې لوستلې دي.

په شپېتمو زیږدي کلونو کې، هغه مهال چې پوهاند ضمیر د افغانستان د علومو اکادیمۍ د تاریخ څانګې مشر وو، د کوشانیانو د دورې د هنر او تمدن په برخه کې ارزښتناکې څېړنې وکړې. همدا راز هغه مهال چې یونسکو د منځنۍ آسیا د هنر او تمدن پر تاریخ څېړنې کولې، استاد ضمیر ساپی یې د پروژې مشر وټاکه. هغه سر بېره پردې چې په کابل کې یې په دې اړه څېړنې کولې او د کوشانیانو د تاریخ کتاب یې ولیکه، هر کال به یې یو ځل پاریس ته سفر کاوه او هلته یې د نوموړي کتاب د سمون چارې پر مخ بیولې.

استاد ضمیر اووه اولادونه درلودل چې یو یې د هیواد او هیوادوالو د هوسایي او سوکالۍ په لاره کې قربان کړ. دی په کورنۍ کې د خپلې مېرمنې صمیمي ملګرې، د خپلو اولادونو مهربان پلار او د دوستانو غمخور دوست او د کار او تدریس په ساحه کې یو زړه سواند او کره همکار او لارښود وو. له ده نه چا ترخه خبره نه ده اورېدلې.

ده له خپل هېواد سره بې سارې مینه درلوده، له هېواده لیرې والی یې نه شو زغملای، نو ځکه د امکان تر وروستي بریده پورې بهر ته لاړ نه شو او چې لومړنی امکان ورته مساعد شو، نو بې په بهر کې له خپلو اولادونو او کورنۍ سره ګډ ژوند ته د هېواد د مور په غېږه کې مړینې ته ترجیح ورکړه او هېواد ته راستون شو.

**مړینه:**

استاد محمد حسن ضمیر ساپی، چې د افغانستان یو له نومیالیو ملي، پوهنیزو او ادبي شخصیتونو څخه وو، د د ۱۳۸۷ ل ل کال د مرغوني په لومړۍ، د یکشنبې پر ورځ (د ۲۰۰۸ ز کال د دیسمبر پر ۲۱) د ۷۹ کالو په عمر په حق ورسېد. د هغه جنازه د همدغه کال د سې شنبې پر ورځ د مرغومي پر ۳ له ډيلي څخه کابل ته ولېږدول شوه او د لغمان ولایت د علي خېلو په کلي کې پخپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

**لیکلي آثار:**

څرګنده ده چې په دغه لنډ یادښت کې د ارواښاد پوهاند ضمیر ساپي د ټولو علمي او تحقیقی هستونو یادول ناشونی کار دی، ځکه ده تر اویاوو (۷۰) زیات کتابونه لیکلي، ترجمه کړي او یا یې تدوین کړي دي. موږ دلته یوازې د ځینو آثارو لنډه یادونه کوو:

1. د تاریخ په باره کې، پښتو ټولنه، د ۱۳۳۷ ل ل کال چاپ.

2. نظري بر مبادی تاريخ، کابل، چې د عبدالحی گرديزي جايزه يې گټلې ده.
3. هند در تحت تسلط کوشانيان، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د ۱۳۵۷ ل ل کال چاپ.
4. د کابل صوبه له ۱۵ نه تر ۱۷ پيړۍ پورې، د علومو اکادمۍ، د ۱۹۸۷ ز کال چاپ.
5. کندهار له ۱۵ تر ۱۷ پيړۍ پورې، د علومو اکادمي، د ۱۹۸۷ ز کال چاپ.
6. د کوشانيانو هنر او تمدن، د افغانستان د علومو اکادېمي، د ۱۳۶۱ ل ل کال چاپ.
7. د کوشانيانو د هنر او تمدن البوم، په انگليسي ژبه، د يونسکو چاپ.
8. په هندوستان کې د افغانانو تاريخ، کابل پوهنتون، د ۱۳۶۳ ل ل کال چاپ.
9. د يونسکو د منځنۍ اسيا د هنر او تمدن د البوم د اديتور په توگه.
10. د پښتو ادبياتو تاريخ، دوهم ټوک، کابل، د اهتمام په برخه کې.
11. پښتني سندرې، دوهم ټوک د ۱۳۳۷ کال، کابل، د اهتمام په برخه کې.
12. پښتني دودونه، ۱۳۳۷ کال، کابل، د اهتمام په برخه کې.
13. د ملنگ جان خوږې نغمې، ۱۳۳۵ کال، د اهتمام په برخه کې.
14. لودي پښتانه، ۱۳۳۶ کال، د اهتمام په برخه کې.
15. پښتو متلونه، د تدوين او اهتمام په برخه کې.»

دا هم د لنډيو په باب د ښاغلي محمدحسن ساپی د مقالي (لنډی يا نخستين و مهمترين ممثل و معرف کلتور ملی ما در جهان ادب) بشپړ متن چې **«Benawa Abdul Rauf»** فيسبوکپاڼې د عکس په بڼه خپور کړی دی:

محمد حسن «ضمیر ساپی»

# لنډۍ یا نخستین و مهمترین ممثل

## ومعرف کلتور ملی ما
## درجهان ادب

KB
@ Benawa Abdul Rauf
Facebook Page

درضمن وسائلیکه آنترو پولو جست ها (مردم شناسان) درراه حصول مطلوب خود ازآن کار میگیرند یکی هم ادب ملی ومحلی است.

واقعاً اگرقدری ملتفت شویم ازخلال مطالعه ادبیات ملی ومحلی یک جمعیت بشری بخوبی میتوانیم بفهمیم که عرف وعادات، رسوم وعنعنات آنها چیست؟

طرز تفکر وساختمان فکری ومعتقدات شان چطور است؟

وروبهمرفته شعور اجتماعی، طرز زندگانی وبالاخره بحیث عمومی کلتور شان بکدام سویه انکشاف کرده است؟

لنډۍ یکی از شعبات برجستهء ادب ملی ما هم یکی ازهمان وسائلی است که انتروپولوجستها میبایست بمنظور حصول مقصود خود با آن متوسل شوند وتوسط آن بدانند که قوم افغان کیست وچیست؟!

اکنون می آییم باصل موضوع که لنډۍ چیست وچگونه درجهان ادب ملی مهمترین ونخستین ممثل ومعرف کلتور ملی ما شده میتواند؟!

لنډۍ نوعی از اشعار پښتو است، سبک مخصوصی دارد وخوشتر از همه که دنیای موسیقی پښتو را با آهنگهای مختلف ومتعددی رنگین ساخته است ونه تنها درآسمان ادب ملی ما ستارهء درخشانی است بلکه درادب کلاسیک پښتو نیز مقام ارجمندی دارد. بدین معنی: چون لسان ملی ما پښتو یکی از السنهء خیلی قدیم آریائی است؛ وعروض وبحور السنهء آریائی باعروض وبحور السنهء سامی یکی نیست لذا نباید لنډۍ رادراوزان وبحور عربی سراغ

کنیم بلکه لنډۍ درچوکات عروض آریانی دارای قاعده وقانون و سلیبلهای معین ومقرری میباشد اعنی : درلنډۍ حتمی است که نیم بیت اول آن نه سلیبل ونیم بیت دوم آن سیزده سلیبل داشته باشد چون این بیتی ازلنډۍ :

مخ دې لهٔ ګل سره سیالي کړی ګلاب شر میږی مخ پهٔ ډانو پټوینهٔ

اینک تعداد سلیبل نیم بیت اول :

| ۱ | ۲ | ۳ | ٤ | ٥ | ٦ | ۷ | ۸ | ۹ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مخ، | دی، | له، | ګل، | سر، | ره، | سیا، | لی، | کړی |

وتعداد سلیبل نیم بیت دوم :

| ۱ | ۲ | ۳ | ٤ | ٥ | ٦ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګل، | اب، | شر، | مي، | ږی، | مخ، | به، | پا، | نو، | به، | ته، | وی | نه |

بدین ترتیب هربیتی از لنډۍ را اگرمورد تدقیق قراردهیم ؛ بالضرور نیم بیت اول آن دارای ۹ سلیبل ونیم بیت دوم آن حاوی ۱۳ سلیبل خواهد بود . درصورت تخطی وتجاوز ازین مقررات نمیتوان هرکلام را لنډۍ دانست لذا با داشتن چنان قوانین ومقررات لنډۍ را میتوان درادب کلاسیک مقام ارجمندی قائل شد . گفتیم لنډۍ دنیای موسیقی پښتو را رنگین ومرغوب ساخته است بدین معنی : با وجود آنکه تاکنون تصنیف کمپوز های موسیقی ازراه اساسی وعلمی خصوصاً برای موسیقی پښتو صورت نگرفته است ، ولی بازهم استعداد فطری وکمال ذاتی موسیقی نوازان وسائر علاقمندان پښتو ازیکطرف وخاصیت ارتجاعی وقابل تطبیق لنډۍ ازجانب دیگر موجب شد که موسیقی پښتو کمپوز های متعدد ومرغوبی داشته باشدو تنها امروز تقریباً (شصت ودو) کمپوز مختلف با آهنگهای دلفریب وبالحن های ملائم وروح نواز بمحور همین لنډۍ میچرخد وبه ملیونها نفوس پښتون را محظوظ ومتلذذ ودلشاد ساخته است .

KB @ Benawa Abdul Rauf Facebook Page

دراینجا بد نیست اگرخاطر نشان کنیم که لنډۍ کی وچگونه بمیان آمد ؟

گرچه درین زمینه معلومات موثوق بدست آمده نمیتواند وراجع بتاریخ ادب ملی هرملت اگرکسی چیزی مینویسد ویا تاکنون نوشته اند تقریبی وتخمینی خواهد بود ، زیرا همینطور که هیچکس تا حال نتوانسته است مطلق بگوید : درفلان سال بشر بحرف زدن شروع کرد بدین منوال نیز کسی موفق نشده است که درثبت تاریخ ادب ملی ازتقریب وتخمین بی نیاز باشدکه ما نیز در اینجا بقیاس وتخمین درموضوع تاریخ شروع لنډۍ خودرانیازمند میدانیم .

KB
@ Benawa Abdul Rauf
Facebook Page

وبدین ملحوظ چنین قیاس میکنیم :

چون ادب کلاسیک مرحلهء دوم وحالت تکاملی ادب ملی است .

وما اکنون درادب کلاسیک پشتو اشعار نغز وبلندبالای امیرکروړ جهان پهلوان که ازهزارو دوصدسال قبل گفته شده است بدست داریم وچون اشعار ممدوح الیه از نگاه محاسن وصنایع لفظی واز پهلوی روانی طبع وسادگی بیان کاملتر وخیلی هم استادانه است ، لذا میتوانیم چنین استنباط کنیم که لنډۍ بایست صدها سال قبلتر از آن بمیان آمده باشد .

بفحوای اینکه « صد سال بباید تاپخته شود خامی » چون گفتیم ادب کلاسیک مرحلهء دوم وحالت تکاملی ادب ملی است.

لذا برای اینکه ادب ملی بمیان آید صد ها سال میباید انتظار کشید وحینیکه ادب ملی بمیان آمد؛ صدها سال میباید منتظر بود تاادب ملی پخته شده وبه ادب کلاسیک مبدل گردد . وصدهاسال دیگر باید انتظار کشید تاادب کلاسیک پخته شده واشعار نغز وبلیغ وفصیح امیر کروړ جهان پهلوان بمیان آید پس میتوانیم چنین قیاس کنیم که حد اقل تاریخ شروع لنډۍ از (۱۵۰۰) الی ۲۵۰۰ سال قبل از امروز بوده است.

دراینجا برای اثبات قول خود لازم بود یک بیتی از لنډۍ که از حیات افغانهای یک ونیم هزارسال قبل ترجمانی وحکایت کرده بتواند ؛ میآوردم ولی موفق نشدم . وعلت آن این است : که لسان وطرز حیات وروحیه وکلتور افغانهائیکه قبل از یکنیم هزارسال حیات بسر میبردند تاکنون کمتر دستخوش تغیر وتحول شده است وبهزاران لنډۍ هائیکه امروز دربین مردم مازبان زد این وآن است اکثراً از حیات افغانهای امروزی ویکنیم هزارسال قبل حتی از آن هم بیشتر حکایه وترجمانی میکند مثلاً این دولنډۍ .

مازیگر پیغلې بنی آغلی منګې په ولو د ګدر غاړې ته ځینه

یاسبابه بیا کډې باربږي د شا لیلا لمن به د بنتې بو یونه

بزعم من حکم مطلق را جع بتعین سن لنډۍ های فوق الذکر خالی از شک وتردید نخواهد بود؛ زیرا چگونه ممکن است ادعا نمود که این لنډۍ از افغانهای یکنیم هزار سال قبل حکایه نمیکند ؟ ومتعلق بامروز است .

ولی با این هم بطور مطلق میتوانیم از یک لنډۍ که درهزارسال قبل از امروز گفته شده است وازان تاریخ به بعد اززبانی بزبانی بسلسلهء تواتر بمارسیده است یادآورشوم بدین حکایت :

سلطان محمود غزنوی حینیکه از راه گومل (واقع جنوبی) عازم فتح هندوستان بود در سر افسران نامی وی یکی هم خالوخان بود؛

معشوقهء که در یکی از نواحی آن بار مسکون بود دلباختهء درسپاه سلطان داشت توسط این لنډۍ چنین اظهار مطلب میکند.

د خالو خان لښکری را غلې زه به گومل ته دخپل یار دیدن له ځمه

اعنی: سپاه خالوخان در رسید؛ من به منظور ملاقات دلباخته ام به گومل خواهم شتافت.

چنین بود موضوع اینکه لنډۍ کی بوجود آمده است بقرار شرح فوق نگاشته شد.

گفتم لنډۍ مهمترین ممثل و معرف کلتور و کرکتر افغانها است. اگر ما لنډۍ های زیادی را مورد مطالعه قرار دهیم خواهیم دانست موضوعاتیکه در آن گنجانیده شده است مختلف و متعدد است از قبیل عشقی، حماسی، اخلاقی، اجتماعی، وغیره وما دراینجا محض پهلوی عشقی وحماسی لنډۍ را به دوملحوظ ذیل مورد بررسی قرار میدهیم: یکی اینکه اگر سائر جنبه های لنډۍ همچو، اجتماعی، اخلاقی، مذهبی وغیره را مورد بحث قرار بدهیم مقال ما بطول خواهد کشید. دیگر اینکه بازار عشق وحماست لنډۍ بیشتر از همه مرغوب و سرگرم کننده است.

زینجهت بترتیب ذیل نخست پهلوی عشقی لنډۍ را معرفی میکنیم ومورد تبصره مختصری قرار میدهیم.

KB
@ Benawa Abdul Rauf
Facebook Page

## پهلوی عشقی لنډۍ:

عشق ومحبت مایهء حیات ومحور زندگانی بشر است ووسائلیکه بشر توسط آن اظهار و ابراز عشق میکند یکی هم زبان است عشقیکه توسط زبان اشکار میگردد مستقیماً متناسب است به سویه تمدن جمعیتها وانکشاف لسان آنها اعنی جمعیتیکه لسان و تمدن آنها هر قدر انکشاف کرده باشد بهمان تناسب عشق ومحبت وسایر هیجانات روحی وتاثرات قلبی خودرا با خیالات عالی ورنگین درچوکات الفاظ نرم وموزون وبا بلاغت تام ابراز میدارد وبرعکس اگر تمدن و لسان یک جمعیت آنقدر انکشاف نکرده باشد بهمان تناسب عشقیکه ابراز میدارد حاوی خیالهای غیر منظم درچوکات الفاظ خشک وخشن وناموزون و عاری از بلاغت میباشد اینکه افغانها عشق ومحبت وسایر هیجانات روحی وتأثرات قلبی خود را با خیالهای لطیف ورنگین و الفاظ نرم وموزون وبابلاغت تام درچوکات لنډۍ ابراز میدارند جز اینکه به انکشاف لسان وتمدن شان اعتراف کنیم چارهء ندا ریم.

بلاغتیکه تاکنون در لنډۍ بکار رفته و عامیانه میباشد ولی حقیقت اینست که بلاغت عامیانه بهتر و مرغوب تر است و طرفداران و علاقمندان زیادی دارد از انجمله جنبه عشقی لنډۍ خیلی مرغوب و دلکش است بالخاصه که با آهنگ مستقل و مخصوص سروده شده شنونده را بغایت محظوظ و مسرور میدارد مزیت بزرگ آن اینست که اکثراً از جانب جنس لطیف سروده میشود . اینک نمونهٔ از سوال و جواب در بین یک عاشق و معشوق را ملاحظه فرمائید . عاشق به یکسفر دور و درازی عازم است معشوقش که ازین حادثه مطلع شده از فرط غم و اندوه گریه میکند بمعشوق خود چنین اظهار میدارد :—

KB
@ Benawa Abdul Rauf
Facebook Page

په زړه مه راپسې ژاړه ــــ زه مسافر یم د دعا تمه لرمه

میگوید : منکه عازم سفرم به عقبم گریه مکن زیرا از همه بیشتر نیازمند دعای تو میباشم ولی معشوقش در حالیکه نمیخواهد خود را در عشق او مغلوب نشان دهد بجواب چنین میپردازد.

په ژړانه در پسې ژاړم ــــ تا په دعا کښې یادوم ژړا را ځینه

یعنی به عقب تو گریه نمیکنم ، ولی حینیکه ترا در دعای خود نام میبرم بی اختیار اشکم فرو میریزد . درجای دیگری دردمندی از دوست خود چنین استجواب میکند :

ددې مسرۍ جواب می را کړه ــــ کور می د سین پر غاړه دی له تندې مرمه

ترجمه : جواب این مصرع را بده ــ با آنکه خانه ام پهلوی دریاست ولی باز هم از تشنگی میمیرم. دوستش همینکه میبیند . همیشه درراه وصال دو دلباخته موانع زیادی حائل میباشد بجوابش چنین میسراید :—

ددې مسرۍ جواب دې دادی ــــ څوک چه مین شي همیشه له تندې مرینه

ببینید چگونه درین جواب کوچک یک دنیای بزرگ معانی نهفته شده است.

دوست خواسته است که درجواب خود به رفیقش بفهماند که تو تشنه لب عشق هستی با آنکه معشوقت همچو دریای لبریز در جوار خانه ات وقوع دارد ولی باز هم موانع بسیاری است که نمیگذارد تو از آب وصال معشوق سیراب گردی .

تشبیهات واستعاراتیکه افغانها در لنډۍ بکار برده اند همچو آریائیان قدیم بیشتر از محسوسات واز افراد طبیعت است . چنانچه در بیت ذیل :

یار می د وچې ژیړی ګل دی ــــ د خپلو اوښکو زه لښتی ور نیږومه

درینجا معشوق دلباخته خودرا به گل زرد دشتی تشبیه میکند و از سوز وگداز دل میگوید

KB
@ Benawa Abdul Rauf
Facebook Page

من از اشک خود جویچه را بدان راست میکنم تا آن گل بیچاره خشک و پژمرده نشود
یک معشوقه باوفا از عاشق خود چنین قدردانی میکند.

چه زه کور نه یم ته را مه سې تاله به کور په بانوخوك جارو کوینه

ترجمه: هنگامیکه من در خانه نیم تو بدرگاه من نیائی زیرا جز من کسی نیست که راه ترا بمژگان خود جاروب کند و ترا همچو من بپذیرد.

یک دلباخته دیگر از فرط سوز و گداز قلبی خود بدین الفاظ رنگین چنین ترجمانی میکند:

له زړه می وینی را جلا شی دبانوخو کې له چه راشی اوښکی شینه

عاشق زار با آه و ناله همی گوید:

نشتر عشق از قلبم خون جدا میکند ولی متاسفانه همینکه بنوك مژگانم میرسد با شک مبدل میگردد. که مردم نیز آنرا اشک دانسته بعضاً ارزشی بان قائل نمیشوند.

دلباخته دیگری در عالم یاس و نومیدی پروانه را خطاب کنان چنین میگوید:—

پتنه خاوري دي پسر شوي شمعونه جوړ شو په ښیښو کښې مکانونه

بیچاره عاشق همینکه میبیند معشوقش را در خانه محاصره کرده اند و دیوار بلند خانه را در راه وصال خود حائل دید خود را بپروانه تشبیه نموده چنین مسراید:— ای پروانهٔ مظلوم و بخت برگشته خاک بسرت شد که شمعها را در شیشه ها جای دادند.

ببینید! درین لنډۍ تشبیهات و استعارات چقدر زیبا و متناسب است. خیال رنگینی در الفاظ مانوس و مألوف چگونه بوجه احسن مطلب را بهم میرسانند. واقعاً قید معشوق در چهار دیوار خانه باین می ماند که شمع را در شیشه جای داده باشند. و پروانه در حالیکه احساس میکند باشمع آنقدر بعید نیست بمنظور وصالش می جهد و میطپد ولی چه سود که شیشه بی شعور بال و پرش را بیهوده میسوزاند.

در جای دیگر چنین میگوید:—

اوښکی زما غمازی وکړه حال می دزړه پرمخ لیکی رسوائی کړمه

در ینجا دلباخته زار اشک خود را ملامت قرار داده شکایت کنان چنین میگوید:

اشکهایم چون رقیبی با من غمازی میکند.
که حال دلم را بر رویم مینویسد و رسوایم میسازد.

عاشق دیگری از بیداد و ستم جدائی بستوه آمده و این هیولای بدبختی را چنین دشنام میدهد.

بیلتونه غبرګ ځان دی ومره چه‌ته غمجن شی ګو ندی زه دې هیره شمه

ترجمه: ای دیو هجران! پسرانت یکجا بمیرند تا باشد که تو در سوګواری آنها مصروف ګردی مرا فراموش کنی!

ولی عاشق دیګری هجران را از نګاه خوشبینی دیده در مدح و ستایش آن چنین میسراید.

بیلتون په اصل شهزاده دی چه هر ګړی می خپل جانان را یاد وینه

ترجمه: هجر از بذات خود همچو شهزادهٔ مهربانیست که هر آن یار محبوبم را بیاد میدهد.

درین جا این مفکوره علی الرغم آن ذهنیت هائیکه از جدائی مذمت میکنند و آنرا مورد لعن و طعن قرار میدهند بروز کرده است. و بمفهوای اینکه هر چیز باضدادش شناخته میشود کسب ارزش میکند و قطعاً مثبت است یعنی اگر هجران نباشد وصال کدام معنی و ارزشی ندارد این بود نمونه چندی از پهلوی عشقی لنډۍ.

رویهمرفته پهلوی عشقی لنډۍ خیلی مرغوب و سرګرم کننده است و در حماسه سرائی هم مهمترین رول را بازی کرده است و میکند و میتوان ګفت که روح ایثار و فداکاری را در راه حصول و حفظ حقوق و نوامیس ملی در جوانان ما دمیده است و میدمد. اګر بګوئیم که بسا از رشادتها و جانبازی های محیر العقو لیکه جوانان ما در حین مدافعه از ناموس وطن از خود بروز داده و موجب فخر و مباهات برای ما شده اند در اثر خواندن و ترنم همین لنډۍ ها ی افغانی بوده مبالغه نکرده ام اینک نمونهٔ چندی از پهلوی حماسی لنډۍ:

پهلوی حماسی لنډۍ:

پیغله ملاله که همه راجع با وشنیده ایم و می شناسیم در جنګ میوند جوانی را علیه دشمن چنین تحریص و تشویق میکند:

که په‌میوند کښې شهید نشوې
خدایږو لالیه بی ننګۍ لەدی ساتینه

KB
@ Benawa Abdul Rauf
Facebook Page

ترجمه: اګر در جنګ میوند بشهادت نرسیدی بخدا ای عزیزم ترا به روز بی ننګی و بی همتی نګهداشته‌اند.

محبوبهٔ بعاشق خود که عازم مدافعه وطن است چنین میګوید:

تکر تکر په نو ر و ر ا شي
چه‌پر هار و نه‌دی گنډم‌خوله‌ در کومه

بلی! جوانیکه ازمعشوقهٔ خود چنین میشنود لابد خودرا کشتنی زده تاآخرین رمق میکوشد که ظفررا بانحمل هزاران محن ومشقت درآغوشش کشیده افتخار کنان بسوی محبوبه اش بازگردد تاباشد که محبوبهٔ منتظر راهش جراحات اورا بالطف خاص خود التیام بخشد.

گرچه چنین توقع محبوبه ازدلباختهٔ جوانش قساوت را بهم میرساند که بدو میگوید : با شمشیر پارچه پارچه بیائی که حین دوختن جراحات تو بوسه های گرم خودرا نثارت کنم ولی ملتفت باید بود که درقاموس عشق اینگونه توقع قساوت وسنگدلی نیست بلکه محبت است درمرحله جنون ، جوان دلباخته که خونش بغلیان آمده وهیجانات روحی او همچو دریای خروشانی در تلاطم است بجوابش چنین می پردازد :

KB
@ Benawa Abdul Rauf
Facebook Page

یا بــه دې زلفې کمر بند کړم
یا به زما به وینو ووهی خالونه

ترجمه : یا زلفین ترا کمربند خواهم ساخت یعنی در صورت حصول فتح وظفر ترا به‌عقد خود خواهم آورد ویا اینکه از خون نم خالهای سرخ بر جبین ناز نینت خواهی زد .

دختر افغان افتخار میکند باینکه رفیق جوانش درجنگ دشمن زخمی آ نهم به پیش روداشته باشد . واین زخمی شدن او را نمونهٔ غیرت ، شجاعت ومردانگی اومیداند .

واز اینکه رفیقش سلامت باز گردد خیلی شرمنده ومنفعل می شود ومی هراسد از اینکه مبادا کسی طعنه زنان برایش بگوید :

که رفیقت جنگ نکرده ویا از ترس دشمن فرار کرده است . در ینجا دختر افغان ازدوست جوانش که درجنگ دشمن مظفر واپس گشته وزخمی نیز با خود برداشته است از او چنین پذیرائی میکند .

جانانه شه‌دی چه‌زخمی شوې
زه‌به‌داخپله غاړه هسکه گرځومه

ترجمه :— ای رفیق وجانانهٔ من خوب است که‌درجنگ دشمن زخمی شدی بعد ازین سر وگردن خودرا به افتخار موفقیت تو بلند خواهم گشتاند .

افغانها از هرکه واز هرچه بیشتر وپیشتر شیفته ودلباختهٔ ننگ ، ناموس ، همت وشجاعت اند بدین اساس معشوقهٔ به عاشق خود که عازم مقابلهٔ دشمن است چنین خطاب میکند :

KB @ Benawa Abdul Rauf Facebook Page

په تور ټوپک ویشتلی راشي
د بې ننګۍ احوال دې مه راځه مینه

درینجا دختر افغان حتی از عزیزترین دوست و شیدای خود ننگ و غیرت را مرجع دانسته میگوید:

با گلوله تفنگ سیاه زده شده بیائی بهتر است و بی ای عزیزم خبر بی ننگی ات بمن نیاید:

معشوق دیگری میخواهد از یک سو خود ابراز شجاعت و فداکاری کند و از سوی دیگر دلباخته خود را به ایثار و مردانگی در راه حفظ و حصول استقلال وطن علیه دشمن تحریص و تشویق کند او را چنین مخاطب میسازد:

پرسپین میدان به د سر ه تم — زه پښتنه له تور و نه تښتم مینه.

بلی! دختران افغان در مواقعیکه ناموس وطن بخطری مواجه می شود، یا خود وارد صحنه مبارزه شده و یا جوانان وطن را در راه تحفظ وطن بذرایع مختلف تحریک و ترغیب نموده اند که تاریخ با شهامت ما خاطرات شیرین از آنها را ثبت کرده است.

در ینجا این دختر افغان هردو وظیفه را ایفا نموده است که به رفیق خود میگوید:

در میدان نبرد با تو خواهم بود، من دختر افغانم از دم شمشیر دشمن هرگز فرار نمیکنم چو انیکه از محبوبه خود چنین می شنود بالبداهه هیجانات او مشتعل شده، قوای باطنی او تحریک و شجاعت و مردانگی او دوبالا میگردد. و نتیجه آن اینست که فتح و پیروزمندی است.

KB @ Benawa Abdul Rauf Facebook Page

روی همرفته جنبهء حماسی لنډۍ خیلی وسیع و مرغوب است و ازین پهلو، در طول تاریخ ثمره های شیرینی چشیده ایم و خصوصاً در ملت ما روح قوی و معجزه آسائی دیده است.

درهمین جا کلام خود را قطع میکنم. ازینکه نتوانستم لنډۍ ها را از هرجا هرطوری بود جمع آوری میکردم و از آنها انتخابات مرغوبتری مینمودم معذرت میخواهم.

وتنها لنډۍ های چندی که در حافظه خود محفوظ داشتم آنرا با تبصرهء مختصر و ناچیز بخوانند گان عزیز تقدیم کردم.

*****

په دې کې هېڅشک نهشته چې لنډۍ د خلکو مال دی او د لنډيو اصلي تخليقونکي خلک دي. ډېر کلونه وشول چې زه د لنډيو په باب څېړنې کوم او د نويو لنډيو د راټولو لهپاره مې د خپل ورځنې ژوند يوه برخه بېله کړې ده. داسې هم وشول چې د لنډيو د څو ټولګو تر خپرېدو وروسته له يوې عمومي پوښتنې سره مخشوم:

**«ته چې دا نوې لنډۍ خپروې، دا له کومه کوې او منابع يې کومې دي؟**

له ماسره دې پوښتنې ډېره مرسته وکړه چې دې موضوع ته يې زما پام ورواړاوه چې بايد د نويو لنډيو منابع کله ـ کله خلکو ته په نښه شي؛ نو هماغه و چې ما د نوېو راټولو کړو لنډيو د منابعو ښودل هم په نظر کې ونيول او د **«د لنډيو اصلي منابع خلک دي»** ترسرليک لاندې مې د هغو لنډيو پټوو او ادرسونو باندې ليکنې او تبصرې پيل کړې چې ټل د لنډيو په باب فکر او کار کوي.

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## لومړۍ برخه

په دې کې هېڅ شک نهشته چې د لنډيو اصلي منابع خلک دي، هماغه خلک دي چې خپل بېلابېل تاثرات او له طبيعت او ټولنې نه خپل برداشتونه د خپلو احساساتو په خُم کې رنګوي، هنري بڼه ورکوي او بېرته يې د ټولنې په ائينه کې راڅرګندوي.

يوچا په ډېر زړهنازړه ډول وپوښتلم چې لنډۍ له کومو منابعو راټولوې؟

هغه ښاغلي ته مې وویل: څنګه چې لنډۍ د خلکو مال دی، زه یې چې د خلکو له خولې واورم، که نوې راته ښکاره شي، خوندي کوم یې، خو ډېره تکیه مې پر میډیا باندې ده، په تېره ټولنیزه میډیا باندې.

داسې هم شوي چې له ځینو زړه سواندو دوستانو نه مې هیله کړې ده چې که مو نوې لنډۍ ترسترګو شوې، ما ته یې راولېږئ؛ هغوی هم کله داسې لنډۍ رالېږي چې بیخي نوې وي. ټولې هغه لنډۍ چې فرهنګي دوستان یې رالېږي یا یې له نورو پټو راټولوم، تر خپرولو مخکې یې املایي تېروتنې سموم.

د لنډیو راټولونه، سمونه، خپرونه او بیا په کتابي بڼه د چاپ یا انلاین بڼې د خپراوي لهپاره چمتو کول، اوږد مهالی دی او لویه حوصله غواړي.

ځینې د لوړ ذوق خاوندان ډېرځلې په خپلو فیسبوکپاڼو کې نوې لنډۍ خپروي. دلته به د ساري په توګه د داسې دریوو فرهنګیانو یادونه وکړم چې تل لږې یا ډېرې نوې لنډۍ خپروي:

**ـ ډاکټر حنیف حیران:**

کله، کله ډاکټر حنیف حیران په خپله فیسبوکپاڼه کې داسې لنډۍ خپروي چې ډېره سلنه یې نوې یا ډېرې زړه راښکونکې وي او زه یې هرکله راخوندي کوم. دا یې څو بېلګې دي چې د ۲۰۲۴ ام کال د اکتوبر په ۲۷مه نېټه یې خپرې کړې دي. دلته د همدې ټولګې د لنډیو په ردیفونو کې خوندي شوې دي.

دغه راز یوځل مې د ښاغلي حنیف حیران په فیسبوکپاڼه کې دغه نوې لنډۍ په مخه راغلې او ما هم په بېړه راخوندي کړې:

**ـ محمدالله همیم:**

نوي لنډۍ مې ډېرځلې د ښاغلي محمدالله همیم له وال څخه هم رااخیستي دي. د همیم ډېره سلنه فرهنګی هڅې له نوښت سره مل دي. یونوښت یې «ډېوې، ډېوې ماښام» انلاین پروګرام و چې په دې پروګرام کې هره ورځ د یوه حقداره شاعر د مثبتو کارونو، اثارو او ښېګڼو یادونه کېږې او ښه یې لا دا ده چې نور قلموال او د تربحث لاندې شخص اشنایان، د هغه پر مثبتو کارونو خبرې کوي او خپلو فیسبوکپاڼو کې خپل خاطرات او نظریات لیکي.

ما د همیم صاحب او د ده د فرهنګي هڅو په باب پخوا هم یوه مفصله مقاله لیکلې وه چې د ۲۰۲۳ ام کال په مارچ کې مې خپره کړه، د هغې مقالې ډېر بحث د ده دیو نوي چاپ شوي کتاب «بوډۍ ټال» په باب و، چې هغه هم د لنډیو یوه ټولګه وه.

اوس هم کله، کله د همیم په فیسبوکپاڼه کې نوي لنډۍ رانښکاره کېږي، ځو بېلګې یې ما د همدې ټولګې د لنډیو په ردیفونو کې خوندي کړې دي.

**ـ عبدالعزیز نائیبي:**

ژورنالست، کیسه لیکوال او شاعر عبدالعزیز نائیبي هم کله ـ کله په خپله فیسبوکپاڼه کې نوې لنډۍ خپروي چې ما ډېرځلې راخوندي کړې دي. دا یې څو بېلګې دي چې د ۲۰۲۴ ام کال د نومبر په نهمه نېټه یې خپرې کړې دي. ګڼشمېر بېلګې یې د همدې ټولګې د لنډیو په ردیفونو کې خوندي شوې دي.

*****

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## دويمه برخه

د لنډيو د منابعو په باب ما د همدې لړۍ په لومړۍ برخه کې ويلي وو چې: «په دې کې هېڅ شک نه شته چې د لنډيو اصلي منابع خلک دي، همدا خلک دي چې خپل ببلابېل تأثرات او له طبيعت او ټولنې نه خپل برداشتونه، د خپلو احساساتو په خُم کې رنګوي، هنري بڼه ورکوي او بېرته يې د ټولنې په ائينه کې راڅرکندوي.»

په تېره برخه کې مې د ساري په توګه درې هغه پټې ښوولې وې چې ما له هغو نه کله، کله لنډۍ راخوندي کولې. دا دی د لنډيو د راخوندي کولو په دې برخه کې هم دوې پټې ښيم او نوې لنډۍ يې هم راخوندي کوم:

### محمد صديق ننګ:

د نويو لنډيو د راخوندي کولو په کار کې کله، کله له ما سره زما د کورنۍ غړي او ځينې فرهنګي دوستان مرسته کوي، د فرهنګي يارانو په ډله کې يو ښاغلي صديق ننګ دی چې د لنډيو په راخونډی کولو يې مرسته راسره کوي، ننګ صاحب د ۲۰۲۴ ام کال د دسمبر مياشت په پيل کې ما ته د يوې غبرګې سندرې يوه ويډيو راولېږله چې له پيل نه تر پايه پورې د سوال ځواب په ډول، لنډۍ په کې زمزمه شوې وې. ما له هغې ويډيو نه دا لنډۍ راخوندي کړې:
دغه لنډۍ هم ښاغلي صديق ننګ را ته رالېږلې ده:

**محمدالله همیم:**

په تېره برخه کې هم ما د محمدالله همیم فیسبوکپاڼه د نوېو لنډیو د راخوندي کولو د یوې پټې په توګه ښوولې وه، په دې برخه کې بیاهم له همدې پټې یو څو خبرې او یو څو لنډۍ.

دا ځل بیا محمدالله همیم په خپله فیسبوکپاڼه کې د پښتنې نادودو یوه له غمه ډکه زړه غوځونکې کیسه راخیستې ده. پر دې باندې باید شوچ وشي چې لنډۍ د کوم درد، څه ډول مینې ـ نفرت، کوم احساس او له ټولنیز ژوند څخه د کوم تأثر په پایله کې تخلیق کېږي. په یاده غمجنه کیسه کې وګورئ چې تخلیق شوې غمجنې لنډۍ د کوم قانون زېږنده او په څه ډول احساس، د یو رنځېدلي انسان درد په کې انځور شوی دی. کیسه ډېره اوږده نه ده، خو ډېره هیښونکې او غمجنه ده. دا یې بشپړ متن دی:

«کلي کې وم. ادې مې شوتله رېبله. ورغلم... ادې سره زموږ کلیواله همسایه ښځه ناسته وه. چې موږ راشه درشه ورسره لرله... ښځې راته ویل: (مېرهٔ ته مې دویمه ښځه کوم. ) ما ورته ووې: عجیبه ښځه یې، یهٔ خپله ورپسې ګرځې... ولې؟ ښځه خبره وه چې د شاعرۍ ذوق لرم، نو راته ویې ویل: ( تاته بهٔ یهٔ شاعرۍ کې ځواب درکړم. ) یوه شېبه غلې شوه، بیا یې دا ټیکۍ وکړه:

ورځې شپې تېرېدې... مېرهٔ ته یې دویم وادهٔ وکړو. شپږ کاله ووتل، عجیبه وه، د بنې یې نرینه اولاد ونه شو؛ خو خدای دې ته زوی ورکړو... څو میاشتې مخکې مې کور ته زنګ کړی و، همدا ښځه زموږ کره راغلې وه، راسره غږېده، دا ځل یې بله عجیبه ټپه راته وکړه، چې خپل خاوند یې پهٔ کې مخاطب کړی و:

قدرت الله درمان رانه ډېر لېرې دی. څو سیندونه، او غرونه ها خوا... کله، کله په ویډیو کال یو بل وینو؛ پورته کیسه یې ها بله شپه راته وکړه... هو رښتیا ټپې مو سره کولې؛ درمانګر دا ښکلې ټپه راته وکړه، چې مخکې مې نه وه اورېدلې.

*****

## د لنډیو اصلي منابع خلک دي

### دریمه برخه

یوه بله پته چې زه ورنه نوې لنډۍ راخوندي کوم د «مرغلرې دات اورګ» (Malghalarey.org) فیسبوکپاڼه ده. په دې پته کې ډېرځلې نوې لنډۍ پرلیکه کېږي او داسې په مینې او زحمت سره کار پرې کوي چې د هرلوستونکي او لیدونکي لهپاره په زړهپورې وي. په دې فیسبوک پاڼه کې هره ورځ یا یوه ورځ منځ کې یوه یا څو نوې لنډۍ له عکس یا ویډیو سره انلاین کېږي.
دا یې له عکس سره د یوې انلاین کړې لنډۍ بېلګه ده:



کومې لنډۍ چې په ياده فيسبوک‌پاڼه چې اېښودل کېږي، کله نوې وي او کله ـ کله زړې لنډۍ په لړڅه بدلون سره پورته کوي.

ما هڅه وکړه چې د لنډيو په باب د دې فيسبوک‌پاڼې له مسؤل څخه، د دې پاڼې د فعاليتونو په هکله له څه معلومات وغواړم. په همدې هيله مې د ۲۰۲۴ ام ميلادي کال د دسمبر پر لسمه مې د يادې فيسبوک‌پاڼې په مسنجر کې داسې پيام ورولېږه:

«سلامونه! هيله ده هرڅه ښه وي.

زما نوم آصف بهاند دی، پخوا په کابل پوهنتون کې استاد وم، اوس په ډنمارک کې ژوند کوم. شاعر، ليکوال او څېړونکی يم، لکه پخوا اوس هم خپلو فرهنګي کارونو کې فعال يم. زما د کارونو يوه برخه د «لنډۍ، د راټولو ستونزه» ترسرليک لاندې ده. تر اوسه مې د لنډيو څلور ټولګې خپرې کړې دي او د لنډيو په باب مې ګڼې څېړنيزې مقالې خپرې کړې دي چې شمېر يې تر اوسه ۲۹۸ مقالو ته رسېدلی دی.

له څه مودې راپه دېخوا ستاسو له فيسبوک‌پاڼې نه هم نوې لنډۍ راخوندي کوم او غواړم د لنډيو په باب ستاسو پر فعاليت باندې هم يو څه وليکم. ايا تاسو کولای شئ چې له ما سره په دې برخه کې مرسته او همکاري وکړئ؟ که ځواب مو هو وي، څه ډول زه له تاسو سره اړيکې نيولای شم؟

د سترګو په رپ کې يې داسې ځواب راکړ لکه چټ‌جي‌پي‌ټي، دا يې متن دی:

«موږ ته د پيغام رسولو لپاره مننه. موږ هڅه کوو چې څومره ممکنه ځواب ووايو. موږ به ژر تر ژره تاسو ته ورسوو." مننه #Malghalarey.org«

زه اوس ورته ګورم چې دوی کله او څه ډول ځواب راکوي.

درې ورځې مې ورته وکتل، دوی ځواب رانه‌کړ. بیا مې د ۲۰۲۴ ام کال د دسمبر په دیارلسمه داسې ورته ولیکل:

بیا سلامونه! زه خپله غوښتنه بیا تکراروم: څه ډول زه له تاسو سره اړیکې نیولای شم؟ چې د پښتو لنډیو په باب ستاسو د کار د څرنګوالي په باب معلومات ترلاسه کړم.

دوی بیا هم د سترګو په رپ کې د چټجیپیټي په څېر خپل هماغه پخوانی ځواب راولېږه:

"موږ ته د پیغام رسولو لپاره مننه. موږ هڅه کوو چې ژومره ممکنه ځواب ووایو. موږ به ژر تر ژره تاسو ته ورسوو." مننه «Malghalarey.org#

وروسته تر دې مې بلڅه ورته ونه لیکل، خو زه د لنډیو دې پټې ته هره ورځ سر ورښکاره کوم او نوې لنډۍ ورنه راخوندي کوم.

په دې فیسبوک‌پاڼه (ملغلرې دات اورګ) (**Malghalarey.org**) کې کله، کله له مسؤل یا مسؤلینو نه تېروتنې هم شوې دي، داسې لنډۍ هم په دې پاڼه کوې پورته شوې دي چې د لنډیو له تعریف، اصولو او چوکاټ سره مغایرت لري، دا یې څو بېلګې دي:

لومړی مثال:

**که مې نصیب درسره نه وی**
**رنګ به دی هیر کړم په نامه به دی یادومه**

په دې لنډۍ کې تېروتنه دا ده چې دویم نیم بیتی دیارلس سپلابه نه، بلکې څوارلس سپلابه دی.

دویم مثال:

ده پېغلو دوه ښېزه مزه کښنه
چي خؤلهٔ درکې سترګې مړې دروازه وینه

په پاسنۍ لنډۍ کې د دویمې مصرۍ یوه هجا کمه ده.

د «مرغلرې دات اورګ» (Malghalarey.org) په فیسبوکپاڼه کې د انلاین شوو لنډیو ځو بېلګې ما خوندي کړې دي چې د لنډیو په برخه کې اېښودل شوې دي. له يادې پټې نه به هرکله زه د لنډیو راخوندي کول جاري وساتم.

*****

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## څلورمه برخه

## په سندرو کې د نويو لنډيو لټون

لاس يې اتلس ځایه مات شه
که څوک به ګوتې د لالي پر وجود ږدینه

د ښار ياري له دوکو ډکه
موږ کلیوال خپلې وفا خوړلي يونه

هسې په ځان به لوبې وکړې
زه يې د تره زوي ته وره ورکړې يمه

د نويو لنډيو د راپيداکولو او خونديکولو په موخه مې له هرې ممکنه وسيلې نه کار اخيستى دى، په مجالسو کې ډېرځلې د دې له پاره غلى پاتې شوى يم چې غوږ ونيسم ګوندې د چا له خولې کومه نوې لنډۍ

واورم او کله مې چې اورېدلې، نو سمدلاسه مې یا په کاغذ ـ یا په موبایل کې لیکلې ده.

په سندرو کې مې د نویو لنډیو لټون ته هله ورپام شو چې په یوه سندره کې مې ناځاپه یوه نوې لنډۍ واورېده. داسې هم شوې دي چې که کومه نوې داسې سندره په مخه راشي چې لنډۍ یا ټپې په کې زمزمه شوې وي، نو که مې خوښه وي که مې خوښه نه وي، زه یې تر پایه د دې له پاره اورم چې که کومه نوې لنډۍ په کې واورم او راخوندي یې کړم.

په دې لړ کې مې یوه ورځ د ښاغلي غرزي لایق په فیسبوک‌پاڼه کې د اغلې شهناز علي‌خان په خواږه غږ کې له یوه «سر» سره څو ټپې واورېدې چې په ښه غږ او ښه موزیک سره زمزمه شوې وې. «سر» ما ته نوی و، هغه داسې و:

**«کډه مې چې بار کړه، څه درانه ـ درانه یې وژړل**
**ورکه غریبي شه، څه خواږه ـ خواږه یې وژړل»**

خو لنډۍ یې یوه هم زما له پاره نوې نه وه. «سر» او لنډۍ په سندره کې د منل شوي نورم پرخلاف وړاندې وروسته ویل شوي وو داسې چې په نورو سندرو کې لومړی «سر» ویل کېږي، بیا لنډۍ وراچول کېږي؛ دلته لومړی لنډۍ زمزمه شوې دي، ورپسې سر ویل شوی او د سندرې ترپایه په همدې ښه ګنشمېر لنډۍ او بیا «سر» ویل کېږي.
دا لاندې د اغلې شهناز علي خان د سندرې لینک دی:
https://www.facebook.com/watch?v=3947530295569013

دغه راز د «ملغلره دات اورګ» فیسبوک‌پاڼه کې هم داسې یوه سندره په مخه راغله چې لنډۍ په کې زمزمه شوې وې، سندره مې ترپایه واورېده، خو یوه نوې لنډۍ هم نه وه په‌کې. په دې لاندې لینک کې سندره اورېدلای شئ:

https://www.facebook.com/reel/1102438474683295

دا په یاده سندره کې دوې ویل شوې لنډۍ دي:

**عالمه یوتربل ځارېږي**
**دونیا فاني ده، بیا به وکړئ ارمانونه**

**یوخو مې دا نصیحت واوره**
**چې د بې‌ننګو یاري مه کوئ میینه**

خو کله ـ کله بیا داسې سندرې هم په مخه راشي چې له هغې نه څو نوې لنډۍ واورم او راخوندي یې کړم.

*********

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## پنځمه برخه

**ځان به په تور تیکري عادت کړم**
**یـاري بـه پرېږدم تـا بـه مړ حسـابومـه**

**ما درته ویل چې جنګ ته مه ځه**
**د جیب شیان دې رالېږي، تا خښوینه**

**دیواله تینګه تکیه راکړه**
**زه د بې ننګو له تکیو لویدلې یمه**

لکه تل د نویو لنډیو د پیدا کولو په خاطر د ټولنیزو شبکو په کوڅو او بڼونو کې ګرځېدم، چې ناڅاپه د طالب عبدالقدیر روحاني په نامه د یو چا پرفیسبوک‌پاڼه باندې ورواوښتم، هلته مې داسې لنډۍ وموندې چې ډېرى یې زما له‌پاره نوې وې.

ما هم سمدستې ټولې راخوندي کړې. دې ته مې هم ورپام شو چې د کامنټونو په ځای کې هم باذوقو یارانو لنډۍ ایښې وې چې ځینې یې راته نوې وې. له یادې فیسبوکپاڼې نه مې چې کومې لنډۍ راخوندي کړې دي، د لنډیو په برخه کې په خپلو ځایونو کې ایښودل شوې دي.

*****

## د لنډیو اصلي منابع خلک دي

### شپږمه برخه



په یارانه منکره نه یم
ملک د پښتو دی چا ته نه وایم حالونه

په ټولنیزه میډیا کې نن (۲۰۲۴/۱۲/۲۹) د «ټپه» په نوم نوې فیسبوکپاڼه راترسترګو شوه، په دې فیسبوکپاڼه کې ډېرځلي نوې لنډۍ پورته کېږي، کله له عکسونو سره او کله هم پرته له عکسونو ځخه.

د یادې فیسبوکپاڼې او د هغوی د لنډیو د انلاین کولو د څرنګوالي په باب د مسنجر له لارې ما خو پوښتنې دوی ته ورلېږلې دي او دوی هم ځوابونه راکړې دي. دا هم زما د پوښتنو او د دوی د ځوابونو بشپړ متن:

آصف بهاند:

سلامونه!
هیله ده هرڅه ښه وي. زما نوم آصف بهاند دی، پخوا په کابل پوهنتون کې استاد وم او اوس په ډنمارک کې ژوند کوم، لکه د پخوا په څېر په فرهنګي کارونو کې فعال یم.

زما د کارونو یوه برخه د پښتو لنډیو په باب څېړنه، د نویو لنډیو ټولول او راخوندي کول دي. تراوسه مې د لنډیو په باب د خپلو څېړنو او د راټولو کړو لنډیو ځلور ټولګې په انلاین بڼه خپرې کړې دي. زه ستاسو درنه فیسبوکپاڼه تعقیبوم او ستاسو د کار پلوي یم. کومې لنډۍ مو چې نوې راته ښکاره شي راخوندي کوم یې. اوس غواړم چې د لنډیو د انلاین کولو او تر خلکو پورې د رسولو او ستاسو د کار په باب یوه مقاله ولیکم. د فرهنګي همکارۍ له مخې دا څو پوښتنې راځواب کړئ:

ـ له څه وخته مو د «ټپه» په نامه دا فیسبوکپاڼه جوړه کړې ده؟

ـ تر اوسه به مو په اټکلي ډول یا دقیقاً څومره لنډۍ انلاین کړې وي؟

ـ په خپله فيسبوکپاڼه کې مو د لنډيو د راټولولو او خپرولو انګيزه څه ده؟

له مرستې نه مو همدا اوس مننه

آصف بهاند

**ټپه فيسبوکپاڼه:**

وعليکم سلام.

دا پاڼه ما په ۲۰۱۸ کښې جوړه کړې وه کم وخت چې زه پوهنتون کښې ووم خو د زدکړو له وجې بيا فعاله نه وه, اول ورځو کښې مې پرې لنډۍ خپرې کړې وې خو اوس چونکه زما زدکړې سر ته رسيدلې او زه وخت لرم چې خلقو ته د خپلې خوښې لنډۍ ورسوم نو فعاله کړې, زما خپله په ادب کښې لنډۍ خوښ صنف دی او په زړګونو لنډۍ راسره خوندې نو کوشش کووم چې څومره ممکنه وي خلقو ته ئې ورسوم.

**آصف بهاند:**

که ممکنه وي او کومه ستونزه نه درته پېښوي، مهرباني وکړئ ما ته مو يوه لنډه بيوګرافي راولېږئ چې زه يې ستاسو د پاڼې (ټپه) په باب چې کومه مقاله په نظر کې لرم، هلته يې خپره کوم.

**ټپه فيسبوکپاڼه:**

نامه مې صلاح الدين خان ده, د کوزې پښتونخوا سوات سره مې تعلق دی, خپل زدکړې مې په منيجمنټ سائنس کښې کړې او تېر کال مې سر ته رسولې او اوس دا وخت نوکرې کوم يو کمپنۍ کښې او سحر يا ماښام وخت کښې کوشش کووم لنډۍ وليکم او خپرې کړم.

د لنډیو سره مینه مې د شروع نه ده خپل په ذاتي فیسبک پاڼه هم اکثر لنډۍ خپروم خو هلته سیاسي سرګرمۍ ډیري وي په دهغه خاطر ورته ما دا فیسبک پاڼه جوړه کړې ده.»

دا فیسبوکپاڼه (ټپه) هم لکه د مرغلرې فیسبوکپاڼه له لنډیو سره عکسونه او وداسې ویډیوګانې خپروي چې د هماغې لنډۍ محتوی او مفهوم په ښه بڼه منعکسولای شي، دا لاندې یې یوه بېلګه ده:

د مور ملوکې سرې دې نوکې
د زلفو ځوکې دې په جېب کښې ګرځومه
#ټپه




په د ې فیسبوکپاڼه کې کله ـ کله داسې شوخې، تخنونکې ـ لمسونکې لنډۍ هم راښکاره کېږي:

**خت مې د تي پر سر سورۍ دی**
**ناراسته نه یم، هلکان پرې زورومه**

د یادې فیسبکپاڼې د نویو لنډیو څوبېلګې مې خوندي کړې دي او د همدې ټولګې د الفبې په ردیفونو کې اېښودل شوې دي.

*****

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## اوومه برخه

**عالمه بل دستور مې ولید**
**اوله ښځې تښتېدې، اوس يې مېړونه**

**لور يې چینه، مور يې ډنډوکی**
**له چینې تېر شوم په ډنډوکي واوښتمه**

**زما جانان ګل د زنبق دی**
**زما سبق دی، هر ساعت يې یادومه**

څه موده پخوا مې د «د لنډیو اصلي منابع خلک دي» د بحث په پیل (د لنډیو اصلي منابع خلک دي،
لومړۍ برخه) برخه کې د ژورنالست شاعر او کیسهلیکوال ګران عزیز نائیي پرهغو لنډیو باندې لنډيخبرې کړې وې چې ده د لنډیو د خوندي کولو له لړۍ سره د مرستې په لړ کې ما ته رالېږلې وې.

دا دی ښاغلي عبدالعزيز نايبي د خپلو دايمي همکاريو په لړ کې د يولنډليک په ملتيا سره، څو لنډۍ هم رالېږلې دي. د ښاغلي نايبي د ليک دا کرښې د ځانګړې پاملرنې وړ دي:

«څه موده وړاندې مې يوه وړه کتابچه‌ګۍ لاس ته راغله، په غالب ګمان د ۲۰۰۰م کال شاوخوا وختونو کې ځينې ياداشتونه، دري رُباعيانې او پښتو لنډۍ پکې ليکل شوي دي. کله مې چې د کتابچې لوستل پيل کړل، نو سمدلاسه مې استاد آصف بهاند سترګو ته ودريد، د لنډيو لويه برخه ما ته نوې ښکاره شوه او تر استاد مې بل غوره ادرس و نه موند چې د خوندي کېدو لپاره يې وروسپارم؛ استاد د لنډيو ثبتولو او څېړلو په برخه کې پوخ او اکاډميک کار کوي، د پښتو فلکلور په دغه صنف کې د هغه کار او هلې ځلې واقعاً د احساس وړ دي، زما يې ذوق او د کار مېتود خوښيږي.»

له ښاغلي نايبي نه په مننې سره مې د ده د رالېږلو لنډيو يوه بله برخه هم خوندي کړه.

## د لنډيو اصلي منابع خلک دي

### اتمه برخه

### لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

**له ادم زادو مې توبه ده**
**نور به ليوان په يارۍ نه‌نيسم ميينه**

**پنجابه بخت دې زورور دی**
**ورونه زما دي، سر په تا قربانوينه**

**دواړه د يوه صنف ټولګيوال وو**
**هغه ډاکتر شو زه ذهني بېماره شومه**

زما د هغو دوستانو په ډله کې يوبل دوست هم وراضافه شو چې له ماسره د لنډيو په راټولو کې مرسته کوي. د لنډيو د راټولو په سلسله کې نن يو درانه فرهنګي دوست مرسته وکړه او د نويولنډيو خزانه يې راشته‌منه کړه. د طارق بزګر له رسمي او شخصي بوختتياوو سره ـ سره بيا هم دې ته پام دی چې آصف بهاند د نويو لنډيو لټه کوي او هغه په دوامداره توګه راخوندي کوي. ښاغلي بزګر د فرهنګي متقابلو مرستو په لړ کې، د ۲۰۲۵ ام کال د مارچ پر يولسمه د مسنجر پر مټ يوه ويډيو راولېږله چې زه همدلته مننه ورنه کوم.

تر هغې ويډيو لاندې، ويډيو خپرونکو يا ويډيو جوړونکو داسې ليکلي وو:

**«سلامونه ملګرو د روژې په اړه يو څو تازه لنډۍ ټولو ملګرو او مينوالو ته ډالۍ»**

دا خو ټولو ته ښکاره ده چې لنډۍ د خلکو مال دی او ويونکی يا شاعر يې ناڅرګندی وي، خو له بدمرغه چې پر دې ويډيو باندې ليکلي وو: «شاعر: مقبول جليل».

د فولکلور ټولونکو هيله دا ده چې: څوک چې لنډۍ په ميډيا کې خپلو مخاطبينو ته وړاندې کوي، هغه په ځان پورې ونه‌تړي او خپل مال يې و نه ګڼي، ځکه لنډۍ د ټولو خلکو مال دی.

ما ویدیو ولیدله او له هغې نه مې پنځه داسې لنډۍ راولیکلې چې ما ته نوې وبرېښېدلې، نو مې راخونې کړې.

*****

## د لنډیو اصلي منابع خلک دي

### نهمه برخه

پـه کوچنیوالي دومره شوخه
پـه پېغلتوب خو بـه کورونـه ورانوینه

رنځوره یاره، رنځ دې ورک شه
روژه نیوی شې، کـه غنم دې وباسمه

تـه د مُلا نـه تپوس وکړه
کـه پـه خولګۍ روژه ماتیږي غرقه شومه

یار پـه سفر ځي خولـه بـه ورکړم
روژه دې ماتـه شي، شپېتـه بـه ونیسمه

دا دی بیا درانه لیکوال، شاعر، ژباړن او زړورژورنالست عبدالعزیز نائیبي د لنډیو د راټولو پـه لړۍ کې پـه څو برخو کې ګڼشمېر نوې لنډۍ رالېږلې دي، دلته له ده نه پـه مننې سره، د ده له خوا د رالیږلو لنډیو څخه نوې لنډۍ راخوندي کوم.

*****

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## لسمه برخه

**مور دې د کور کاروونه غواړي**
**ته رانه غواړې په نکريزو سره لاسونه**

**د لالي مال او دولت کم کړې**
**چې بيا نامه د بنې نه رايادوينه**

**په ما مېړوښې دې زړه باېلود**
**د بل په ځمکه شولې چا کرلي دينه**

ګران عزيز نائبي دا ځل ۶۹ لنډۍ رالېږلې دي چې همدلته يوځل بيا مننه ورنه کوم. په يادو لنډيو کې ځوګوتې په شمار تکراري وې چې هغه مې لرې کړې او نورې مې د لنډيو په برخه کې ځایپرځای کړې.

*********

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## يولسمه برخه

**دا چې د ګوتو په سرو ځم**
**له کبره نه ځم، يار ته نبني جوړومه**

**غمونه شا ته کړه جانانه**

**غم چې دروړاندې شي ځواني خرابوينه**

**د بېوسۍ حد ته مې ګوره**
**خالق راکړې ژبه ګونګه ګرځومه**

په دې برخې کې مې بیا د ګران دوست عزیز نائیبي له خوا ثوراليږل شوې لنډۍ راخوندي کړې دي. نائیبيصاحب د دې لنډیو په پیل کې لیکلي دي:

«څو لنډۍ – مالګینې، خوږې او ترخې»

چې زه يې دلته له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم.

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## دولسمه برخه

ګران فرهنګي دوست عبدالعزیز نائیبی له تاسو درنو لوستونکو سره يې شریکوم :

**شال رانه باد د لاهور یوړو**
**زه يې په لوړه پښتونخوا سرتوره کړمه**

**غږ دې راته، کڼه خو نه وم**
**د مېړې کور دی در وتی نه شوم مئینه**

**څه په خالي میدان يې پرېښوم**
**څه په بې ننګو مې ترلي وو شرطونه**

*****

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## دیارلسمه برخه

د یوې لنډۍ تفسیر:

محمدالله همیم یو مبتکر ځوان دی چې ډېرې کارونه یې له نوښت سره مل وي. د لنډیو پّه برخه یې هم ډېر کار کړی دی، چې ما د ««بوډۍ ټال» د لنډیو نوې ټولگه» ترسرلیک لاندې یوه مفصله مقاله پرې لیکلې ده.

یووخت به محمدالله همیم په خپله پاڼه کې نوې لنډۍ خپرولې، خو د نورو نویو فرهنگي کارونو په وجه یې اوس لړشانتې لنډۍ هېرې شوې دي؛ خو نن (۲۰۲۵/۰۴/۰۴) یې یوه نوې لنډۍ په خپله پاڼه کې خپره کړې او ورسره یې د هغې لنډۍ سپړنه او تفسیر هم لیکلی دی. دا لاندې یې له لنډۍ سره د سپړنې او تفسیر بشپړ متن وړاندې کوم:

«پرون مې عجیبه لنډۍ واورېده:

ایتو د شکې چکلېټ غ.ی.م
زهٔ سپینه خولهٔ پهٔ سرو لوټو نه وبرکومه

لنډیو کې ډېر حالتونه همدغسې شدید رسم شوي. یا د ډېرې خوشالۍ، د ډېر خپگان، د ډېر زړهٔ سوي، د ډېرې گیلې... هر څهٔ یکې لهٔ تېره زړهٔ ویل شوي.

د پورته لنډۍ خبره کوم. دا هم د یو حالت (غوسې) شدید بیان دی. د پښتنو د یوې کلیوالې غږ دی. په چکلېټ د خولې ست یې په طبعیت بد لګېدلی. ډېر بد. شاید په جمالیاتي ذوق ښه نهٔ لګیږي خو د « غــ..یم » لفظ لکه د یو شي د غندلو کلیواله اصطلاح داسې راغلې.

موږ چې کلي کې وو. یو بزګر کلیوال مو نوې غوا اخیستې وه. چا یې د جوماتکي پیتاوي ته پوښتنه ترې وکړه. دهٔ ورته ووې: « ولې بهٔ نهٔ وي ښهٔ سره لوټونه مې پې ورکړي. » لنډۍ کې د سرو لوټونو خبره هم کلیوالې اصطلاح غوندې ده.

د کلي ژوند کې ډېرې خبرې وي. هلته ډېره سوچه ژبه او کلیمې موندل کیږي. د غوسې، خپګان، ښېرا، ناخوال، خندا، تاید... پر وخت ډېرې داسې اصطلاحاوې ویل کیږي، چې ډېرې جالبې او نوې دي.»

*****

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ثوارلسمه برخه

زه چې په هرځای کې اوسم، مخامخ له خلکو او له میډیا څخه لنډۍ راټولوم او خوندي کوم یې. په ټولنیزه میډیا کې ډېرځلې ښې او نوې لنډۍ ترلاسه کیږي. په دې لړ کې مې یوځل د فیسبوک په لویېښ کې داسې څو لنډۍ ترسترګو شوې چې پخوا مې نهوې لیدلې. د تنها جان په نامه فیسبوک‌پاڼه کې ابېنودل شوې وې. کله یې چې فیسبوکی‌پاڼې ته ورمليمه شوم،
https://www.facebook.com/profile.php?id=61550652644973

هلته مې د تنها جان ښکلې ويډيوګانې وليدلې چې دى د هلکانو په منځ کې ولاړ دى او له هغو نه پوښتنې کوي او کله له هغوى نه د لنډيو ويلو غوښتنه هم کوي.




ما ته هرڅه ښکلي و، نو مې وغوښتل چې له تنها جان سره د ده د فعاليتونو او په تېره د لنډيو د پرليکه کولو په باب اړيکه ونيسم. تنها جان ته مې د ۲۰۲۵ ام کال د مارچ په ۲۱مه نېټه په مسنجر کې داسي وليکل:

«سلامونه! هيله ده هرڅه ښه وي. ستاسو په ويډيو ګانو کې لنډۍ ما ته ډېرې نوې او ښکلې دي او زه يې پرلهپسې تولوم. غواړم د لنډيو په باب له تاسو نه څو پوښتنې وکړم چې بيا به وروسته د دې پوښتنو ځوابونه په يوې مقاله کې ځاى پرځاى کړم. که تاسو چمتو ياست راته

وېلیکئ چې هو، نو زه به خپلې پوښتنې په همدې مسنجر کې تاسو ته درولېږم چې راته ځواب یې کړئ.

له مرستې نه مو همدا اوس مننه! تربیا!»

خو ده ځواب رانهکړ.

ځو هغه لنډۍ مې ورنه راخوندي کړې چې د لنډیو په برخه کې اېښودل شوې دي.

*****

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## پنځهلسمه برخه

لکه تل په تولنیزه میډیا کې په نویو لنډیو پسې ګرځېدم چې راخوندي یې کړم. د فیسبوک د لنډو ویډیو ګانو په ډله کې داسې یوه لنډه ویډیو په مخه راغله چې یوچا په کې لنډۍ له میډیکل ساینس سره پرتله کړې وو.

زه چې خنګه پوه شوم چې خبره پرلنډیو باندې راڅرخي، نو مې ویډیو ترپایه ولیده. په ویډیو کې چې څه راغلي دي، زه یې لیکلې بڼه په لږ توپیر سره تاسو ته وړاندې کوم:

«نن خبره کوو په پښتو ټپه او میډیکل ساینس باندې:

خلک به وایې چې دا سرۍ د پښتو ادب دا زوړ او لرغونی صنف له نوي میډیکل ساینس سره کمپیر(مقایسه) کوي.

ميډيکل ساينس وايي چې د انسان زړه ځلور غتې برخې لري، کله چې پښتو لنډيو مطالعه شي، هلته ګورو چې په لنډيو کې هم د انسان د زړه يادونه شوې او ځلور برخې يې يادې شوې دي. دې لاندې لنډۍ ته پاملرنه وکړئ:

**زړه مې په منځ ځلورټوټې دی**
**هره ټوټه د بېوسۍ نارې وهينه**

د لنډيو تخليقونکي په لومړي ګام کې عام کليوال خلک وو، دا پاسنۍ لنډۍ هم د همدغو عامو کليوالو تخليقات دي، دلته دا پوښتنه پيدا کېږي چې دې عامو خلکو ته دا علمي حقيقت چا ويلی و چې دوی پوهېدل چې د انسان زړه ځلور برخې لري او دوی بيا دا علمي حقيقت په هنري بڼه د لنډيو په قالب کې انځور کړی دی.

دغه راز په يوه بله پښتو لنډۍ کې د ډيپريشن رواني موضوع مطرح شوې ده. هغه داسې چې که د يوچا زړه خپه وي، نو هغه ته ټوله نړۍ خپه ښکاري. هغه لنډۍ داسې ده:

**يا به زما پر زړه تياره وي**
**يا د تمامې دونيا مړه دي مشألونه**

په اوسنۍ زمانه کې ځينې کوم مرضونه په انسانانو کې ډېرعام دي او خلک ورنه کړېږي. په دې ناروغيو کې يوه وژونکې ناروغي د ساالخستلو يا تنفس موضوع ده او بله د زړه د ناروغيو ستونزې دي چې ډېره سلنه يې له سګرټڅښولو نه، له ککړې هوا او د لوګيو له تنفس نه رامنځته کېږي او د تنفسي ناروغيو سبب ګرځي. دغه موضوع ډېرځلې په پښتو لنديو کې په عجيب علمي ډول په هنري بڼه راوړل شوې ده. دا لاندې يې يوه غوره بېلګه ده:

**په سالنډۍ دې چلم پرېښود**

**زما د سپینې خولې دې نهمنل سوالونه**

دغسې د پښتو لنډیو نورې ډېرې ببلګې شته چې کره او منل شوي علمي مسایل پهکې راغلي دي. دا یې څو ببلګې دي:

**یا به زما پر زړه تیاره وي**
**یا د تمامې دونیا مړه دي مشألونه**

**په سالنډۍ دې چلم پرېښود**
**زما د سپینې خولې دې نهمنل سوالونه**

**زړه مې په منځ څلورټوټې دی**
**هره ټوټه یې د جانان نارې وهینه»**

*****

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## شپاړسمه برخه

یوهلنډۍ مې د ځوانانو له داسې یوه بندار نه را خپله کړه چې اور یې بل کړی دی، دوی شاوخوا ناست دي د حاضرینو له ډلې نه یو تن له دردمن مومند نومې نه هیله کوي چې یوه لنډۍ ووایي او هغه هم داسې لنډۍ وایي چې په هغه کې د ټولو خلکو له پاره لوی درس پروت دی. دا لاندې د یادې ویډیو لینک دی:

**حق د یتیم نه کرار کینئ**
**ترې نه جوړیږي اخرت کې عذابونه**

https://www.facebook.com/watch?v=1692413865031911

دغه‌راز په مرغلره دات ورگ کې چې تل ډېرې ښې لنډۍ پرلیکه کوي، یوه ورځ داسې ویډیو اپښودل شوې وه چې یوځوان په سوځنده غږ کې، سوځنده داسې لنډۍ د ساز په څپو کې وړاندې کوي چې لکه د چا خبره پر زړونو باندې اور لگوي. ما دا څو نوې لنډۍ ورنه راخوندي کړې:

**بیا به زما لارو ته گورې**
**ما به توبه ستا د یارۍ ویستلې وینه**

**د جنازې بازو مې نیسه**
**چېرې به ما په لاس کې لاس درکړۍوینه**

**تر جنازې مې مخکې مه‌ځه**
**روسته راځه چې دې تر سترگو وړاندې یمه**

**گرانه لالیه څه دې وکړل**
**د لښکر مخکې مخکې تلې کونډه دې کړمه**

https://www.facebook.com/reel/1071177744789319

*********

د سږنۍ (۲۰۲۵) روژې په ورځو کې هم لکه تېرکلونه ما د میډیا له بېلابېلو برخو څخه داسې لنډۍ راټولې کړې دي چې په روژه او روژه‌تیانو پورې اړه لري. د دې برخې له‌پاره مې دا لاندې لنډۍ تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کوم:

**په روژه‌ماتي زړه ته راغلې**
**دودۍ مې پرېښوده، سلگیو ونیومه**

د روژماتي وخت کې راشه
ما څه‌منلي دی، خو پټ یې درکومه

فرضي روژه ده کرار کېنه
چې اختر راشي بیا دې هریوه منمه

رنځوره یاره رنځ دې ورک شه
روزې نیوی شې، که غنم دروباسمه

که له روژې نه روغ راتېر شوې
جانانه زه له سپیني خولې درتېره یمه

چې ستا بېلتون مې خراب نه کړي
د پسرلي روژې مې نه‌خرابوینه

*****

د لنډیو اصلي منابع خلک دي
اوه‌لسمه‌برخه
کافرې ټپې

په ټولنیزه میډیا کې یوه برخه داسې لنډۍ ویډیوګانې دي چې ډېر خلک یې له اصلي کار او ژوند نه ایستلي دي او ډېره سلنه خلک یې داسې بوخت کړي دي چې دوډۍ او خوب یې هم هېر وي، خو د میډیا په همدې بڼ کې ما ته په دې نږدې ورځو (۲۰۲۵/۰۲/۰۵) کې د لنډیو د راټولولو د هڅو په لړ کې داسې لنډۍ په مخه راغلې چې ډېره سلنه یې نوې او نا خوندي شوې راته ښکاره شوې. په دې برخه کې محسوسېږي چې فعال کسان له نوې تکنالوژۍ نه په استفادې سره، له لنډیو سره موزیک او څه نور ضمایم ږدي.
https://www.facebook.com/reel/600490999101503

او داسې يې براېروي چې د لنډيو ښکلا او تاثير نور هم ډېرېږي او لوستونکي يې په مينې سره لولي. دا يې څو بېلګې دي:

له مسافرو سره څه وي
سترۍ بدن، د جانان غم، پردي کاروونه

جانانه غم دې مسلمان دی
ما د مولا تر اذان مخکې پاڅوينه
https://www.facebook.com/reel/1287752835585401

د ژوند خواږه دې رانه يوړل
بېلتونه تا دې خدای پر چا نه‌راولينه

زړه ته غمجنه ټپه راغله
چې بېلتون وړی يار به څه حالت کې وينه
https://www.facebook.com/reel/1576312659679479

د پښتنو بده‌رواجه
ليلا، لالي ته د لالا اواز کوينه
https://www.facebook.com/reel/600490999101503

ستا به لسمه يارانه وي
زما اوله يارانه ده زړه مې چوينه
https://www.facebook.com/reel/8682488821820289

ولې په ځير، ځير راته ګورې
صورت هغه دی، اندېښنو خوړلی يمه
https://www.facebook.com/reel/2246218582421515

د بېوسۍ زوره اوبه شي
په ډکو سترګو د خندا تمثیل کومه
https://www.facebook.com/reel/1563745007581342

که خدای کول لالی به جوړ شي
د لر او بر اولس دوعا ورته کوینه
https://www.facebook.com/reel/865797938757275

د قبر مړی رانه جوړ دی
پر زخمي زړه مې دي پراته د یار غمونه
https://www.facebook.com/reel/865797938757275

زما دننه زړګی غوڅ دی
د بېوسۍ خندا له هرچا سره کړمه
https://www.facebook.com/reel/1309246573556455

# اختر په پښتو لنډیو کې ځانته ځانګړی ځای لري

لنډۍ، د ښتولو ستونزه

۳۱۷مه برخه

پهٔ ریالونو پسې ورکه
لسم اختر دی بېېلهٔتائي تیرومه

د اختر ورځ کې هم رانهٔغلې
بس نورڅه نه شته، راته ګرځي ستا یادونه

**د اختر ورځ کې هم رانه‌غلې**
**بس نورڅه نه شته، راته ګرځي ستا یادونه**

لنډۍ داسې فولکلوریک شعر دی چې هرډول تولنیزو مطالبو ته په خپله لمن کې ځای ورکولای شي، د همدې اصل له مخې اختر د پښتو لنډیو د یو مضمون په ډول، په پښتو لنډیو کې ځانته ځانګړی ځای لري او خلک تل خپل اختریز احساسات او تأثرات د لنډۍ په قالب کې څرګندوي.

ما په تېرو اخترونو کې هم څه اختریزې نوې لنډۍ راټولې کړې او انلاین کړې وې، دا دی د سږني کوچني اختر په مناسبت مې هم څو داسې لنډۍ راټولې کړي چې د اختر په مناسبت د خلکو د احساساتو او برداشتونو د بیلګو په ډول مې راخوندي کړې.

*********

یوه‌لنډۍ مې د ځوانانو له داسې یوه بندار نه را خپله کړه چې اور يې بل کړی دی، دوی شاوخوا ناست دي د حاضرینو له ډلې نه یو تن له دردمن مومند نومي نه هیله کوي چې یوه لنډۍ ووایي او هغه هم داسې لنډۍ وایي چې په هغه کې د ټولو خلکو له پاره لوی درس پروت دی. دا لاندې د یادې ویډیو لینک دی:

**حق د یتیم نه کرار کېنځ**
**ترې نه جوړیږي اخرت کې عذابونه**

https://www.facebook.com/watch?v=1692413865031911

دغه‌راز په مرغلره دات ورګ کې چې تل ډېرې ښې لنډۍ پرلیکه کوي، یوه ورځ داسې ویډیو اپلوډ شوې وه چې یوځوان په سوځنده غږ کې، سوځنده داسې لنډۍ د ساز په څپو کې وړاندې کوي چې لکه

د چا خبره پر زړونو باندې اور لګوي. ما دا څو نوې لنډۍ ورنه راخوندي کړې:

**بیا به زما لارو ته ګورې**
**ما به توبه ستا د یارۍ ویستلې وینه**

**د جنازې بازو مې نیسه**
**چېرې به ما په لاس کې لاس درکړېوینه**

**تر جنازې مې مخکې مه ځه**
**روسته راځه چې دې تر سترګو وړاندې یمه**

**ګرانه لالیه څه دې وکړل**
**د ښکر مخکې مخکې تلې کونډه دې کړمه**

https://www.facebook.com/reel/1071177744789319

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## اتهلسمهبرخه

د نویو لنډیو د راپیداکولو او انلاین کولو په برخه کې یو فعال فرهنګي ښاغلی حنیف حیران دی، د حیران صاحب له پاڼې ښخه ما پخا هم نوې لنډۍ راخوندي کړې دی، دا دی اوس هم څو نوې لنډۍ د ده له فیسبوکپاڼې ښخه په مننې سره رااخلم:

نیستي: لنډۍ

**نیستي بدبویه ده عالمه**
**د ابۍ زوی مې نغري ته نهٔ پرېږدینه**

**نیستي بدبویه ده عالمه**
**پهٔ لار کې ناست وم نجونو مخ نهٔ پټاوونه**

**نیستي بدبویه ده عالمه**
**مئین اشنا پهٔ لاره ځي مخ پټوینه**

**په پخوانو سترګو راګوره**
**نیستي دې ورکه شي سرې بدرنګوینه**

**نیستي د خدای له لوري راغله**
**موزي په ما منت کوي چې خوار دې کړمه**

**په هستۍ هر سړی لوَړیږي**
**بده نیستي ده سیال له سیاله کموینه**

**چې د لالي مې نیستي نه وای**
**پیوند ټکرۍ به مې په اور سبزلۍ وونه**

**شال کې مې شل پیونده ښهٔ دي**
**چې لالی وي نیستي به تېره شي مئینه**

**نیستي پیغور نه ده جانانه**
**زه په چربانګ میچنه ستا لپاره کړمه**

**مرګی خو ښهٔ دی پرده پوښ دی**
**بده نیستي ده ښهٔ ځوانان بدرنګوینه**

د ښاغلي حیران ترخنګ دا ځل په یوې نوې فیسبوکـپاڼې (د شاعرانو بنډار) کې مې هم ځونوې لنډۍ ترسترګو شوې، ما هم راخوندي کړې

او دا دی دلته د دې پاڼې له مسؤل ښخه په مننې سره تاسو درنو لوستنوکو ته وړلندې کوم:

ټپې (لنډۍ):

ولې دې بله ډيوه مړه کړه
په سود مينه تيل به ما راوړي‌ونه

د ځوانۍ ونه مې زړه شوه
د صبر ونه به مې اوس نيسي ګلونه

هغه په‌خپله راپريوځي
چې په رنځوره پانه ولړي بادونه

زما له تانه ګيله کېږي
ما ستا کوڅه کې رقيبان ليدلي دينه

د بيلتانه سيلۍ لګيږي
ټول عاشقان وطن پريږدي، کډې ترينه

خالي کنډر د لالي پروت دی
ترينه راخيژي د چنچنو اوازونه

د کلي منځ کې ډزې وشوې
په زړه سورې شې ياره ودې کړه کوژدنه

ماته پردي بچي راټول کړئ
زه پرې د خپلو بچو مينه ماتومه

زه دې زړو نيکو ته ګورم
ځکه دې پېښې اوس په دې نوو بدو ړدمه

**زما څلور څانګې جانانه**
**له هرې څانګې دې ځولۍ ګلونه وړمه**

**شال مې په پـړي باندې زوړ شو**
**نتکۍ مې زنګ شوه، پيزوان تورې خاورې شونه**

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## نولسمه‌برخه

**په زړه مې خپل وطن وريږي**
**لکه د زانو قلقلې پسې کومه**

**په بل وطن مې پيرزو نه يې**
**که د بادشاه په شان دې ژوند وي ورک دې شينه**

**موږ د ناښاد وطن بچي يوو**
**په موږ اوس ښاد دي د پردېو وطنونه**

لکه تل عبدالعزيز نايبي بيا مهرباني کړې او يو شمېر لنډۍ يې رالېږلي دي چې دلته بيا مننه ورنه کوم. د لنډيو په پيل کې يې داسې راته ليکلي دي:

ګران استاده سلامونه احترامات ومنه!

هيله ده چې روغ رمټ او خوشحاله وې.

استاده! دا څو لنډۍ مې په دې موده کې راټولې کړې دي، که تاسو ته نوې ښکاري نو د لنډیو اړونده لیکنو کې مو ورڅخه ګټه اخیستلی شئ، زه یې د فیسبوک له ملګرو سره شریکوم.

له ښاغلي نايبي بيا مننه او زه به یې له راليږلو لنډیو څخه نوې لنډۍ له تاسو درنو لوستونکو سره شریکې کړم:

## د لنډیو اصلي منابع خلک دي

### شلمه‌برخه

په دې وروستیو (۲۰۲۵/۰۹/۱۰) کې یوځل بیا د فیسبوک په بڼ کې له یوې نوې او نوښت لرونکې فیسبوکپاڼې سره مخ شوم، د ا پاڼه «نیمګړېمینه» نومیږي.

په دې پاڼه کې له د عکسونو په ملتیا لنډۍ خپرېږي چې ډېره سلنه یې نوې دي. د پاڼې مسؤل دومره زحمت ایستلی دی چې له جالبو عکسونو او منظرو سره جلا جلا لنډۍ، د عکسونو پر لمن باندې لیکي او انلاین کوي یې. دا پاڼه په ټول کې ګڼ ذوقي، ادبي، معلوماتي او دیني مطالب خپروي، خو ډېره پاملرنه یې لنډیو ته ده.




د دې مقالې د لا غنا له پاره مې، د یادې پاڼې مسؤل ته د ۲۰۲۵ ام کال د سپتمبر پر لسمه د یو لنډکي پیام په ملتیا، داسې ولیکل:

سلامونه!

هیله ده هرڅه ښه وي.

زه آصف بهاند نومېږم، پخوا په کابل پوهنتون کې استاد وم او اوس په ډنمارک هېواد کې ژوند کوم، ډېره موده کېږي چې د لنډيو په باب څېړنه کوم او نوې لنډۍ راټولوم، تراوسه مې د لنډيو څلور ټولګې خپرې کړې دي.

د لنډيو په باب ستاسو کار هم په فيسبوک کې زما خوښ شو او هغه لنډۍ چې زما له پاره نوې او په زړه‌پورې وې، راخوندي مې کړې.

زه غواړم چې د لنډيو په باب ستاسو د نوښت لرونکي کار په باب د يوې مقالې په چوکاټ کې يو څه وليکم، هيله کوم لاندې پوښتنو ته د فرهنګي او وطني مينې په خاطر ځواب راکړئ:

ــ کله مو د «نيمګړې‌مينه» په نامه دا فيسبوکپاڼه جوړه کړې ده؟

ــ تاسو له څه مودې راپه دې خوا د لنډيو خپرولو کار پيل کړی دی؟

ــ په اټکلي ډول به مو تراوسه څومره لنډۍ خپرې کړې وي؟

ــ د لنډيو د خپرولو اصلي موخه يا مقصد به مو څه دی؟

ــ دا کار د تفريح له پاره کوئ، که د پښتني فولکلور د عامېدو او ترنورو خلکو پورې د رسولو په موخه؟

له مرستې نه مو همدا اوس مننه

آصف بهاند

د يادې پاڼې مسؤل تر يوڅه ځنډ وروسته زما د پيام او پوښتنو په ځواب کې د ۲۰۲۵ ام کال د سپتمبر پر دولسمه داسې راته وليکل:

«خدای تعالی دې تل تاسې روغ، خوشحال، بريالی او سرلوړی لره. وعليکم سلام استاد آصف بهاند صيب! ډېره مننه چې مو له ما سره

اړيکه ونيوله. ستاسو نه ستړې کېدونکې خدمت او ارزښتمن کار چې د پښتو ژبې، فولکلور او په ځانګړي ډول د لنډيو په برخه کې ترسره کوئ، د ډېر قدر او ستاينې وړ دی. تاسو د پښتو د فرهنګ د زرينو خزانې د ژغورلو او راتلونکو نسلونو ته د رسولو لپاره مهم کار کړی دی.

نږدې څلور کاله کېږي چې مې دا پانه جوړه کړې ده. له لومړۍ ورځې مې د پاڼې د جوړولو سره سم د لنډيو خپرول پيل کړي دي. دقيق شمېر نه لرم، خو اټکل کوم چې تر شپږ زره (۶۰۰۰) زياتې به مې خپرې کړې وي. زما موخه يوازې تفريح نه ده. غواړم چې د پښتني فولکلور دا مهمه برخه چې د ولس د احساساتو او فکرونو انځور دی، له هېرېدو نه وژغورل شي او راتلونکو نسلونو ته ورسېږي. تفريح يې يوه برخه ده، خو اساسي موخه مې د پښتني ولسي ادب ژوندی ساتل، خلکو ته د هغوی د فرهنګي ميراث يادونه کول، او همدارنګه د پښتو ژبې ښکلا نورو ته رسول دي.»

ما په همدې ورځ بيا داسې وړانديز ورته وکړ:

ډېره مننه!
کومه مقاله چې زه ستاسو د فرهنګي کار (د لنډيو ټولول او خپرول) په باب ليکم، د هغې مقالې د لا غني کېدو او ښکلا له پاره غواړم په مقاله کې خپلو مخاطبينو ته ستاسو لنډه بيوګرافي هم وړاندې کړم. که کوم ممانعت نه وي، هيله ده چې خپله لنډه بيوګرافي هم ماته راولېږئ.

زما له نظره د دې پاڼې د مسؤل بيوګرافي خپرول ځکه اړين دي چې دی په مدرنه بڼه د پښتني فولکلور په معرفي او خپراوي کې ځانګړی او د قدر وړ کار کوئ، نو ده زما د بياځلي ټينګار له مخې ځبل ځان داسې را وپېژانده:

«زه سمیع الله حسین‌خیل یم. په ۱۳۸۳ کال کې په پاکستان کې په یوه کډواله کورنۍ کې زېږېدلی یم. لومړنۍ زده‌کړې مې د کابل د ابوذر غفاري رض ښوونځي کې وکړې، منځني هم، او د حبیبیه ښوونځي څخه فارغ شوم. اوس مهال د کابل په خاتم النبین ص پوهنتون کې محصل یم. د پښتو ژبې او فولکلور سره مې ډېره مینه ده. شاوخوا ځلور کاله مخکې مې د فیسبوک په نوم «نیمګړې مینه» پاڼه جوړه کړه او د پښتو لنډیو نشرول مې پیل کړه. په پیل کې دا کار مې د شوق او تفریح لپاره کاوه، خو وروسته مې ولیدل چې خلک د لنډیو او ټپو سره ډېره مینه لري، او دا زما لپاره د پښتو ژبې او فرهنګ د خدمت یوه لاره شوه. زه باور لرم چې لنډۍ د ولس ګډه شتمني ده، او زه یوازې د هغوی د خوندي کولو، ژوندۍ ساتلو او خلکو ته د رسولو هڅه کوم.»

هره‌ورځ یا ورځ په منځ کې ځو نوي او جالب عکسونه او د هر عکس سره هماغسې نوې او جالبې لنډۍ داسې پرلیکه کوي چې لیدونکي یا لوستونکي له ورایه ورماتوي او لوستلو ته اړ کوي. په دې ډول دا پاڼه په خلکو کې د ټولنیزو شبکو د ډېرې کارونکو پرخلاف یوازې د فولکلو او فرهنګ له پاره کار کوي. زه یې دلته د کار څو بېلګې له لینکونو سره په مستند ډول وړاندې کوم:

**په بارانه کې دا کمال وي**
**له یاده تللي خلک بیا دریادوینه**

**مور دې د کور کارونه غواړي**
**ته رانه غواړې په نکریزو سره لاسونه**

**چا ته به مړلالی یادېږي**
**څوک له ژوندي لالي نه لرې تللي دینه**

**اختره رالې، خوند دې نه‌شته**
**زړونه مو مات دي، له مستۍ لوېدلي‌دینه**

https://www.facebook.com/photo/?fbid=756094727403781&set=pcb.756094990737088

په دوعاګانو هم خپل نهشو
په نيموشپو مې رب ته ډېر ژړليدينه

ببګا مې خوب کې يار ليدلی
د زړهزخمونه مې نن بيا پرې شويدينه

ته به په څه حال يې لاليه
د مازديګرووږانګې دې مخ رايادوينه

https://www.facebook.com/photo/?fbid=758418180504769&set=pcb.758418367171417

د زور دې نهيم زورورو
د زړه ازار به درته ټول عمر کومه

ټپه، ټپه خال به دې ښکل کړم
غزل، غزل سترګو ته مهنيسه لاسونه

په لالي خپله سا درنه ده
درنې کمڅۍ مې اړوي، ځان غرقوينه

پخوا د هېڅچا په کار نهوې
چې ما لالی کړې، قافلې درپسې ځينه

https://www.facebook.com/photo?fbid=757685450578042&set=pcb.757685540578033

د دروازې ملنګ ته وايه

صبر دې وکړي، په لمانځه ولاړه يمه

خدای به مې ورک لالی پیدا کړي
بیا بــه همزولو منـځ خواره نهکېـنـمه




https://www.facebook.com/photo/?fbid=756918820654705&set=pcb.756918963988024

ته خو مې خپل کړه، توره وکړه
لکه د سوي لاس ساتنه به دې کړمه

د سترې ژوند، سترې کيسې دي
جانانه مه مې غږوه، ژړا راځينه

بنه دې سترګو کې درمات شه
تېره، تېره مې تر زړګي وتلېدينه

د لالي سر دې سلاموت وي
زما پرسر دې د دونيا غمونه وينه

لالا له ما سره زياتی دی
وړېجلکی په بنو چا ورکړېدينه

https://www.facebook.com/photo/?fbid=755230184156902&set=pcb.755230290823558

ستا په راتلو دادا قهرېږي
نور به خولګی په دروازه کې درکومه

ښنګه مې پاس پر سينه پروت يې
د اخيرت سختی دې هېرې دی مئنه

https://www.facebook.com/photo?fbid=754837800862807&set=pcb.754837890862798

**ناسم لنډۍ:**

د لنډيو لهپاره دا ځانګړې شوې پاڼه که په ځيرسره وکتل شي، يوڅه نيمګړې اړخونه هم لري. په دې پاڼه کې له ډېرې زحمتکشی سره سره، ځينې نيمګړتياوې هم شته. په لنډيو کې ځينې ټيپی تېروتنې او املايي ستونزې شته چې دلته يې زه لومړی د لنډيو ناسمه انلاين شوې بڼه رااخلم او بيا يې سمه بڼه ليکم او بيا درنو لوستونکو ته وړاندې کوم. هيله ده چې دا کربنې او د لنډيو په ناسمو ببلګو باندې د مسؤلينو سترګې ولړېږي او په راتلونکو کې تېروتنې تکرار نهکړي:

ناسمه بڼه:

اسمانه کرن وهه رالوېگه
پما قیامت ده چې په تولو قیامت شینه

سمه بڼه:

اسمانه کړنګ وهه رالوېږه
پرما قیامت ده، چې پر ټولو قیامت شینه

https://www.facebook.com/photo/?fbid=756162050730382&set=pcb.756162284063692

نا سمه بڼه:

پلار یه د کلي فیصلې کړي
لور یه په تورو سترګو کلي ورانوینه

پلار يې د کلي فیصلې کړي
لور يې په تورو سترګو کلي ورانوینه
https://www.facebook.com/photo/?fbid=755620117451242&set=pcb.755620380784549

ناسمه بڼه:

د جدایي اول ماښام دی
ملا اذان کری زه سلګو نیولی یمه

سمه بڼه:

د جدایي اول ماښام دی

ملا اذان کړي، زه سلګو نيولےیمه
https://www.facebook.com/photo/?fbid=756162020730385&set=pcb.756162284063692

ناسمه بڼه:

د جودابۍ زور مې لېدلي
کور کښې مرغو ته جالې خپله جوراؤمه

سمه‌بڼه:

د جدايي زور مې ليدلی
کور کې مرغو ته جالې خپله جوړومه

https://www.facebook.com/photo?fbid=755290034150917&set=pcb.755290747484179

ناسمه بڼه:

جانانه وینښ بې که ویده یې
ستا له کوټې مې لاس ترلی تیوینه

سمه‌بڼه:

جانانه وینښ یې که ویده یې
ستا له کوخې مې لاس ترلی تېروینه
https://www.facebook.com/photo?fbid=755290087484245&set=pcb.755290747484179

ناسمه بڼه:

په خوله توبې توبې وباسم
په تا مئن زړګی توبې نه قبلوینه

سمه‌بڼه:

په خوله توبې، توبې وباسم
پر تا مئن زړګی توبې نه‌قبلوینه
https://www.facebook.com/photo?fbid=754449754234945&set=pcb.754449910901596

ناسمه بڼه:

خوله مې ترې غوښته غېږه يې راکړه
خدایه خیالي لیلا ته ورکړې جنتونه

سمه بڼه:

خوله مې غوښته، غېږه يې راکړه
خدایه خیالي لیلا ته ورکړې جنتونه
https://www.facebook.com/photo/?fbid=766943662985554&set=pcb.766943816318872

د «نیمګړې مینه» فیسبوک‌پاڼې دې نیمګړتیا ته مې ځکه د پاڼې د ښاغلي مسؤل پام په جدي ډول ورواړاوه چې ډېر خلک، په تېره ځوانان دا پاڼه تعقیبوي او په دوی کې ښايي یوشمېر مبتدیان هم وي، خدای مه‌کړه چې دا یاد خلک، یادې تېروتنې د سمو په ډول قبولې نه کړي چې بیا به دا تېروتنې تر ډېرو پورې پسې تکرارېږي؛ مګر کار يې ډېر ارزښتمن او د قدروړ دی.

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## يوويشتمه‌برخه

د انقلاب زور خو دې وليد
ډيرې وريندارې اوس لېورو ته ناستې دينه

زما اوربل تر نيم ډېر سپين شو
جانان پردي وطن کې څه ليدلي دينه

وطن کې خړه غريبي ده
وړوکي مست نه دي چې د مور غېږه پرېږدينه

ښاغلي عبدالعزيز نائيبي د خپلو دايمي همکاريو په لړ کې يو ځل بيا څو لنډۍ رالېږلې دي چې زه يې له ده نه په بيا بيا مننې، له تاسو درنو لوستونکو سره شريکوم:

## د الفبې په ترتيب سره، د نوو راټولو کړو لنډيو متن:

### الف:

اول يې تول کړه، بيا يې يار کړه
بيا يې په سر باندې ترې درانه شرطونه

اول دې راشي ما دې مړه کړي
بيا دې پردې وطن کې شپې سبا کوينه

اسره مې ته شې لويه خدايه
د للمې ګل يم په باران ګوزران کومه

اختره رالې، خوند دې نـه‌شته
زړونه مو مات دي، له مستۍ لوېدلي‌دينه

اول مې نـه‌ژړل، اوس ژاړم
کمکوتۍ يار مې لوياوه، د نورو شونه

اخري‌ورځ ده راته ګوره
بيا به د يوبل د ليدو ارمان کوونه

استاده خير دې ما کامياب که
زه نالايقه د جانان د لاسه يمه

اول ياري دې پۀ زاري وه
اوس دې راځي پۀ غم لړلي ځوابونه

اوس د هيچا د سيالۍ نه يم
لکه زخمي کوتره ببله ناسته يمه

اوس به دې پلار رانه خلاص نهشي
له ما دې دې ټول عمر ريوړی خوړليدينه

انقلابي پيغله به وکړم
چې په کاروان کې څنګ په څنګ راسره ځينه

اوس مې د عمر تاوان غواړم
نری نری خندا دې کړه، رنځور دې کړمه

اصلي وطن افغانستان دی
اوس مې نصيب نورو ښارو کې گرځوينه

اصلي وطن مې کابل جان دئ
له وطن لرې مجبوری راوستی يمه

اصلي وطن ميې کابل جان دئ
لورالائی ته مجبوري راوستئ يمه

اينه کی ځانته په ژړا شم
بدرنګه نه يم، په نيستی يی پرېښودمه

اوس مې د عمر تاوان راکړه
نری نری خندا دې کړه، رنځور دې کړمه

اختره ښنګه درته خوښ شم
ما ته د ورور جامې ګندلي پاتېدينه

اختره غلی به ما تېرشه
جانان خپه دی، هېڅشی خوند نهراکوينه

اختر دریمه ورځ هم ولاړه
لارکې ولاړ و، بېدیدنه پاتې شومه

الله دې تا پر چا مئن کړي
که ودې‌نه‌ژړل نو سور کافر به یمه

اوس به دې کلي ته ناري کړم
دې حرموني په ما لاس ولګونه

اوربل يې ما دانه وانه کړ
د ماهيپر سيلۍ پې ځان بدناموينه

ارمان به وکړې، زه به نه يم
زړه به دې کيږي، څوک به غيږ نه درکوينه

اوښکې مې پرېږده چې بهيږي
زما د زړه چينې په جوش راغلې دېنه

الله دې راوله لاليه
چې دې پر سترګو او لېمو وګرځوومه

اختر ته لنډې شپې پاتې
ما ته ولاړ د ويرونو لښکرونه

اختر د هغو مبارک شه
د چا چې هيلې سوځېدلې، پرې وزرونه

اختر ته سرۍ نکريزۍ راوړه
چې درته سره کړم تولې لارې ګودرونه

اختر نژدې دی روژه لاړه
ما ته پراته دي لا هماغسې غمونه

اختر ته څو ورځې وخت پاتې
په زړه ميراتې به د چا لارې څارينه

اختر نژدې دی روژه لاړه
ښکلې بهٔ چاته سرې منګولې ښکاروينه

اختر ته څو ورځې په شمار دي
د دورغجن لالي په تمه ناسته يمه

اختر د غم استازي راوړل
اشنا په تورو خاورو پټ دی نه پاځينه

اختر چې تېر شي، بيا به راشي
په نادانۍ عمر چې تېر شي نه راځينه

اختر او بېاختره يو دي
لکه تل نه يې، رانه تاو دي ستا يادونه

اختر پهخپله راروان دی
څوک دلته نهغواړي بېياره اخترونه

اختر په وخت د غمو راغی
خوښي ويرونه سره ګډشول، زړهمو چوينه

اختر خپه، موږ هم خپه يوو
راباندې بار دي د وطن درانه غمونه

اختر ته مست اتڼ به وکړم
چې زاره‌چاودي شي ښپلتون او ډېر ویرونه

اختره ځان په عذاب نه‌کړې
ویر مو عادت دی، نه بدلیږي عادتونه

اختر زکوړ په نصیب نه‌شته
یا دې راځي‌نه، یادې ورک کړي نصیبونه

اول دې و، اخر دې نهٔ ؤ
پهٔ نیمه خوا یارۍ دې زهٔ پښېمانه یمه

اول بهٔ ماته خلک ناست وو
اوس به د فقرځولۍ بل ته غوړومه

اختر ته تول مسافر راغلل
په نصیب‌کم جانان مې ولې نه‌راځینه

اور د یارۍ مې زړه کې بل شو
بیلتون مې مل شو، واویلا نارې وهینه

اشنا په داسې لمبو وسوم
نهٔ یې لوګی شته، نهٔ یې تاؤ چاته ورځینه

اسمان ته تګ په عقل کېږي
موږه د عقل سره ډزې کړې دینه

اینې ته ګورم په ژړا شم
بدرنګه نه یم په نښتۍ یې پرېښنودمه

اشنا د لارې نه هېرېږي
زه به د عُمر لالی ښنګه هېرومه

اميره ستا نوکران ډېر دي
د تور اوربل نوکر راپرېږده چې راځينه

اوښکې مې پرېږده چې بهېږي
نن مې غمونه پخواني ياد شوي دينه

اواز مې ډېر دی نه راخېژي
ستا د سينې لونګ مې ټول خوړلي دينه

اور مې د زړه په کور بلېږي
شيرين لالی مې سبا بل وطن ته ځينه

اوبه، اوبه ځواني مې نه شته
تندرستې متې مې، غموو خوړلې دينه

ادکې مورې په ژړا شوم
په پيشلمې کې دې رانغلل اوازونه

اسمان ته ګوره، ښنګه شين دی
زړه مې همداسې درپسې شين دی، وبه‌مرمه

اسمانه کږنګ وهه رالوېږه
چې ډلې، ډلې دوسان درلاندې شينه

ارمان، ارمان ده چې زړه شوم
لکه د توتو پانې خوشې باد مې وړينه

اس دې د توت لاندې قيضه که
که مې د بدو زور لرې، درسره ځمه

اوس مې د زړه رضاګۍ نه‌شته
لالی دې لارې بدلوي چې هر خوا ځينه

اوس راته توره، توره وايي
زه به جانان ته په غرمو ولاړه ومه

اوس راته توره، توره وايي
زه به جانان ته په غرمو ولاړه ومه

اول مې شوق د انګرېزۍ و
جانان پښتون دی اوس ياګانې زده کومه

ادکه مور سره چينه ده
پردۍ مېره د خوست ګرمي ده و يې سومه

اول مې شوق د انګرېزۍ و
جانان پښتون دی اوس ياګانې زده کومه

ادکه مور سره چينه ده
پردۍ مېره د خوست ګرمي ده، و يې سومه

ارمان ځوانۍ پسې په کار دی
کم عقل خلک د دولت ارمان کوينه

اختر د ټولو مبارک شه
د هغو مه‌شه چې انسان ازاروينه

اختر د ټولو مبارک شه
ډېر د هغو شه چې په بل وطن کې دینه

اختر ته ورځې په شمار پاتې
په زړه میراتی به د چا لارې څارینه

اوس ناڅاپي مرګونه ډېر شول
جانانه خپل حق رابښه خپل دربښمه

اوس که اباد یم که برباد یم
تا ته به یاد یم چې په څه دي پربښودمه

آ پخوانی ځواني مې نه‌شته
اوس د مرګي په تمه شپې سبا کومه

امېد مې شته امن به راشي
د ملا لور ګودر ته ځي ټپې کوینه

اواز مې ډېر دی نه راخیژي
ستا د سینې لونګ مې ټول خوړلي دینه

اوربل یې ما دانه‌وانه که
د کنډوګي سیلۍ پرې ځان بدناوموینه

اول ـ اول و، اوس اخر دی
اول به نه وم اوس مئین دربانډې یمه

آپخواني وختونه نه شته
چې په ښایسته پېغلو به ښکلي وو صنفونه

ازاروه مې مه جانانه
بل به پيدا شى بيا به تا ازاروينه

احوال لرې، که خبردرکړم
لاليه ځان په ليونو حسابه‌ومه

اشنا به نوروګلو مست دى
د کوټې شا ته يې وراسته شول زېړګلونه

اول اول و، اوس اخر شو
اول به نه وم، اوس مېښن دربانډې يمه

اول به دواړه سره ناست وو
اوس چې يوازې چېرته کښنم وژاړمه

اول مې نه خوړل ګلو نه
اوس په پردي وطن کې ترخې تولومه

ادې اوبه راپسې پاشه
په سختو لارو قاچاقي له ملکه ځمه

اوس نيمه شپه، خلک ويده دي
هغه به ويښ وي چې يې خېټه وږې وينه

په نيمه‌شپه يې په ژړا کړم
د يار غمونه په لښکر راغلي‌دينه

پرېږده چې لوي واړه خبر شي
يا به مې درکړې، يا به مړه درپسې شمه

پام دې په بله خوا اوښتی
بيا به دې بل تر ما نه ښه ليدلی‌وينه

په حافظه به ظلم تير کړم
تا به تری هير کړم، زه به بيا پخوانی شمه

په ياراني پښيمان ته وايه
زه دې د سر صدقې اوس هم ورکومه

پردی وطن، پردی کوڅې دي
بې‌قدره شپې دي چې پرځان يې تېرومه

پښتو مې ستا په سر کوله
ته بې پښتو شوې، نو پښتو چا ته کومه

پرېږده چې ټول وطن خبر شي
که مې در نه‌کړې زه به مړه درپسې شمه

پر مخ مې مه‌وهه چې خوږېږم
پوزه مې پرې‌کړه چې پر تا مينېږمه

پيره چاره کوه، غرقېږم
د چا د دوو سترګو ازار وهلی يمه

په تا مې غم کله پيرزو دی
بې‌غمه ياره ښېرې خپل ځان ته کوومه

پر مخ دې زخې راپيدا شه
چې د ښايست غرور دې دړې‌وړې شينه

**ب:**

ښېلتونه ښه سزا دې راکړه
يو رنګدېوال دی، بله زه ورناسته‌يمه

ښېرته مې مه‌شړه نيمګړی
زهٔ دې پهٔ تمه د ليدو راغلی يمه

باران وريږي، شال پرسر کړه
پيريان مې نيسي، چې لنده دې وويـنمه

ښېګا دې نيمه خولګۍ راکړه
ژبه مې سوځي، غاښ مې ټول ورژېدنه

ښېلتون له هر چاسره مل دی
زهٔ تنها نهٔ يم چې ګيلې ځنې کومه

باران، بايللی يار رایاد کړ
د چا له غاړې به يې تاو وي مړوندونه

ښېګا مې خوب کې يار ليدلی
د زړه‌زخمونه مې نن بيا پرې شوي‌دينه

ښه دې سترګو کې درمات شه
تېره، تېره مې تر زړګي وتلي‌دينه

ښنګړي دې اوس هم راسره دي
ماتې‌ټوټې يې ښکلوم، تـا يـادومه

ښېګا مې يارسره وعده ده
دلاس ښنګړي مې پهٔ لتو ترلي‌دينه

ببلتانه وسوم، غم ايرېکړم
خوښه د باد ده چې په کوم لوري مې وړينه

ببلتون ته وايه، لاس دې خلاص دی
يـار دې جـدا کړ، نـور دې څـه پروا لـرمه

ببلتون ټوپک شو راته ډک شو
ناڅاپه ټک شو له هرڅه يې وويستمه

باد دی پلــو له مخ نه يوسه
چې د نری غــاړې دې وکړم ديدنونه

ببلتونه د زړونو سوداګر دی
د اشنا قدر په اشنا پيدا کوينه

بارانه ورو ورو پرې ورېږه
وړې وړې جينکی غره ته تللي دينه

بيا دې ملالې سترګې سرې دي
د کور کافرو درته څه ويلي دينه

بدن مې تول خوشبو ـ خوشبو شو
لاچې لونګ جانان پهٔ غېږ کې ونيومه

بلها دردونه مې پرې تېر کړل
زه به د زړه د لاسه خاص دوزخ ته ځمه

بې له سينګاره به ژوند تېر شي
بې له کتابه ژوند نيمګړی تېرومه

بالښت مې شته خوبونه نشته
ادې راويښه شه، چې وکړو مجلسونه

بنې ببلتون راسره مکړه
له موره يو لالی به دواړه ښه ساتونه

بيا چې مې قبر ته رانشې
په ژوند مې خوا له نه‌راتلې، څه دې کومه

بې له ادکې پيشلمې دې
دودۍ بېخونده، اوبه زهر غوندې دينه

بې وسې توره وې که سپينه
لالی مې ځې زه په کنډو ولاړه يمه

بېوفايي مې کړې نه ده
که ته اوبه راخړوې ببوسه يمه

باد د کابل له لورې راغی
په وازه خولهٔ يې لړمانهٔ ته تيرومه

بيا به ارمان راپسې وکړې
چې مې دې سقات روپو ته ونيسې لاسونه

بنارسۍ دې په سر نه شوه
هر چا ته خاندې، څوک دې نه واده کوينه

بې له ادکې پيشلمې دی
دودۍ بې خونده، اوبه زهر غوندې دينه

بيا به د غرونو جانان نيسم
د ښار جانان په سرې ډول خرڅوينه

باد نن له پاسه، که له ښکې دی
بوی د جانان مې په دماغ ولګېدنه

بيا چې راځم هرڅه به تېر وي
څوک به مې هېر وي، چا به زه هېر کړی يمه

بارانه لس ورځې ورېږه
نه مې غنم شته، نه د يار ديدن له ځمه

بې وفائي مې کړې نۀ ده
دا چې اوبه را خړوې، بې وسه يمه

بېروزګاري توره بلا ده
له بېکارۍ نه هلک روږد په بنګو شينه

باران ورېږي شال په سر کړه
پيريان مې نيسي چې لمده دې ووينمه

بې د جانانه جنت څه کړم
زۀ د جانان سره دوزخ ګلزار ګڼـمه

بيګاه رانغلې بدنصيبه
لکه د ګوړې بوجۍ نېغه ناسته ومه

بوی د لمدو نکريزو راغی
د کومې پېغلې د کوژدې دسمال به وړينه

بل ځای ته مه ځه خپله یاره
که رانه لاړې، درنه مینځمه لاسونه

بایللی یار دې راپه یاد که
باجه دې ماته شه ژړا درونیومه

بیا دې لۀ سره مبارک وي
داسې بریا خو د خوښۍ ارزښت لرینه

بیا چې راځم ژوند به مې تېر وي
ځوک به مې هېر وي، چا به زه هېره کړې یمه

بیا به د ګلو ښار ته نه ځم
په خندا لاړ شم، په ژړا بېرته راځمه

بخت مې ویده، غم مې بېدار دی
د چا ازار دی، یار مې نه کوي پوښتنه

بېلتون زما مېړنی ورور دی
په مېراثۍ کې رانه یار جدا کوینه

بیلتون دې قدر را معلوم کۀ
که بیا مې یار شوې غلامي به دې کومه

باران یې مه بولئ عالمه
زموږ په غم باندې اسمان ژړلي دینه

بیا به زما لارو ته ګورې
ما به توبه ستا له یارۍ ویستلېوینه

بې اوره وسومه ستي شوم
ملالو سترګو پهٔ ما اور ولګاونه

بې ادبي له مانه وشوه
پهٔ بې امرۍ مې د يار مخ ته وکاتنه

## پ:

په نيمه شپه باندې را نهشي
بابا ټوخيږي، ابۍ نېغه ناسته وينه

په نيمه شپه هسې راياد شوې
هغه راغلی خوب مې بيا وتښتيدنهٔ

په نيمه شپه بيداره اوسه
د بزګر لورې پلار دې بيا اوبو ته ځينه

په نيمهشپه خلک ويده شي
پر ما ميلمه شي د شيرينوطن غمونه

په نيمه شپه ديدن ته راشه
خلک ويده وي، ستوري نه وايي حالونه

په نيمه شپه مې ازار وکه
تاته مې نه که، ياره خپل ځان غرقه ومه

په تورو سترګو مې ړنده کړې
چې جانان نهشته، زه يې ولې تورومه

په نيمه شپه دې سلګۍ وکړې
ياره ناروغ يې، که نيستي دې ژړوينه

پر ډېوالو ختل مې زده کړل
د دلهګانو سپي به ډېر وغپومه

په صبرولو چې صبرېږي
پوه شه چې دا به دروغجنه مینه وینه

په ژړا راغله راته وایي
کمیس مې زوړ دی نور پرې نه کېږي ډولونه

په لېونو سپو کې راګیر یم
یاران په غټو، غټو ګوري ما ترې خورینه

پرېږده چې لوی واړه خبر شي
یا به مې درکړي یا به مړه درپسې شمه

پخوانی یار په مخه راغی
له خپلو بدو شرمېده ټيټ یې کتنه

په مرګ به مرم پاتې به نه شم
تا نه دې مخکې شم چې درشي ارمانونه

په چا مې سترګې نه خوږېږي
بلا دې واخلم په رېښتیا نیمګړې شومه

پوره یو پاو زهر مې ورکړل
موزي مړ نه شو، د هندو قرضداره شومه

په مخکې ځم، په روستو ګورم
روغه عالمه د زړه سر مې پاتې شونه

په شرم اور پورې کړه یاره
غبږ کې مې نیسه زه سړو نیولې یمه

په چا د کور غمونه بوج شي
په چا د یار غمونه سر وګرځوینه

په تا دې هېڅ نه کېږي یاره
په ما دې وشي د ډالرو بارانونه

په اخرت به جانان غواړم
چې نه پښتو وي، نه د خلکو پېغورونه

په ما دې ډېرې لوبې وکړې
د بېوسۍ ژوندونه یاد به دې ساتمه

په زړه مې خپل وطن وریږي
لکه د زانو قلقلې پسې کومه

په تور ماښام دې کډې لاړې
توره تیاره وه ومې نه کړل دیدنونه

په بل وطن مې پېرزو نه یې
که د بادشاه په شان دې ژوند وي ورک دې شینه

په پخوانو سترګو راګوره
نیستي دې ورکه شي سړی بدرنګوینه

په هستۍ هر سړی لوَړیږي
بده نیستي ده سیال له سیاله کموینه

پر لالي سختيږورځې راغلې
د مور سکه ورونه ترې لارې بدلوينه

په پټو پټو لارو راشه
دا پښتانه دي بيا به سل کيسې کوينه

په ما شکمن لاليه واوره
که بل مې يار وی زه به سره کافره يمه

په تومت مهشرميږه ياره
په ښوځوانانو پسې تل وي تومتونه

په انګريزي توپک مې وله
مرګ مې روا ده، په ورکړې مئن يمه

په سترګو روغ درته ښکاريږم
تر زړه مې تاو دي د سرووينو ځو ډندونه

پرديکورونه، دوزخونه
مجبوره نجونې پهکې عمرتېروينه

پر خپل زنګون به دې حلال کړم
د بل يارۍ ته به دې پرېښږدم مئينه

په غړېدلو سترګو ګوره
د زړهتکوره ليونی درپسې شومه

په توره شپه راپسې ګرځې
د تورو شپو ورک شوي چا مونډلي دينه

په سپينه خوله مړېدل نه‌شته
د سپينې خولې وږي به خاورې مړوينه

پهٔ سرکې سترګې ګنهګارې
زړهٔ چې مين شي، سترګې څهٔ ګناه لرينه

پهٔ غم شريک جانان مې ولید
د خوږ زړګي زخم مې ببرته ناسور شونه

په خولهٔ دې هېڅ راته ونهٔ وې
پهٔ تبغ د سترګو دې ستې او څيرې‌کړمه

پهٔ تصور مې زړګی شين شو
څو د ليدو مهال راځي خاورې بهٔ يمه

پرځان مې تورڅادر راخپور کړ
د بـېــلــتـانـه تـبې دې بـيـا نـيـولی يمه

پهٔ تورو سترګو مې ړنده کړې
چې جانان نه‌شته، زهٔ يې ولې تورومه

په هره لاره درسره يم
د ماهيپر لاره مې ساه را لنډوينه

پر دېواله دې غېـږه کېښوه
زما خالي غېـږه ښېرې درته کوينه

پر دېواله ولاړه اوسه
د ماشومانو سره ناست لوبې کوومه

په قدمو دې خدای مئين کړم
جينۍ زما لپاره واخله قدمونه

په زړه مې شنه غوړاسکي سوځي
نري نري سکاره مې ژبې ته راځينه

په کوځه ښکته پورته کېږي
لار دې ژوره کړه اوبه راستنوينه

په جوارۍ ناسته لاليه
که زر دې بايلل زرزري سالو لرمه

په غريبۍ به دې پرې نږدم
په بې ننګۍ به درنه واخلمه لاسونه

په تا چې ځوک نه مينيږي
يا به واړه وي يا به سترګې نه لرينه

په نيمه شپه يې چيلم ډک کړ
په ياقربان ټپې کوي ما يادوينه

په ونه جګ په زړه بې ايمانه
چې راپسې وې غږ دې ولې نه کاوونه

په دوعاګانو هم خپل نه‌شو
په نيموشپو مې رب ته ډېر ژړلي‌دينه

په خوله توبې، توبې وباسم
پر تا مئن زړګی توبې نه‌قبلوينه

په لالي خپله سا درنه ده
درنې کمځی مې اړوي، ځان غرقوينه

پخوا د هېڅچا په کار نه وې
چې ما لالی کړې، قافلې درپسې ځينه

پلار يې د کلي فيصلې کړي
لور يې په تورو سترګو کلي ورانوينه

په بارانه کې دا کمال وي
له ياده تللي خلک بيا درياد وينه

په سرو مرمو سوری سوری شوم
ګناه مې دا وه چې بې وخته ګرځېدمه

په ناوګۍ کې اوبه نه وې
د ميمونې د وينو راغلل سيلابونه

پهٔ رنګ بدرنګ، پهٔ عمر تنګ شوم
پهٔ زړهٔ ځو رنګ د خپل جانان له لاسه يمه

په چوپه خولهٔ باندې ګويايم
د يارانې لهٔ رنځه تکه‌زېړه شومه

په تا مې هر غړې پيرزو دی
لاس مې درکش کړه، سينه خپله درکومه

په خوله دې وايي چې ځوک نه‌شته
جنۍ چې خال پر تندي ږدي، ځوک به لرينه

پـه تا چې څوک نـه‌مېئنبږي
يا بـه واړه وي، يا بـه سترګې نـه‌لرينـه

پـهٔ ميراثي دستور دې پالم
لايق مې نـه يې، مور او پلار درکړې‌يمه

پر ما دې هسې قسم مات کړ
نـه دې د ځان کړم، نـه دې بل تـه پرېښودمه

پـهٔ ريبارانو پوره نـهٔ شوه
اوس بـه لمن يار تـه پـه خپله غوړومه

پـه زيارتونو چې جوړ نـه‌شوم
ما بـه د خوارو څـه ازار اغستې وينـه

پټ بـه پـه زړه دردونـه تېر کړم
بې‌دردوخلکو تـه بـه نـه‌وايم حالونـه

پـه بخت بيدار لالي تـه وايه
پـه روژه ماتي دعا ستا سرتـه کومه

پـه نـه خبره سره بد يو
زړه راتـه وايي چې وروخانده مېئنه

پـهٔ نيمه شپه روژه بهانـه کړې
شوربګټ جوړکړې، وايې نـه درسره ځمه

پـه ښار کې شاتـه، شاتـه ګورم
د خپل لالي پـه شانتې غبر مې واورېدنـه

په زړه دې غم د يارۍ نه‌شته
په روژه ماتي پسې زر زر خوب درځينه

ښنتنې پيغلې ښايسته وي
تور يې پيکي، لوړه څواني، شنه يې خالونه

په کليمه دی ژبه بند شه
پر ما دې بند کړل په وطن کې مکتبونه

په چيغو وژاړئ عالمه
له کابل جانه د باروتو بوي را ځينه

په نيمه شپه مې زړه ته راشې
د مينې تنده دې سپوږمې ته ماته‌کړمه

په دوعاګانو هم خپل نه شوې
ما خو خدایجان ته په څوځل کړي عذرونه

په نوم يې زه بدنامه ګرځم
جانان چې بله خوښوي، دله به وينه

پر زړه مې غرهَ غوندې غم پروت دی
عالم ته روغه په خندا ولاړه يمه

په کار دې نه وم، درنه لاړم
که دې په‌کار وای، نازولی دې ومه

په ژړا راغله، راته ويوې
کميس مې زوړ دی نور پرې نه کېږي ډولونه

په خوله به سل ځلې تا هېر کړم
دا بې غيرته زړه مې تل تا يادوينه

په ما د پېغلو محفل تود دی
په لېونې يار مې حجرې اباديدينه

پر دېوال بيا کيشکره ناسته
د جانان شپې ورځې نژدې دي، را به شينه

پر دنيا غم کله ښادي وي
پر ما همېش د وير جندې ولاړيدينه

په پشلمي سپوږمۍ ته ناست يم
روزې رنځورې ورته ستا بيانومه

په روژه‌ماتي زړه ته راغلې
ډوډۍ مې پرېښوده، سلګيو ونيومه

پر ځان مې خپله پيرزو نه‌وې
اوس مې د کټ پر څنډه بنې ناستې دينه

په خپل زنګون به دی حلال کړم
د بل يارۍ ته به دې پرۍنه‌ږدم ميئنه

په وره کې نيمه راښکاره شوه
په نيمېدن مې خوشحالي، په نيم غمونه

په توره شپه ته رانه لاړې
دغه زياتی به دې تر مرګه ياد ساتمه

په ما دې خپل وطن تنور کړ
په تا دې وشي د سکروټو بارانونه

په ساه لنډۍ دې چلم پرېښود
زما د سپینې خولې دې نه منل سوالونه

په ما یې ژوند د کونډې تېر کړ
له میراثي بدۍ په کال کور ته راځینه

په ما دې کړې قسم مات کړ
مُسکۍ، مُسکۍ راته کېدې پخلا دې کړمه

په غټو سترګو دې مئین شوم
غټې، غټې غمونه راته پېښ شول خیر دې وینه

په غم دې زه لړلی ګرځم
په سپینې خولې دې رقیبان مزې کوینه

په ښو دې ټکی مه غړېږه
ما مې له شرمه په خوله ایښي دي لاسونه

په پټو سترګو پیشلمي کړي
د ځوانۍ خوب یې ړنګه بنګه زنګوینه

په یو بنګړي رانه خفه وه
اوس مې درجن، درجن په قبر ماتوینه

په سفر ځي تر شا راګوري
په زخمي زړه باندې مې مالګې دوړوینه

په نوم دې ډير خلک ياديږي
په رنګ دې يو نشته چې زړه پرې صبر کړمه

په يارانه پښېمان ته وايه
زه دې د سر صدقې اوس هم ورکومه

په اشارو باندې مې پوه کړه
باران وريږي، غږ دې نه راځي مئينه

په مخ دې درې ځايه مئين يم
غاښې دې سترګې، نرۍ پوزه، شنه خالونه

په ما مېړوښې دې زړه باېلود
د بل په ځمکه شولې چا کرلي دينه

په جرمني ټوپک مې مړه که
ته به بدماش شې، زه به غم نه خلاصه شمه

په کور کې مالګې پسې ګرځم
جانان له کلي الوچې راوړي دينه

په ما تاثير د روژې نه دی
ما ژړوي دا بې جانانه ماښامونه

په مازديګر کې ديدن راوړه
چې لوږه تنده د روژې مې ختمه شينه

په روژه ماتې يار مېلمه شو
کجورې نه شته، اوس به شونډې ورکومه

په نيمه شپه روژه بهانه کړي
په شونډو لاس کېږدي چې نه يې درکومه

پاڅه د نجونو محفل پرېږده
ورور دې بدي کړې په تا يې خلاصوينه

په کړ او پړ دې نه پوهېږم
سمه پښتو وايه چې ودې پېژنمه

په کټ کې دوه لونګۍ پرتې دي
يو مې د ورور ده، بل خيالي اوښی لرمه

پېغلې سلګۍ وهي او وايي
چې له بېزده‌کړو ژنو ډک شه دوزخونه

په نيمه‌شپه مې چيغې وکړې
چې راپه يادشول د بايللي يار يادونه

په نيمه شپه، ټپهٔ راوکړه
داغلي زړونه به دوعا درته کوينه

پېغلې سلګۍ کوي او وايي
چې له بې‌ننګو ژنو ډک شه دوزخونه

په تور کميس مې سور ګل سپور دی
واک مې د ورور دی چې ما چا ته ورکوينه

په اخرت کې درز او دروز شو
دا دو زنه يې لکه خر وډباونه

پرېږده چې لوئ واړه خبر شي
يا به مې درکړي، يا به مړه درپسي شمه

په شرم اور پورې کړه ياره
غېږ کې مې نېسه، زه سړو نيولې يمه

پلار مې په ژوند وهلې نه يم
سپېره نصيب مې په مخ هره ورځ وهينه

پر بالښتهٔ مې ويښتان توې وُل
را معلوميږي د ځوانۍ دوُر مې ځينه

په تور پيکي مې لالې بايلود
په سور ټيکري به د کړکۍ پردې ګنډمه

په تنهايۍ کې درجاربېږم
د خلکو مخکې به ښېري درته کومه

په مرګ به مرم، پاتې به نه شم
تا نه دې مخکې شم، چې درشي ارمانونه

په ما دې کړې قسم مات کړو
مسکۍ ـ مسکۍ راته کيدي، پُخلا دې کړمه

په دولتونو پسې ورکه
دا ځووم کال دې بې له تا يې تېرومه

پهٔ ځان دې داسې چارې وکړې
څهٔ دې ونه کړل، ځان دې داسې کهٔ مينه

په تور پېکي مې يار رنځور کړو
سبا خورې زلفې پرېږدم، چې مړ ئي کړمه

په عذابو مې پيرزو نه يې
گور ته قران ورم امانت دې ورکومه

په کوته ورو ځه په پښو شل شې
مور مې مړه ده اوس به نېغه ناسته وينه

پيزوان مې بيا له پوزې پرېوت
دا څوم ځل دی چې گډوډ وينم خوبونه

په کوته ورو ځه په پښو شل شې
مور مې مړه ده اوس به نېغه ناسته وينه

په ما دې داسې ژبه زده کړه
که توپک نه وي په خبرو جنگ گټمه

پيزوان مې بيا له پوزې پرېوت
دا څوم ځل دی چې گډوډ وينم خوبونه

پهٔ ځان دې داسې چارې وکړې
څهٔ دې ونه کړل، ځان دې داسي کهٔ مينه

پر زړه د صبر کاڼې کېږده
له جال وتلې مرغۍ ببرته نه راځينه

پښتون په زور تر جنت نهٔځي
خو په رضا تر دوزخو درسره ځينه

په لوړ خيبر کي زلزلي دي
بيا د خوشحال بچي د ننګ ميدان ته ځينه

په برخليک خبرې کيږي
همدغه وخت دی چې په شا نهشي پښتونه

په خيبر داسې ځوانان مړه شول
لکه ياقوت، لکه مرجان، لکه لالونه

په خړخيبر دې ګلان شنه شي
پهکې راتولو خپل هرڅه دو کړي دينه

پۀ تا مې بيا خولګۍ قسم ده
پۀ خيبر جنګ ده، تۀ په کور کوې خوبونه

پېټ به په زړه دردونه تېر کړم
بې ننګه تا ته به و نه وايم حالونه

په کور دې يو ګز واوره وشه
چې لړتوده شوم، تا له غيږې ببله کړمه

په يارانه کې داسې کېږي
د چا زبړی شي، د چا توره تبه شينه

په ونه جګ په زړه بې ايمانه
چې راپسې وې غړ دې ولې نه کاوونه

په نيمه شپه دې زړه را ډک شه
په نيمه شپه مې سترګې ډنډ ولاړې دينه

پر خولې به غټ برغولی کېږدم
ستا د جفا به چا ته نه وایم حالونه

په وعدو ټینګ اوسه جانانه
د خلکو خولې به تورې خاورې ډکوینه

په ډک محفل کې غبږه راکړه
چې د رواج زولنې ګډېوډې شینه

په سینه کې ژر کښتی لاهو کړه
سبا اختر دی د خپل یار سلام ته ځمه

په ما دې ننګ کړی جانانه
سرېه به خورم، توده به تا له درکومه

پر خولې مې غبرګې شوندې کښېږده
ژبــه مې پــرېــږده چې ګـیلې درتـه کـومـه

پر ما دې ور د مکتب بند کړ
پر تا دې بند کړي الله واړه جنتونه

په سفر تلې در جګه نشوم
د مخه ښې زور مې په ځان کې نه لیدنه

په تا مې کله غم پېرزو شي
د مینې یاره ښېرې خپلځان ته کومه

په هغو لارو کې مورچې دي
چې پرې راتلل به ده کوچیانو کاروانونه

پهٔ بوساړه کي دي غبرګ را کړه
د ډمي زويه لهٔ لښو دې ډکه کړمه

په ما دې کړې څه بلا ده
د ورځي ژاړم، د شپې نه راځي خوبونـه

په اخرت دې له رب غواړم
چې نه پښتو وي نه د خلکو پېغورونه

په صبر، صبر دې بوډا کړم
په بيـړه، بيـړه به خداى درکړي عذابونه

په کتابونو کې څه نهشته
په ماتو زړونو کې پراته دې ډېـر رازونه

په زړه تـنګون مې يار خبر کړئ
د ببلتانه په لمر يې وچه پانه کړمه

پهٔ چا مې سترګې نه خوږېږي
بلا دې واخلم پهٔ رښتيا نيمګړې شومه

په تور ماښام دې غاړه راکړه
د مرګي هېره شي چې نه دې يادوينه

په کومه لاړې غږ دې ورک شو
ناځوانه تا خو د قيامت تړل شرطونه

په نوم يې زه بد نامه ګرځم
جانان چې بله خوښوي دله به وينه

په اننګو خالونه مه ږده
په کابلو منو ښه نه ښکاري داغونه

په هغو لارو کې مورچې دي
چې پرې راتلل به د کوچيانو کاروانونه

په زړه تنګون مې يار خبر کړئ
د ببلتانه په لمر يې و چه پاڼه کړمه

پته دې هېڅ نه لګېدله
پرون راهيسې دې ګوګل کې لټومه

پهٔ جوارګر لالي مې سر دی
د زرو ګوتې پهٔ کمڅو کې ګرځومه

په مينه تور هندو خپلېږي
زه مسلمان لالي ته فکر وړې يمه

په دولتونو پسې ورکه
دا خووم کال دی بې له تا يې تېرومه

پر ما به کړی مېږهٔ پرېږدې
بيا به دې مات کړې د مېړاني تول لوزونه

پر هديره اوبه ورپرېږدئ
ځوانان شوقيان دي، پر مخ نه پرېږدي ګردونه

په ګوتوجوړ دسمال دې راکه
مسافرۍ کې به پرې اوښکې پاکومه

پر کومه لاړې، غـــږ دې ورک شو
لالیــه تا خو د قیامت تړل شرطونه

په لویه‌لاره کې مې کور دی
غم چې راځي، اول زما ټپوس کوینه

په لوړو غرونو کې مې ګورئ
له خپله کوره زه پخوا راغلې یمه

پټي ته دواړه خوندې لاړې
پۀ لاسو ساګ، پۀ سترګو زړونه شوکوینه

پسرلی راغی ونې شنې شوې
زما د زړه ونې بږلی وهلې دینه

په سرَطان دې خدای اخته کړي
چې له هېواده سره څوک جفا کوینه

په تهمت کلي نه ړنګیږي
که ړنګېدی کابل به لوټې، لوټې وونه

په کټ کې ناست یې لیلا غواړې
په وچه ځمکه ماهیان چا نیولې دینه

پۀ ریالونو پسې ورکه
لسم اختر دی بېله‌تائې تیرومه

په ژوند دې غم لیدلی نه دی
ولې به سپین غومبري نه ګرځې مینه

پهٔ خپل لالي مې قدر نشته
پهٔ زر زري شال مې ښکلې صفا کوینه

په پلار مې بله جرګه وکهٔ
که در يې نهکړم، په ړومبي چرګ بانګ به ځونه

پر زړه مې تورې لړې راشي
چې د فیسبوک کړکۍ دې بنده ووینمه

پر ځان، پرما هم رحم وکړه
ځان ته مانو لوګی کوه، نظر دې خورینه

پر ما دې مرګ راپېرزو نه دی
سترګې دې واړوه سورې، سورې دې کړمه

په حافظه به ظلم وکم
تا به ترې هېر کم، زه به بیا پخوانۍ شمه

په جوارګر لالي مې سر دی
په لک مې اخلي په روپۍ مې خرڅوینه

پر مخ مې خړې خاورې تلې
نه يې مینځمه د لالي د پلونو دینه

په تهمتو ښوک نه توربېږي
که توربېدلای اوس به تکه توره ومه

پر کومه لاړې، رانه ورکه
د سترګو دید مې ورځ په ورځ کمې کوینه

په څوک څه وايي کې دې نه يم
لالی هندو ښه دی چې نه مې زوروينه

په روزهماتی باندې ناستيم
يو مسافر يم، بل د مور ارمان راځينه

په مسافرو مې سلام دی
په روژهماتي د وطن ارمان کوينه

پرما تاثير د روژې نهشته
ما ژړوي دا بېجانانه ماښنامونه

په اعتکاف کې دې خدای مړه که
چي جنتي بوی دې د وچو شونډو ځينه

په پټوسترګوپيشنمي کړي
دځوانۍ خوب يې لکه لښته زنګوينه

په بادشاهۍ دې ډزېوشه
چې درمعلوم شي د بېکورو حالتونه

په کوچنيوالي دومره شوخه
په پېغلتوب خو به کورونه ورانوينه

په نهخبره، مروره
واوره خبره، نور دې نهپوخلاکومه

پر ما دې کړي، پر تا وشه
چې په تا کبږي، ننداري ته به درځمه

پاس په مورچل کې دې غږ ورک شو
یاره شهید یې، که مرمۍ دې ختمېدینه

پرجګو غرو دې کاروان تېرکړ
په زړه‌ظالمه وړکیه نه دې یادېدمه

په انتظار مې اوسه یاره
که مرګ رامخکې نه‌شو. تا له به درځمه

پېغلې د سروزرو په تول وي
چې د بې‌ننګو په نصیب شي، خاورېشینه

په صبر صبر مې زړه شین شو
نور مې طاقت د صبر نه‌شته، مړ به شمه

په سترګو هم خبرې کېږي
هره خبره ځوک په ژبه نه کوینه

په هېرېدو کې دې ناکام شوم
هره‌ورځ نوې تجربې پر زړه کومه

په دولتونو پسې ورکه
لسم اختر دی چېدې زه لارې څارمه

په دروازه کې مه‌ودرېږه
د کلي وړکي دې له کاره ویستيدينه

په نيمه شپه تپه راوکړه
یار مې بایللی دی، یوازې ناسته یمه

په زړه دې غشه تیـره کړې ده
په مسافر یار به دې ډېر تېر شي کالونه

په ګل کې ته راته ښکاربـږې
چې چېرې ګل ویـنـم دَمه ورته کومه

پرما دې وي، پرتا دې نه وي
سختۍګرمۍ، د ژمي یخ، ساړه بادونه

په ځنکدن مې را حاضر شه
بیا تر قیامته پورې نشته دیدنونه

په زړه دې څه دي راته وایه
خُمارو سترګو دې ګیلې راوړي دینه

پر زړه به غشه تیره کړې دم
یا به تقوچوي، یا به صبر شي مئنه

په خوله به وایم چې مې هېر یې
که په ریښتیا دې هېروم، ورکه دې شمه

پر ما دې مرګ پور دی، که ښځګه
سترګې دې واړوه، ستې ـ ستې دې کړمه

په زړه کمزورو خلکو واورئ
مینه ونکړئ زندګي تباه کوینه

په سر دې سل ګزه پټکی و
زه دې له پکه سره څه خبره ومه

په ما دې ورځ سم د اختر کړه
چې دې په سترګو راته ګېښودل لاسونه

په جدايي دې خپه نه يم
خپه په دې يم، ژوند به ښنګه تيرومه

په ظاهر روغ رمټ ښکارېږم
خو ګلالۍ زړګی مې ډک دی په ويرونه

په تګ خو لاړې، بيا رانغلې
ګورم به ځانته چې ترڅو به وير کومه

پر سر مې درونډ پرونی نه وړ
د خدای رضا ده د سپېرن خبرې ورمه

په زيارتونو يې غوښتلم
اوس رانه ځان په زيارتونو خلاصوينه

پر لالي سختې ورځې راغلې
له بې وسۍ يې ټول پردی حسابوينه

په پسرلي خوشحاله نه يم
د ونو پاڼې ستاسو کور پناه کوينه

په بل وطن ورکه جانانه
لکه نارنج درپسې ورو، ورو ژېړه شومه

پخوا بې‌غمه بې‌غمې وه
هرڅه برباد شول، چې رواج شول موبايلونه

پهٔ پسرلي خوشاله نهٔ یم
د ونو څانګې د یار کور پنا کوینه

پهٔ کلیمه که رانه هېر یې
د زندهګۍ چارې مې ګډې وډې دینه

په اشارو مې نه پوهیږې
سخوندره څو به غړوندي درپسې ورمه

پهٔ تعویذو بهٔ مې غوښتلې
اوس درنه ځان پهٔ باباګانو خلاصومه

په تلو دې داسې حال راپېښ شو
لکه یتیم چې ګاوندې ته پاتې شینه

په زورورو دې خور واوره
چې درته ژاړي، ګوندې زه دریاده شمه

پر لالي سختې ورځې راغلې
له بې وسۍ یې تول پردی حسابوینه

په خوله دې سم راته ونه وې
په بنوربدلي سر دې زه نه پوهېدمه

په زړه مې ته وې، خدای را نه کړې
بیا به د خدای په در کې نه کوم سوالونه

په کابل سپینې واورې وشوې
سرو نیولي نازولي صورتونه

په کتابونو کې څه نشته
په تورو سترګو کې پراته دي ټول رازونه

پنجابه بخت دې زورور دی
ورونه زما دي، سر په تا قربانوينه

په زړه يې يو، نصيب يې بل شي
د پښتنو په رواج ولګه اورونه

پخوابه مياشت کې په مخ راغلې
اوس دې په کال کې لټوم نه دې وينمه

پردي وطن کې خاني نه‌شي
هسې په هغه دغه شپې سبا کوونه

پر اس راغلی، پر اس ولاړل
له خلکويی غلا کړل په مليارډو ډالرونه

په پاچاهی دې دړې وشه
د مکتبونو جونې کور کې ناستې دينه

په جينکو تعليم په‌کار دی
چې بدرنګي مو له وطنه ورکه شينه

په مئينتوب به مېړه وکړم
پلار مې معلم دی، ګوندې نه مې مړه کوينه

په ما دې سترۍ مزل وکۀ
سپي دې پمن شه بدرګه درسره ځينه

په پکتيا سپينېږي واورې تلې
ليلا ترې تللي د کابل په وطنونه

پخوا د صِدق يارانې وې
يار به د يار لهپاره ځان قرباناونه

په اشارو مې نه پوهيږې
سخوندره څو به غږوندي درپسې وږمه

په خولهٔ خاموشه کليواله
لږ راتېره شه چې مې تنده ماته شينه

پرون يې پټ په ديدن موږ کړم
نن له ديدنه پټېده چې خوب راځينه

پر باجه پروت لالي ته وايه
ګوتې دې ځار شم، د زړه زنګ لرې کوينه

پردي کورونه دوزخونه
مجبوره نجونې پهکې عمر تېروينه

په تبريکۍ کې خولګۍ راکړه
چې د درياب په شانې ووهم موجونه

په کوچنيوالي دومره شوخه
په پېغلتوب خو به کورونه ورانوينه

په مخ مې ستا د غاښو نښې
د مينې نښې نورې څنګه وي مئينه

په پیشلمي کې مې رایاد شوې
هره مړۍ مې په زړه نېغه، نېغه ځینه

په یارانه پښېمان ته وایه
زه دې د سر صدقې اوس هم ورکومه

په هغه دغه مې تېرباسې
خدای خو دې ویني، خدای ته هرڅه جوت دینه

پلار مې په ژوند وهلی نه یم
سپېره نصیب مې په مخ هره ورځ وهینه

په سپېرو بد مه وایه مورې
سپېرې دې خاورې، چې ګلپانې شنې کوینه

په پېښور کې مې خښ نه کړئ
بېننګه خاوره د دوزخ په شانتې وینه

په تور مابنام دې غاړه راکړه
د مرګي هېره شې، چې نه دې یادوینه

پهٔ اشنايي دې نازېدمه
پهٔ جدايي دې لکه ګل ورژېدمه

په کلي کور کې مې زړه تنګ شو
د تا یادونه مې پر غرونو خېژوینه

پر ما دې راشي زحمتونه
تا به همځولو سره سیاله ګرځومه

په دوه قدمه کې رانغلې
خلک يارى پسې مُلکونه لټوينه

په تورو غرو دې ځان پناه کړ
د بېوسۍ غېږ به مې ځوک دررسوينه

په عذابو مې پيرزو نه يې
ګور ته قران ورم امانت دې ورکومه

پهٔ ځان دې داسې چارې وکړې
څهٔ دې ونه کړل، ځان دې داسې کهٔ مينه

په صداقت دې خاورې واوړه
زړګې مې راوړه په يارى پښېمانه يمه

په يارانه دې پوهه نهشوم
په جدايۍ دې لکه مالګه ويلې شومه

پر مخ روان په ورستو ګورې
يا دې څه ورک دي، يا دې زه ليدلې يمه

په پېوندي شال مې درپټ کړه
سړنی کال مې د خوارۍ ده، تبر به شينه

پر ما دې وي، پر تا دې نهٔ وي
اوړي غرمې، د ژمي يخ، سارهٔ بادونه

پرسر دې شال، مخ دې مشال دی
ځلورم کال دی چې مئن دربادې يمه

پر صداقت دې خاورې واوره
زړګی مې راوره، په یارۍ پښېمانه یمه

په پخوانې اشنا به ورشم
غږ به پرې وکړم، که مې واورې فریادونه

په ظاهر روغ درته ښکارېږم
تر زړه مې تاو دی د سرکو وینو ډنډونه

په شپاړسمه روژه راشه
ما به روژې د پېغلتوب خوړلې وینه

په صبر، صبر مې زړه شین شو
نور مې طاقت د صبر نه شته، مړ به شمه

په بارانه خوشحاله نه یم
یار مې د ختوکور لرې، ویجاړ به شینه

په خوله توبې، توبې وباسم
پر تا مئین زړګی توبې نه قبلوینه

په نوم دې دپرخلک یابېږي
په رنګ دې یو نه شته، چې زړه پرې صبرکړمه

په صداقت دې خاورې واوره
زړګی مې راوره، په یارۍ پښېمانه یمه

پر مړونده یې د یار نوم دی
جنۍ د مور په مخکې نه کړي اودسونه

پر مخ مې مهوهه ظالمه
په سترګو ړوند شئ، پېغلې چا وهلېدينه

پر تا خوشحاله ورځې راغلې
ځکه دې زه له خياله ووتم مئنه

په اشنايي دې نازېدمه
په جدايي دې لکه ګل ورژېدمه

په غم دې زه لړلی ګرځم
د مازديګر ديدن دې نورخلک کوينه

پلار يې د کلي فيصلې کړي
لور يې په تورو سترګو کلي ورانوينه

په نيمه شپه يې په ژړا کړم
د يار غمونه په لښکر راغلي‌دينه

پهٔ سپينه خولهٔ کړه روژه ماته
د کفارې روژې بهٔ دواړه ونيسونه

په روژه ماتي کې راياد شوې
هره مړۍ مې په زړه نبغه نبغه ځينه

په جنازه کې مې ګل کېږده
دا به دې نښې د يارۍ راسره وينه

په تمه تمه به دې زوړ کړم
نهٔبهٔدې يار کړم، نهٔبهٔدرکړم رخصتونه

پر زړه دې غم د يارۍ نه‌شته
په روژه ماتي پسې زر زر خوب درځينه

په روزه‌ماتي زړه ته راغلې
ډوډۍ مې پرېښوده، سلګيو ونيومه

په پشلمي سپوږمۍ ته ناست يم
روژې رنځورې ورته ستا بيانومه

په اوسيلو څه نه‌جوړېږي
په جرګه راشه چې خبره پاکه شينه

په دونيا دوه کارونه نه وای
د ژړو مرګ، بل د تنکۍ پېغلو ودونه

پيره‌بابا که ته يې واخلې
سړی، سړی نه دی، پرۍ‌بنده ناسته يمه

په کوژدن شوې مئن نه‌سې
ته به يې ګورې، بل بې سره ډولۍ کې وړينه

په پلار مې بله جرګه وکه
که دريې نه‌کړم، په دا بل سهار به ځونه

پهٔ ريالونو پسې ورکه
شپېږم اختر دی بې‌له‌تائې تېرومه

پهٔ دروازو کې دې ولاړ يم
د ديدن برخه دې راوړه چې ببرته ځمه

په جينکو تعليم په کار دی
چې د زلمو سره اوږه په اوږه ځينه

په نيمه شپه هسی را ياد شوی
خلک ويده دي، زه سلګو نيولی يمه

په توره شپه له کوره ورکه
کور ته راځه ابۍ دې ما بدنامه‌وينه

په ما به کړی مېږه پرېږدې
بيا به دې دا وعدې بدلې وي مئينه

پر زړه مې ډېرې ګيلې بار دي
زه بنديوانه د تيارو د کلي يمه

په توره شپه راشه جانانه
خلک اوده دی ستوري نه وايي حالونه
پر جګو غرو دې کاروان تېر کړ
په زړهٔ ظالمه ياره نهٔ دې يادېدمه

په خوله مې هيڅ ويلي نه دي
اوښکو مې خپله بيان کړيدي رازونه

**ت:**

ته مې د حال پوښتنه نه کړې
زه به پېريان په ځان تر کومه راولمه

توتان مې وخوړل مره شوم
د دله خان د ډودۍ څه پروا لرمه

ته خو مې خپل کړه، توره وکړه
لکه د سوي لاس ساتنه به دې کړمه

ته به په څه حال يې لاليه
د مازديګروړانګې دې مخ رايادوينه

تر نيمې‌شپې راتګ دې ځار شم
خوب مې پوره ده، په راستۍ خوله درکومه

تر خولې مې سپل د وينو راغی
د ببلتانهٔ لړم پهٔ زړهٔ خوړلې يمه

تېر شوی عمر به رانه‌شي
کهٔ وچې څانګې په ژړا زرغونې کړمه

ته مې له حاله نه‌خبرېږې
زما زړګی مدام کوي د ويردردونه

ته راته غلې غلې ګوره
زه دې په پښو کې سپېلنی لوګی کوومه

تېر خو به شي خو هېر به نه شي
د بېوسۍ ژوندونه ياد به دې ساتمه

تا په اوربل روپۍ کړه کړه
زه به شمله په سر کړه له خياله ورمه

تا ته چې کوم وخت در يادېږم
ما به دې دغه وخت نامه اخيستې وينه

تهٔ بې وعدې شولې، رانهٔ غلې
تر پېښمنې پورې زهٔ ويښه ناسته ومه

ته د پرديووطن خوراک شوې
زهٔ د وطن په لمبو شنه لوخړه شومه

توبه کوم، کولی نهشم
دا بېغيرتې سترګې بيا دراړومه

تا په سفر ځواني زَړه کړه
زهٔ د هجران له لاسه، زبېره پانه شومه

ته به ولاړ يې بل به يار کړم
غړ به په جار کړم چې خيالي لالی لرمه

ته به ولاړ يې بل به يار کړم
دا ستا له قصده به يې تول نازونه ورمه

تر پيشمني به درسره يم
د ورځي نه کبړي جوړه جوړه خوبونه

تا نه به کور او کلی هېر وي
دلته دې بندې دروازې ما ژړوينه

ته د هلمند د کوکنار ګل يې
زه د تيراه د غرونو غرقه بنګه يمه

تبی پخې راپسې کبړدۍ
چې د بې ننګو خلکو نه اورم غړونه

ته د مُلا نه تپوس وکړه
که په خولگۍ روژه ماتیږي غرقه شومه

تبه دې ما ته راشه یاره
دا ستا واړه زگېروي مې زړه سوری کوینه

ته مې په ویر نه غمجنېږې
زه ستا له لاسه ځان سرهاور ته غورځومه

تا ته د زړه له زوره خاندم
غم به د زړه په کور دننه تېرومه

تر نازولي غېږ دې جارشم
ما د ارام گولۍ خوړلې، خوب راځینه

تر مودو پس کلي ته راغلم
کلی هغه دی، وړوکو کډې کړې دینه

ته چې را درومې تللیه یاره
ما به مې ځان په بنگو نیم سیځلی وینه

تللیه لالیه هېر مې نهیې
شیرینه یاره غم دې تکهزېړه کړمه

تهٔ رانه بل وطن ته لاړې
زهٔ مازیگر پر بلۍ کېنم، وژاړمه

ته مې په شنو سترگو مئین یې
زه دې په تورو سترگو غرقه پرقه کړمه

تبره‌چاړه مې لاس کې راکئ
زه د بې‌ننګه جانان ژبه پرېکومه

تانه به کور او کلی هېر وي
دلته دې بندې دروازې ما ژړوينه

ترليونۍ ميني دې ځارشم
ناروغه زه يم اوښکې ستا له سترګو ځينه

تر لويو غرو دې واړولم
مور مې مېره ده اوس به شنه له خندا وينه

تا ليوني کارونه وکړل
لوفره ياره پلار مې کله درکوينه

ته به مې غواړې زه به نه يم
ژوند رانه لاړه ببلوي نور مې پرېږدينه

تاوان د دواړو برابر دی
ما ته بايللی يې، تا زه بايللې يمه

ته چېرته لرې مسافر يې
زه که خندا کوم، د دار لايقه يمه

تر لويو غرو دې واړولم
مور مې مېره ده اوس به شنه له خندا وينه

ته چرته يو وارې رانغلې
زه د شمال په شان سهار ماښام درځمه

تانه په يو کلي کي هير شوم
خلک په تورو غرو پناه ياران ساتينه

تاوان د دواړو برابر دی
ما ته بايللې يې، تا زه بايللې يمه

ته دروغ وايې دروغجن يې
په ژبه ښه يې، خو په پټه کړې چلونه

تر سپينې واورې تکې سپينې
ځان ته مانو لوګی کوه سترګې دې خورينه

ته دروغ وايې دروغجن يې
نه خپله ښه يې او نه ښه لرې نيتونه

تر نيمې شپې پورې رانغلې
په ما دې سپي په مازيګر ترلي وونه

ته لړ بهر ورته راووځه
سپوږمی د ځان صفت کوي چې ښکلې يمه

ته ليونی ـ ليونی ګرځه
خو چم کې ګرځه چې داړه دربانډې يمه

تسبې مې زر دانې پوره کړې
پس له لمانځه مې خدای نه وغوښتې مئينه

ترګيلهمن زړګي دې جار شم
زما د کور له کاره نه خيږي لاسونه

تا لیوني کاروونه وکړل
لوفره یاره پلار مې کله درکوینه

تن مې د شنې نکریزې پانه
بـهـر تـازه، دننـه رنـګ پـه وینـو یـمـه

ته خو اوس لاړې د بل چا شوې
یار دې رنځور شو ترخولې وینې غورځوینه

تورې تیارې به خدای کړي ورکې
د رڼـایـي ځـرکـونـه پـل رالـنـدوینـه

ته رانه لاړې، بیا رانغلې
بلا د واخلم په رښتیا نیمګړی یمه

تګ دې بلا وه بل څه نه و
باور دې وشه، په رښتیا نیمګړې شومه

ته د سندرې په شان مست یې
زه د ټپې په شان غمجن درپسې شومه

ته به مې کله، کله یاد کړې
زه دې په زړه پورې ګنډلې ګرځومه

تا ته د خیښې غم له غاړې
زه د ټوپک له لاسه ورک له ملکه یمه

ته رانه لاړې، بیا رانغلې
چې را په زړه شې غلې کېنم وژاړمه

ترتورو غرو دې ځان پناه کړ
خواره خواري ده، زه يوازې پاتې يمه

ترتورو غرو پناه شوې ياره
ډيوې شوې مړې، زه په تيارو کې ناسته يمه

تويت د کابل له لوري راغی
په ګلخان تريخ و په ما خوږ ولګيدنه

تويت د کابل له لوری راغی
زه يې ټکور کړم، تور يې دوړه کړ مينه

تا ته خوشحاله ژوندون غواړم
په ما که هره سخته وي تېره به شينه

تر پلو لاندې درته ګورم
ورونه مې ناست دي اوس به لاس درواچوينه

تشو خبرو ليونی کړم
زه د وعدو ترخلي کښته ولوېدمه

ته دې دا سپينه خولګۍ راکړه
بيا دې سبا ته ما پر دار وخېژوينه

ترلې! تربور دې مېړه مه شه
خوښه ناخوښه به دې ضد حسابوينه

تر ليوني ورور دې ځاريږه
تا د تربور خبرې څه ليدلي دينه

تر جنازې مې مخکې مه ځه
وروسته راځه چې دې ترسترګو لاندې يمه

ته چې را درومې تلليه ياره
ما به مې ځان په زهرو تول لړلی وينه

ته بې‌اوبو بهار بهار يې
زه لکه لوخه په درياب کې وچه شوم

تهٔ په کوڅه کې سپي نسکور کړي
زهٔ د بلۍ پر سر خندا نسکوره کړمه

ته خو مې خپل کړه، توره وکړه
لکه د سوي‌لاس ساتنه به دې کړمه

تر نيمې شپې پورې رانه‌غلې
ما دې د لاس نبنې ته ډېر کتلي‌دينه

تا به د مينې رنګ کې رنګ کړم
لکه لونګ به دې پـه غاړه ګرځومه

تشو خبرو دې دوکه کړم
نامرده ياره پرميدان دې پرېښودمه

ته چې خبرېږې، خوږه ياره
زه بـه رواج د پښتنـو وژلـي يمـه

تر چيرکټ لاندې خوله راکړه
خلک به وايي چې موږک دی غنم خورينه

## ټ:

ټول مسافر به دوزخيان شي
د پښتنو پېغلو ازار وهلي دينه

ټيې مې ډېرې درته وکړې
مطلب مې دا دی چې مئن دربانډې يمه

ټپه ټپه خال به دې ښکل کړم
غزل غزل سترګو ته مهٔنيسه لاسونه

ټوله روژه مې دعا کړې
پر چا دې رانهٔشي بېياره اخترونه

ټوخی په ورو کړه سر به وخوري
مور مې مېره ده اوس به نېغه ناسته وينه

ټوخی په ورو کړه سر به وخوري
مور مې مېره ده اوس به نېغه ناسته وينه

ټوټې، ټوټې شې تورټوپکه
تا د پښتون غاړه کې څه ليدلي دينه

ټوپک سينګار د ځوانی نه دی
اوس له زلمو سره قلم مزه کوينه

ټولې‌همزولې مې واده شوې
وطن ته راشه، په نامه دې ناسته يمه

**ث:**

ثواب دې ستا وي ګرانه یاره
زما په‌کاردي ستا د سپین‌مه دیدنونه

**ج:**

جانانه ستا پېغور یې راکړ
خښته مې واخیسته خو خلکو ونېومه

جانان وړوکی مسافر شو
چا به پېغور د غریبۍ ورکړی وینه

جانان لهٔ مانه خرما غواړي
بې نیازه یاره خرمازهٔ ولاړه یمه

جانان دې سل ودونه وکړي
د خزانې په سر یې زه ولاړه یمه

جانانه مرې که پاتې کېږې
په تور اوربل مې سوداګر وګرځېدنه

جدايي راغله، مرګی راغی
د زنکدن سلګۍ په تا پسې وهمه

جانانه غم دې زورور دی
د تور لونګ په څېر یې تکه توره کړمه

جینکۍ ښې دي دمه وکړي
وړکي تباه دي روژه تولهٔ ونیسینه

جانان نادان دی، غاړه غواړي
په پېښرمي کې غاړې چا ورکړې وینه

جانانه مرې که پاتې کېږې
په تور اوربل مې سوداګر وګرځېدنه

جانان مې لاړو مسافر شو
نه پسې تلای شم، نه یې باد بېرته راوړینه

جانانه سم دم رانه هېر وې
چرته سندرې ژغیدې خراب یې کړمه

جانانه غم دې سور کافر دی
پر ما د ژمي شپه په ویښه تېروینه

جانان مې وږې رانه تللی
چې دسترخوان لره ورځم ژړا راځینه

جانان مې وږی رانه تللی
چې دسترخوان لره ورځم، ژړا راځینه

جانان زما غېږ کې ویده دی
له خپله لاسه مې شړومبې ورکړي دینه

جانانه ومې پېژندلې
د ډیرو یار یې په تا هسې غلط ومه

جانان زما لکه ماشوم دی
یوه خبره باندې سل قسمه خورینه

جانانه ستا د بري غږ شو
ناسته ولاړه کې مې زړه وهي ټوپونه

جینۍ د ښار ګرمۍ وهلې
کلي ته راغله، د کابل منه به شینه

جانان د بل د خولې سرۍ دی
اورم ژوندی دی، په دیدن پسې یې مرمه

جولاګان ښهٔ دي غم یې نشته
ورک افغانان کړې، لکه سپي کوي جنګونه

جدایي سخته ده لالیه
زړه به دې سوزي ځای به ځای نه درکوینه

جانان په درې مذهبه پر دی
په څلورم مذهب یې زهٔ نهٔ پر کوٌمه

جینۍ خبره یې که نه یې
پرتا مین له مجبورۍ وطن پرېږدینه

جانان د ښو وختونو یار و
چې بده ورځ شوه، بیا یې ونکړه پوښتنه

جهالت وسوم، غم ایرې کړم
اوس طالبان مې له غلبیل نه چاڼوینه

جانان مې راز ساتلی نه شي
د بي بي سي په شانې کلي خبروینه

جمامې بوټۍ دې لوی مه شه
چې ټولوم دې زړه مې کاندي ازارونه

جانان مې راز ساتلی نه‌شي
د بي‌بي‌سي په شانې کلي خبروینه

جانان چې خپله راسره وي
د بېلتانهٔ دې تل تر تل خلاص وي لاسونه

جنت ګتلیه سر راجګ کړه
د تا وژلي، ماشوم غواړي خيراتونه

جانانه هیڅ مه خپه کېږه
زه پر کړو لارو درځم تا راولمه

جدايي راغله لارې سل شوې
جدا، جدا به سره ځي ویشتلي زړونه

جانانه ستا پیغور يې راکړ
سترګې مې تیټې کړې، په زړه خوشاله شومه

جانانه نور يې ويلی نه‌شم
چې ودې نه‌وينم، نرۍ تبه مې وينه

جانان کهٔ بد کړي، زهٔ بهٔ ښهٔ کړم
بد يې تر هغه پورې ورم چې مئين يمه

جينۍ په ما مئينه نه ده
جينۍ ته هسې لېونيان خوند ورکوينه

جانانه زوړ نیکه دې مړ شه
چې فاتحې ته یې درځم، ودېوینمه

جینۍ ولاړه په مانځه ده
پېرزو مې نهشي تور اوربل په خاورو ړدینه

جانان خو بیا خطایي وکړه
لیونۍ شوې دې، په ما کبرکوینه

## چ:

چې د لالي مې نیستي نه وای
پیوند ټکرې به مې په اور سبزلۍ وونه

چې نیمه شپه شي غم دې زورشي
جامې مې اور شي، راله سوځي اندامونه

چې زه او ته یې سره ببل کړو
ورکه پښتو شه ورک یې یې دغه رواجونه

چې ځومره کړای شې، هومره ګوره
شکره نهیم چې په تول کې کمه شمه

چیرته مې شنو دښتو ته بوځې
ښار کې تنګ شوې یم، ژړا راته راځینه

چې را په یاد شي ورکه یاره
کهٔ مې خوله ډکه له خندا وي، وژاړمه

چا ته مې سترګې نه وراوړي
ايله اوس پوه شوم، بې له تا نيمګړې يمه

چې په کوم حال به يي لاليه
تور ماښامونه ما ته تا رايادوينه

چېرته يو ځای کې به غږېږم
زما شعرونه به دې خوب ته نه پرېږدينه

چې زما خوږ وطن ورانېږي
خدای دې په ګرده نړۍ پورې کړي اورونه

چې زمرد يې پيداوار دی
موږ په هغه وطن کې لوږې تېروونه

چې علم وي او عمل نه وي
لکه پر خره باندي چې بار کړې کتابونه

چا وې اختر کلي ته راغی
د وير په کلي کې خو نه وي اخترونه

چې څه دې کړل هغه دې وکړل
نور مې څادر پر مخ را خور کړه خوب راځينه

چې پېښور جانان ازاد شي
کابله بيا به دې اسان شي ديدنونه

چې لالي بل چا سره وينم
سر په زنګون بږدم، خپل نصيب ته وژاړمه

چې د لالي نيستي مې نه واى
پيوند ټيکرى به مې په اور سيځلى وونه

چې رانه ځې او رخصت اخلې
سترګې به پټې کړم چې تلل دې نه وينمه

چې تا راکړي، ما خوړلي
د ياراني په کور کې نهشته پېغورونه

چارګل په جګه پزه خوند کا
په پيته پزه د چارګل، خندا راځينه

چې به پهٔ کوم حال وې لاليه
ماته زېـړى مازيګر تا رايادوينه

چې لېونى شوې حال دې ووې
روغو بهٔ کله چاته ويل د زړهٔ حالونه

چاته چې ټولعالم په قار شي
خوارى کې ډوب شي، زوړند سر به روان وينه

چې لېونى شوې، حال دې ووې
روغو به کله د زړګي ويل حالونه

چونۍ ته سپک خلک راغلي
يا به سپکبېړو، يا به کډې بارو ونه

چې د وطن نصيب يې خوار وي
له شنو پنجرو نه بې ساتلي طوطيان ځينه

چې مې د تورو زلفو وار و
د چا به کار و، چا به هسې غېږ کاونه

چې مکتبي ته مې ورنه‌کړې
کتاب به يې ورک وي ما به ګرده تاووينه

چې ما او تا سره جدا يو
په اور دې وسوځي د دواړو قسمتونه

چې ستا به ماته زړه کې څه وي؟
زه خو د خولې ژاولې په منځ درنيمومه

چيلم خو تا له بنګو ډک کړ
چې پلار دې راغی، بيا دې زه وروښنودمه

چې د نصيب خبرې کيږي
زه له هغه مجلسه لاره بدلومه

چې پرې مين يم هغه نسته
چې خوښ مې ندي اِشارې راته کوينه

چې هوړه نه خوري، بوی ترې نه ځي
ياري دې کړې، خود به اوري تهمتونه

چيغې وهي، رضا يې نه ده
نامرده ورونه، خور په بدو ورکوينه

چې د سبا سترګه راخيږي
ما به پنډوکی د سفر ترلی وينه

چې تا راوړي، ماخوړلي
د ياراني حساب دووس سړی کوينه

چې مور مې نه‌شته دونيا څه‌کړم
ناست پر زربفت يم، په ايرو يې زه ګڼمه

چې ته را دورمې تلليه ياره
ما به مې ځان په بنګو نيم سيځلی وينه

چې مې له بدحال يار خبرېږي
په ما به درد د زړګي څه، څه کړي‌وينه

چې په کوړ نه وم ته رانه‌شې
درته به لار په بنو ځوک جارو کوينه

چې مړوندونو کې مې تنګ وو
هغه بنګړي مې اوس څنګلو ته راځينه

چېرته په غرونو کې مې ګورئ
له ابادۍ نه زه پخوا وتلی يمه

چې ليونی شوې پر ما راشه
د ليونو دارو په جيب کې ګرځومه

چې درنه لاړم رابه نه شم
که د بنګال په کوډګر وکړې تاويذونه

چې زړه مې يو وار درنه تور شو
که بيا قبله هم شې، مخ نه دراړومه

چم کې سره سبلۍ چلېږي
ځوانان ورک شوي، پېغلې غلې ناستې دينه

چا د يارانو تپوس وکړ
ما وېل ځوک مړه دي، ځوک په لرې وطنونه

چې په ښايست مې خپه کېږې
نور به د مځکې خوب کوم چې ژېړه شمه

چې خدای ليکلي، هغه کېږي
هرمازديگر په زيارتو مکړه سوالونه

چې چېړې يې، خبر دې راکړه
بې غوره ياره اندېښنو ليونۍ کړمه

چې زمرود يې پيداوار دي
زه په هغه وطن کې لوړې تېرومه

چيغې‌وهم، وهی يې نه‌شم
ښنتو مې شوندې په قسم گنډلې‌دينه

چې را په يادشې، حال مې نور شي
جامې مې اور شي، اندامونه مې سېځينه

چيغې وهي، رضا يې نه ده
نامرده ورونه خور په بدو ورکوينه

چې خنديدلې، زړه دې يوړو
اوس به ياری راسره کړې نه دې پرېږدمه

چيغې وهي، رضا يې نه‌ده
نا مرده وورونه خور په بدو ورکوينه

چې روژه ماته کړم خپه شم
نه مې بي‌بي او نه بابا راسره وينه

چې ستا ببلتون مې خراب نه کړي
د پسرلي روژې مې نـه‌خـرابـويـنـه

چې ونه ښوري باد لګيـږي
جينۍ چې خال په تندي ږدي څوک به لرينه

چېرته واده کې مئبن نه شي
ډيرو بدرنګو به وي کړي مېکاپونه

چې مسافر شوې اوس به څه خورې
کور کې خوراک وو د سرکو شونډو سرونه

چې وخت تېريږي غم زياتېږي
نه پوره کېږي د بدبخت زړه ارمانونه

چې سا مې وزي، رانږدې شه
پردوارو سترګو راته کېږده سرلاسونه

چا چې په خپله پر ځان کړي
نه دې ګيلي کړي، نه دې اوښکې تويوينه

چې هرڅه شوي، له تا شوي
د تناره د سر برغولې شې ببلتونه

چې چېرته يې احوالی دې راکړه
بېغوره ياره اندېښنو ليونی کړمه

## ح:

حُسن دې شته، مينه دې نهشته
لکه په باغ کې بې ثمره ونه وينه

حيا د پوزې سر له راغله
جينکۍ پوزې پټوي، سترگې پرېبږدينه

حال مې تر بدو نه بدتر دی
ستا د ببلتون پيتي پر خپلو اوږو وړمه

حجرې خالي دي ځوانان نهسته
څوک مسافر دي، څوک مرگي خوړليدينه

حيران يم څه راوشول خدايه
بې قدره گرځي نازولي صورتونه

حجرې له وړکو نه خالي شوې
ټول مسافر شول، په پردي وطن کې دينه

## خ:

خندا لهٔ تاسره ښايېږي
ماته خوپروت کنډر وطن او دېرغمونه

خبر مې واخله، کافر نهیم
کال مې پوره شو چې رنځور درپسېيمه

خدایه ګنجې ښېیور نه‌کې
د فیسبوک‌پاڼې په عکسونو ډکوینه

خلک به نوې یاري وکړي
زه به زړې یارۍ ته ورکړم پیوندونه

خدایه لالي ته مې نېږدې که
لس کاله کېږي په نامه یې ناسته یمه

خدایه خپل ښه راته بدیږي
چا ته چې ښه ګورمه ډیر مې ژړوینه

خیر دی که نه‌راځې لالیه
تشه دوعا راته کوه ناروغه‌یمه

خدای به مې ورک لالی پیدا کړي
بیا به همزولو منځ خواره نه‌کېږمه

خبر مې اخله کافر نه یم
کال مې پوره شو چې رنځور درپسې یمه

خالي کنډر د لالي پروت دی
ترینه راخیژي د چنچنو اوازونه

خدایه دا مور یې لیونۍ کړې
مئېن پرې زه یم، دا یې بل ته ورکوینه

خندا دې بې اجله مرګ دی
پهٔ بې اجله مرګ مې مه وژنه مینه

خولۀ به د خدای پۀ رضا درکړم
چې رب رضا وي، د چا څه پروا لرمه

خاونده څۀ کانې راوشوې
نۀ مې يار يار شو، نۀ يې خلاص لۀ غمه شومه

خدای د زما له زړه خبر که
چې پښې دې رېږدي، ځمکه ځای نه درکوينه

خدايه د کوم جرم سزا ده
د اختر ورځې دي، په غم يې تېرومه

خندا د روغو خلکو کاردی
زما داغلی زړه به څه په خندا شينه

خوله يې له وينو ډکه راوه
جنۍ په يار پسې بنګړي خوړليدينه

خدای خو دې دا ځلې راجوړ که
غوټه زړګيه، بيا دې نه‌مينومه

خلک په شور باندې ويښېږي
ما د جانان خاموشي خوب ته نه پرېږدينه

خوب مې ليدلی خدای دې خير کړي
ما وېل بنګړي مې په درشل مات شوي وينه

خلک حيران کړه غاړه راکه
ناځوانه ستا لاسونه چا نيولي دينه

خدای خو دې داسې څوک تباه کړي
چې ښايسته ښځه پرېږدي، هلک ساتينه

خدايه د غېږې يار يې مړ کړې
چې د بلچا يارۍ کې تيـږې ټکوينه

خلک تپوس له د رنځور ځی
زه چې رنځور شم، د جانان تپوس له ځمه

خوله ورکوم، بخيله نه‌يم
پر يار باور نه‌شته، ملګري هېروينه

خلکه په دغه ترټنه زاريم
چې جانان ټول کلی پرېږدي، ما له راځينه

خدای مې پاچا، رسول استازی
خيالي روژه به شفاعت راته کوينه

خدايه روژه مې په وطن کړې
د خپلې مور د ډوډۍ ډېر ارمان راځينه

خدای دې په داسې ځای کې زما که
چې نه پښتو وي، نه د خلکو پېغورونه

خدای دې له ښې ورځې محروم کړه
په دوزخي رواج دې سره سکروټه کړمه

خلک به نوې يارۍ وکړي
زه به زړې يارۍ ته ورکړم پيوندونه

خبر دې نۀ شته نا درکه
له ما نه ورکه ياره څه در شوي دينه

خدای په وړې انجلۍ مئين کړم
د کوټنو کاڼي په ما راټولوينه

خدای دې له دې حاله راجوړ که
وريـتـه زړګيـه بيـا دې نـــه مـئـيـنـومـــه

خاورې وې زر مې درنه جوړ کړل
خو ته کچه وې، رنګ دې ببرته واړاونه

خدايه زما ليلا سخي کړې
چې په روژه کې مې په شونډو مړوينه

خلک کور وګوري لور ورکړي
ادکـې زۀ دې پـۀ لـېـوانـو مـاتـه کـړمـــــه

خوابنې مې ښۀ ده بده نۀ ده
پۀ تناره کې سر مندي دودی شمارينه

خوابنې مې ښه ده بده نه ده
چې چرګ حلال کړي ما د پلار کره ليږينه

خدای مې دې ستا په غبږ کې مړه کړي
چې سر او پښې مې سموې، اوښکې دې څڅينه

خبر دې ګډه وډه راوړه
حرام زاده ريباره بيا دې نه لېږمه

خلک د پیر لمنه نیسي
ما د وړوکي جانان پښې نیولې دینه

خدایه په داسې ملک دې ورک کړم
پر ما تیارهٔ وي، پر یار زېړ مانیګر وینه

خزانه مړ شي، زه دې مړ کړم
یار مې جدا شو، زه هم ژېړ ورژېدمه

خیر به په خپل کلي راتول کړم
ستا په کوڅه کې به یې سپو ته واچومه

خبر دی که ژوند د ناچارۍ دی
ما د ببلتون په تیارو مه سپاره مئینه

خپله یې لس ځایه یاري ده
ما په یوه یارانه ګرده تاووینه

خدای به مې ورک لالی پیدا کړي
یو کال به نور یوسم د خلکو پیغورونه

خدایه ته رحم پر ما وکړې
ملا سرکار دی، ما مکتب ته نه پرېږدینه

خاونده ښکه بهٔ زهٔ نهٔ مرم
چې مورته شا کړي، ما ته شنه لهٔ خندا شینه

خدای دې د پلار مینه کړه ورانه
اشراره زه دې په ځوانۍ کې کونډه کړمه

خدائ دې په ځانله ځائ کې راکړه
چې نيم دې وخورم، نيم دې جيب ته واچوومه

خدای به مې ورک لالی پيداکړي
بيا به همزولو منځ کې خواره نه کېنمه

خدايه د عقل باران وکړې
چې له خيرنو زړونو يوسي نفرتونه

خوارۍ د خلکو د خندا کړم
له مجبورۍ نه مې خوله جينګه ګرځومه

خدايه درېګوني زامن راکړې
تور سور زرغون چې باندې کېږدمه نومونه

خبره ټوله د پيسو ده
پلار دې غريب سړي ته کله ورکوينه

خدای دې د بنګو بوټي وچ کړي
د کلي اوړکي زنګيدلي په لار ځينه

خال مې د کونډي په مخ وليد
پيغلو له ښايې چې پنځه کښيږدي خالونه

خبر مې اخله د زړه سره
د غم اوبه مې تر مرۍ راغلې دينه

خير مې له ټول کلي راټول کړ
اوس د جانان د سترګو خير ته ناسته يمه

خدایه په کبر یې شمار نه‌کړې
کمکۍ دې مړ وای چې مې نه لیدای غمونه

خوله ورکوم، بخیله نه‌یم
په یار بارو نه‌شته ملګري خبروینه

خیبر به نوم د ازادۍ شي
لوی امتحان دی خدایه دې ورکړي توفیقونه

خیبره زیرې مې درباندې
چې د ظلمو تورې څپې به ختمې شینه

خیبره سخت زړه مې درکېږي
زه بندي کړی کرغېړني کرښې یمه

خلک ارام په خوب ویده دي
زه به پېډوکي په سر وړم راوړم مئینه

خلک په شور باندې ویښیږي
ما د جانان خاموشي خوب ته نه پرېږدینه

خیر به په خپل کلي راتول کړم
ستا په کوڅه کې به یې سپو ته واچومه

خلک حیران کړه، غېږه راکړه
جانانه ستا لاسونه چا نیولي‌دینه

خولهٔ مې غوښته، غېږه یې راکړه
خدایه خیالي لیلا ته ورکړې جنتونه

خدای دې د دوو زامنو مور که
چې یوډاکتر شی، بل والي د پکتیا شینه

خولګی مې ټوله درنه ځار کړه
د لارې سر دی، اوس مې پرېږده مړوندونه

خدایه ته خیر کړې، خیر راپېښ کړې
هلته مې پېښ کړې، چې چا چرګ پوخ کړیوینه

خبرې ګډېوډې اورم
زما شیطانه یاره څه دې کړيدینه

خاورې به شم، خو در به نهشم
ستا بېقدرې به مې ټولعمر زوروینه

## څ:

څه کال تر کاله بدتري ده
چې کال تیریږي، بدرنګیږي صورتونه

څه لیوني وختونه تېر شول
په نیمه شپه به د جانان کلې ته تلمه

څه په اباد ښار کې، اباد یوو
یودووته یاد یو، نورو واخیستل لاسونه

څنګه مې پاس پر سینه پروت یې
د اخیرت سختۍ دې هېرې دی مئنه

څنګه د یوبل لیوني وو
څنګه مو واخیستل له یوبل نه لاسونه

څه لېونۍ مينه دې راکړه
څه لېونۍ دې په کوڅو کې پرېښودمه

ښکلګه بېوسه ورته ګورم
د يار کفن تياروم، په سفرځينه

څه ګډېوډې مې شروع کړې
ما به ملګرو ته کول نصيحتونه

څوک مې له حاله خبر نه شول
لکه سکاره په دوباره انګار ته ځمه

ښکلګه ناڅاپه را په زړه شوې
داسې ناڅاپه دې خدای راوله مئينه

څرمن يې سپينه زړه يې تور دی
زه يې په سپينه څرمن هسې تېروتمه

ښکلګه په ځيرځير راته راګورې
زه هماغه يم، انديښنو خوړلی يمه

ښکلګه ناڅاپه را په زړه شوی
داسې ناڅاپه مو خدای راوله مينه

څومره چې زړه ته مې نږدې يې
دومره نصيب دې رانه لرې ګرځوينه

ښکلګه دې مست په يارانه وم
ښکلګه رنځور دې د ببلتونه په تبه شومه

ښنګه پۀ ډکو سترګو لاړې
د مور شرينه زويه ډک دې شه لاسونه

څه په نري باران کې راغلې
قدم دې ښکل کړم، که دې غبږ کې ونيسمه

ښومره پَسته لکه مالوچ يې
مېره دې ړوند شه چې په تا سودا راوړينه

ښنګه چې زه وران او ويجاړ يم
د مسافرو روژه‌ماتي داسې وينه

ښوک مې له حاله څه‌خبر دي
لکه سکارۀ به دوباره انګار له ځمه

ښنګه په ډکو سترګو لاړې
د مور شرينه زويه ډک دې شه لاسونه

ښنګه نرۍ يې لکه لښته
مېړه دې ړوند شه چې په تا ماشوم ساتينه

ښلور پينځه زنګه دې وکړل
صبر دې وشه، پۀ لمانځه ولاړه يمه

ښنګه غريب ولاړ دی موري
يوځل به ورشم، په رسول که کمه شمه

ښوک مې ابۍ دادا خبر کړئ
خوشحاله نه يم، له ناکامه ناسته يمه

څه په خالي ميدان يې پرېښوم
څه په بېننګو مې ترلي وو شرطونه

څرمن يې سپينه، زړه يې تور دی
زه يې په سپينه څرمن هسې تېروتمه

څوک مې ابۍ دادا خبر کړئ
خوشحاله نه يم له ناکامه ناسته يمه

څۀ يې وړيا پۀ نشو مړ کړې
تا لۀ مارانو نه ياران جوړ کړي وونه

څوک به چړچو باندې اخته وي
څوک ځي خيبر ته عدالت به لټوينه

ځنګه د يو بل ليوني وو
ځنګه مو واخيستل له يو بل نه لاسونه

څۀ پۀ نري باران کې راغلې
قدم دې ښکل کړم که دې غبړ کې ونيسمه

ځنې دې غوړې که ګډېږه
زموږ خوارانو ښادي کله، کله وينه

څوک په وطن پسي ړانده شول
څوک په وطن کې د وطن غيبت کوينه

څو چې ناترسه يار خبرېږي
د غم سيلاب به په دکن سپارلې يمه

څهٔ نازولي يې کرار کړل
پهٔ هديره کې زولنې دي کهٔ قلفونه

څه نازولي يې کرار کړل
په هديرو کې زولنې دي که قلفونه

ښنگ به دې وېښنم لاليه
له خداى راکړې خندا تا بې برخې کړمه

ښنگه چې زه وران او ويجاړ يم
د مسافرو روژهماتي داسې دينه

ښنگه بې‌رحمه زمانه شوه
چيغې مې اوري، خو غږ هېڅوک نه‌کوينه

ځ:

ځان به له لوړ کمره گوزار کړم
د دُنيا خلک مې ژوندون ته نه پرېږدينه

ځان رانه هير، تهٔ مې پهٔ زړهٔ يې
د بل وطن جانانه تل دې يادومه

ځان به په تور تيکري عادت کړم
ياد به دې نه‌کړم تا به مړ حسابومه

ځان کې مې ښاځکى وينه نه‌شته
په ريکارد شوي غږ دې بيا ورپېښنه شومه

ځان مې سينگار کړ، ته رانغلې
رنگې کمځى تر مازيگره ناسته وومه

ځان مې سينګار کړ ته رانغلې
رنګې کوڅې تر مازديګره ناسته ومه

ځان به په تور ټيکري عادت کړم
ياري به پرېږدم تا به مړ حسابومه

ځان به په تور ټيکري عادت کړم
ياري به پرېږدم تا به مړ حسابومه

ځکه مې ځان درنه راټول کړو
درته بې قدره شوم په ځان وشرميدمه

ځان دې په تورو چرسو تور که
خپلو ملګرو ته دې زه بدنامه کړمه

ځان په غنمو ژوبل نه‌کړې
ته لا تنکی يې، زه لوګري درلېږمه

ځوانانو لرې ځان تري ساتئ
له تخنيکي ميني نه بوی د ګيريس ځينه

ځانله قلم واخله جانانه
د ټوپک مينه به دې ورک له ملکه کړينه

ځدرانه مړ يې که ژوندی يې؟
ستا په کوڅه مې لاس تړلې تېروينه

ځوانان خو ډلې ـ ډلې لاړل
په بنګو روږد لالی به کوم وطن ته ځينه

ځان مې د چرګ تر ښنو سپک کړ
د موزيګي کټ ته په خپله وختمه

ځواني مې لاړه، راشه زر کړه
زليخا نـهٔ يـمـه چې بيـا بـه پېـغلـه شمـه

د:

د نيمې شپې راتګ دې ورک شه
د نيمې شپې ورک شوي چا موندلي دينه

د چا په خيال خاطر کې نه يې
يوازې زه ليونۍ زړه درپسې خورمه

د خپل مئن تپوس دې وکړه
په ليو ـ ليو ګولۍ خوري، درپسې مرينه

د نيمې شپې راتګ دې ورک شه
سترګې مې پټې پټې کيږي، خوب راځينه

د کجاوې د غاړې ګله
پرون تازه وې، نن دې مړه دي ډنډرونه

د جدايۍ اوله شپه ده
ده درد ګولۍ ورته په ليو ـ ليو خورمه

د کړنخان کافره غږه
تللی جانان راياوې، تباه دې کړمه

د پشکال په ګرمۍ پوخ شې
ښنګه دې ورانو ديوالو ته پرېښنودمه

دومره مې مه‌رټه جانانه
مرگ راپسې دی، بیا به وکړې ارمانونه

د تا په زړه به ما ته څه وی
زه خو د خولې زاولې په ناز درنیمومه

د زړه په زور مې خندا وکړه
یار مې غلط کړ، ترینه پټ مې کړل غمونه

د سپینې‌خولې زکات دې راکه
پر پیغلو نجونو باندې فرض دي زکاتونه

د جوارگر لالي دلاسه
د سرو گوتمې مې په کمڅو تړلي دینه

د نصیبونو فیصلې دي
د زړه په خوښه یاران چا موندلي دینه

د بې‌ننگۍ لوبې دې وکړې
ما به دې خلکو ته د ننگ صفت کاونه

د یار تهمت د دهلې تخت دی
چې د جانان په تهمت رنگ شوم پاچا شومه

د خدای خدایي پکې ښکارېږي
د جانان سترگو ته حیران ودرېدمه

د چا په خیال خاطر کې نه يې
یواځې زه لېونۍ زړه درپسې خورمه

داسې به ډېر کلونه تير شي
زما او ستا به پکې نه وي ديدنونه

د يارانې مطلب دې نه دی
د يو نيول، د بل شړل، خوند درکوينه

د سر دُښمن مې هوښيار خوښ دی
زه د کمعقلو په يارۍ ستومانه يمه

د خوشحالۍ بخت مې کوټه دی
غم مې د زړه په ډاګ خيمې وهلي دينه

د انقلاب زور خو دې وليد
ډيرې ورينداريې اوس لېورو ته ناستې دينه

د بېوسۍ ناره مې وکړه
پردي پردي وو، خپلو واخيستل لاسونه

د خدای خدايي ته مې سلام دی
خير که مې برخې له ازله خوارې دينه

د خدای په لوی کرم به کېږي
زما په فکر بېړۍ غرقه، غرقه ځينه

د عاشقۍ محتاجه ژونده
مئين په يو يم خيال د ټول کلي ساتمه

د زړګي زور مې پاتې نه دی
ياره کيسې دې لنډوه ستړې دې کړمه

دا ستا په غوږ، والۍ زما دي
تا ته مې ورور په يارانه درکړېدينه

د سترې ژوند، سترې کيسې دي
جانانه مه مې غږوه، ژړا راځينه

د لالي سر دې سلاموت وي
زما پرسر دې د دونيا غمونه وينه

د دروازې ملنګ ته وايه
صبر دې وکړي، په لمانځه ولاړه يمه

د زور دې نهيم زورورة
د زړه ازار به درته ټول عمر کومه

د جدايي اول ماښام دی
ملا ازان کړي، زه سلګو نيولۍيمه

داغونه ډېر پر زړګي راکړه
ياران ضرور يوبل ته نښې ورکوينه

د پشکال د ګرمۍ زور دی
زلفې دې تولې که چې نهدې تنګوينه

دروازه جګه ورته کېږدۍ
دا کبرجنه ناوې سر نهټيټوينه

د لاس نيولو مې څوک نه وو
تر مازديګره سترګې ډکې ګرځېدمه

د جنازې اعلان مې مه‌کړه
زه دې سپیره‌جهان کې هېڅوک نه‌لرمه

د قسمتونو ویش شروع و
ما لیوني کچکول چپه نیولی‌ونه

د جانان بد، د ولو منځ دی
هله به یې وینم چې مې سترګې شاته شینه

د کلي شا ته رنځور پروت دی
که ما ورپرېږدی په دیدن یې رغومه

د رغېدو خبرې پرېږده
د ړنګېدو ورځې نېږدې دي وران به شمه

د وطن رنګ ورپسې خړ دی
ګلان، ګلان وړکي سفر ته تللي دینه

د پېغلتوب په خوند پوه نه شوم
پلار مې غریب و زما ډیر و ارمانونه

د یار مې چاودې، چاودې شونډې
چې ورته ګورم خپلې شونډې وچیچمه

د کلي ټولې حجرې تشې
ځوانان په شلو وطنو اوښتي دینه

د مازدیګر زیـړیه لمره
زیـړې شُغلې دې ورک جانان رایادوینه

د کوټې ور مې راټکيږي
جانانه ته يې که پېريان راغلي دينه

د کلي منځ کې ډزې وشوې
په زړه سورى شې ياره ودې کړه کوژدنه

د بيلتانه سيلۍ لګيږي
ټول عاشقان وطن پريږدي، کډې ترينه

د ځوانۍ ونه مې زړه شوه
د صبر ونه به مې اوس نيسي ګلونه

د خدای‌رسول ته به ګيله کړم
ستا په امت کې زه بې ياره ګرځېدمه

د زړګي تاؤ مې پرې کم نه‌شو
د پشکال باران ته ډېره ودريدمه

د بېلتانه زور مې ليدلی
پر ميړي پښه نه‌ږدم چې يار بې پاتې‌شينه

د بې وفا په نوم دې يادکړم
تا څه ليدلي دي زما د زړه داغونه

د دعا چل دې رانه هېر کړ
مئين دې ډېر شه، چې ښېرې درته کوينه

د سترګو ټول نظر پر ما کړه
لکه ويشتلې مرغۍ ببله ناسته‌يمه

د کابل باده راشه راشه
د پېښور ګرمۍ په اور سېزلې يمه

د لالي کور کې دزې وشوې
يا يې واده دی، يا بې ځان وژلی‌وينه

د ببلتانه ماښام مې وژني
له کوره تللي خلک ولې نه‌راځينه

د کافر ګل په شان کږه شوې
چې را سمبږې ورځ به نيمه تېره‌وينه

دا خو انصاف نه دی جانانه
چې دې مئين کړم اوس مې نه کړې تپوسونه

د ببلتانه کيسې شروع دي
ما د لالي لاسونه کلک نيولي دينه

د سرپناه سرې مې ته وې
تشو مېږو ته دې يواځې پرېښودمه

د لاس ورغوي مې تاوده دي
نيکي چې چا سره کوم، بدي راوړينه

د لالي کالکېږي د بل دی
زما نمجنې سترګې لانمجنې دينه

د زور دې نه يم زورورره
د زړه ازار بهٔ درتهٔ تول عمر کومه

د بې وسۍ کورګیه ړنګ شې
ډېرو بې ننګو ته دې ټیټ راوستی یمه

د مشورو یاران مې ډېر دي
د لاس نیوی یاران په خوب کې نه وینمه

د یار په تلو مې داسې وخ کړل
لکه چې ګوتې دروازه کې بندې شینه

د راتلو لارې دې څارمه
دلداره ستاسې له خوا هېڅوک نه‌راځینه

د دروازې زنځیر را جوړ کړه
اوزګاره خلک دي لمنې تورووینه

د هېریدو نه یې جانانه
اوس چې راغلې، په عذاب یې تېرومه

د شپې خو هر سړی راتلی شي
د ورځې راشه چې تاوان دربانديې شمه

د لښکرونو ملک ته وایه
په وینو موړ شوې که نور هم کوې جنګونه

د باباګانو زړونه ځوان دي
زه لکه نیمګړی مازیګر به درنه لاړ شمه

دروازې پورې کړې پناه شي
د مسلمان له دره تشه ځولۍ ځمه

د هر چا خپله خپله خوښه
زه د وطن په خاوره مړ خوشحاله يمه

د ديدن ورږي به ماړه کړم
د کلي منځ کې به لوڅ مخي تېره شمه

د نازولې انجلۍ وروره
اوښی مې نه يې چې په شاه دې ګرځوومه

د نازولې انجلۍ وروره
خور ته دې وايه زما ډېر ډېر سلامونه

د جينکو متاکې سترګې
چې په پردۍ ښنګل به خوب ښنګه ورځينه

د ببوسۍ حد ته مې ګوره
ښښتن راکړې ژبه ګونګه ګرځوومه

د پنجابي حسن مېرمنې
په پښتنو برېتو مې مه وهه لاسونه

د ژړېدلو سړی نه يم
ځوک چې بې ننګه راته وايي وژاړمه

د ماشومانو سره ناست يم
ستا په کوڅه کې ستا پوښتنه ترې کوومه

د دروازې د ځنځير غږه
مسافر يار رايادوې تباه دې کړمه

د ټوپک سیورى به دې واخلي
د لوپټې په سيوري مه کوه خوبونه

د غريبۍ څه زلميتوب وي
نه يې ياران وي نه د ژمي مجلسونه

د جهالت ابۍ دې مړه شي
چې نور بې علمه بچي نه راوړي مئينه

د تسلۍ راسره څوک دي
يوه کړکۍ ده بله زه ولاړه يمه

د وطن باده رارسېږه
د هندوستان ګرمۍ په اور پوخ کړې يمه

د مينتوب په نښو پوی ده
وره خو نده چې راليږي ځنځيرونه

د دروازې زنځير راجوړ کړه
وزګاره خلک دې لمنې توروينه

د بارانه سوال مې قبول شو
د يار زړه نه دی په کړو شيبو کې ځينه

د سمندر ظالمه زوره
زما له وروره دې خپل کور وتښتوونه

د زړګی زور مې پاتې نه‌دی
ياره کيسه دې لنډوه، ستړې دې کړمه

د ورکو سترګو دیدن راوړه
که روغه نه شوم، نور مې مه‌کوه پوښتنه

د لالي مال او دولت کم کړې
چې بیا نامه د بنې نه را یادوینه

دې راروان اختر ته راشه
خلک دیرش نیسي، ما شپېته نیولې دینه

د یار مې چاودې ـ چاودې شونډې
چې ورته ګورم، خپلې شونډې وچیچمه

د مور ملوکې، سرې دې نوکې
په سورسالو کې دې خندا مزه‌کوینه

د چا چې زړه درسره نه‌وي
لاره یې پرېږده چې په خپله مخه ځینه

د غمازانو د خندا شوم
نور د جانان په یارۍ نه‌ترم شرطونه

د بېلتانه سره مې جنګ دی
زما د ژوند لونګ یې شنه رېبلي دینه

د کال ځلور فصلونه تېر شول
نصیب مې نه شول ستا د سترګو دیدنونه

د ورونو خور په کور زړه شي
چې مور یې مړه شي، بیا د لارو کوځو شینه

د پلار يې سترګو کې روپۍ دي
د لور د ژوند خبره سوچ ته نه‌ورځينه

د دروازې د زنځير غږه
مسافر يار رايادوې، تباه دې کړمه

دومره به ستا په نامه کښېنم
چې پر اوربل مې غنې واچوي تارونه

د بيلتانه به خاص غلام شم
ما دې له خپله ياره نه جدا کوينه

د جانان دوه ځايه ناستی وي
يا د سيند غاړه يا د ځګوغرو سرونه

د توهمتونو زمانه ده
لالي ته وايه خوله دې پټه ګرځوينه

د بېوسۍ اوښکې دې جارشم
که واک مې خپل وای، غم مې کله درکاونه

د مازديګر ژېړيه لمره
يا مې درواخله، يا راتولکړه تناوونه

د ظلم او زور زياتي يو حد وي
زما د زړه غنم يې شنه ريبلي دينه

د زړه په زور مې خندا وکړه
يار مې غلط کړ، ترې نه پټ مې کړل غمونه

دا مخامخ ديوال دې وران سې
تر دې پناه دي توري سترګې سره لاسونه

د تُورو سترّګو زور دی دا و
يو دی مئين او بل دِی ورک له ملکه کړمه

د زړه او شونډو لار يوه ده
چې زړه خفه شي، شونډې ونيسي بارونه

د ببلتانه غم دې را کم شو
لاليه ته ټګ وې، که زه نامرده يمه

د دلهګانو په اختيار يم
کيسې به اورم، سر به کښته‌ګرځومه

د مدرسې طالب مې يار شو
چې خوله ترې غواړم، مسألې راته کوينه

دا زهٔ چې غټې غټې وايم
ما ته مې يار پهٔ سپينه خولهٔ خندلي دينه

د زړه رضا دې وه، چې لاړې
ګنې قرآن دې پر سر چا نيولی‌ونه

درته ولاړ لکه غنم يم
د ببلتانه مې سيلۍ تيل‌ماتېل کوينه

دا چې سازونه ورته وايي
سازونه نه دي، حقيقت کې دي سوزونه

د پېغلو زړونه فولادي دي
يويار يې مړ شي، بل ته سترګې تورويـنه

د جدايۍ زهر مې څکلي
ما د مارانو زهر نـهٔنسکوروينه

د خدایلهٔپاره راپوخلا شه
د بېلتانه سختي مې سا راللنډوينه

د جدايي ورځې دې شمارم
تولتاريخونه مې پر زړه ليکلي دينه

ديواله ټينګه تکيه راکړه
زه د بې ننګو له تکيولوپډلي يمه

د باران دې کمال ته ګوره
له ياده وتي خلک بيا در يادوينه

د تسلۍ راسره څوک دي
يوه کرکۍ ده، بله زه ولاړه يمه

د پښتنو رواج دې ورک شي
چې دوهمېن جلاکوي، ژړا راځينه

د ميني تول مو سره وکړ
زه يو مثقال تر جانان زياته وختمه

د جانان مخ رانه هېر نهٔشو
که ډېر مې ولوستل د صبر کتابونه

دلتهکې هرڅه شته مورجانې
خو ستا دوعا ته په هرګام محتاجه يمه

دوکه دې وکړه، ځان دې خلاص کړ
زه دې د ژوند پر لار يوازې پرېښودمه

د جانان دې ظلم ته ګوره
چې چېرې ګروپ وي، لګولې يې پرېږدينه

د خولې خندا دې راسره ده
د زړهٔ خبرې دې له بل چا سره دينه

د جوارګر لالې د لاسه
د لاس ګوتمۍ مې په کمڅو ترلې دبنه

داسې به ډېر کلونهٔ تېر شي
زما او ستا به په کې نهٔ وي ديدنونه

د لالې سل زر دُښمنان دي
سبا به مړ وي، مخ ترې ولې پټومه

دا به له ما نه پوره نه شي
چې هر ساعت دې په جرګو پخلا کوومه

د زړه له تله دوعا وکړئ
خاورې کوي مې غرونه ـ غرونه ارمانونه

د زړه په غوښو مې رالوئ کړ
اوس يې رقيب پر سپينمړوند کوي خوبونه

ديدن کوه خفه پرې نه يم
که لاس دې راوړو، نو دادا مې خبرومهٔ

دا پهٔ ما څهٔ شوي دي خدايه
چې څوک يې نوم رايادوي ژړا راځينه

د ټوپک ډز دې پهکـی نهوي
د سترګوجنګ دې ترقيامت پورې وينه

د ببلتانه غم دې راکم شو
لاليه تګ وې او که زه نامرده يمه

د وضاحت مې ببوسي ده
ګونګی داستان دی، ژبه بنده ګرځومه

د ليوني په زړه به څه وو
روستي ديدن کې يې په شا راوکتنه

د وخت مئين لـکه کلدارې
جيب کې دې وي، خو پرې داډه نه وي جيبونه

د يار په کور کې دزې وشوې
يا يې واده کړه، يا بې ځان وژلیوينه

د محبت باران دې وشي
چې له کرکجنو زړونو يوسي نفرتونه

د ببلتون ډار مې په زړه ښخ دی
وړه خبره مې رنګ زيـړ وتښتوينه

د کوټې تیر راباندې پروت وای
راباندې نه وای د زاړه سري لاسونه

دُنیا د سود په لور کړه شوه
اشنا د یار کوڅه پرېږدي په بله ځینه

د کلي جامې ته بهٔ ووځم
چې میرنیو وروڼو لرې خرڅه کړمه

دواړه د یوه صنف ټولګیوال وو
هغه ډاکټر شو زه ذهني بیماره شومه

د جیلخانې کړکۍ ته راشه
نښې دروادخله، ما پانسۍ ته خېژوینه

د ګوتو لس سرونه سره کړه
پر زړګې لس داغونه ستا د لاسه ږدمه

د زړه په زور مې خندا وکړه
یار مې غلط کړو، ترینه پټ مې کړل غمونه

د غره پرسر مې د یار کور دی
ما توتکۍ کړې، چې کړه‌وړه ورځمه

دومره دردمنې‌ټپې مه‌کړه
یارمې تازه مرور شوی، مړ به شمه

د ببلېدو سخته شېبه وي
مرۍ مې غوټه شي، نصیب مې وښکنځینه

د ډسمبر ساړه لګیږي
ماته د لرې لالي غېږ رایادوینه

د تشي خولې مئین دې نه یم
په سخته ورځ به درنه ځان قربانومه

د جدایي عذاب دې سخت دی
بلې سکروټې مې په زړه نیولې دینه

د سپینې خولې یاران دې نور دي
د غوا پولو ته دې زه نیولی یمه

د هغوی هره شپه اختر وي
چې خوږه مور یې پیشلمي ته پاڅوینه

د خوشالو دوښمن ته وایه
سبا اختر دی، څوک دې نهازاروینه

د اختر ورځ کې هم رانهغلې
بس نورڅه نه شته، راته ګرځي ستا یادونه

د غریبۍ د لاسه خدایه
نېږدې خپلوان مې اوس پردی حسابوینه

د بېوسۍ کورګیه ړنګ شې
ډېرو بېننګو ته دې تیټ راوستی یمه

د نیمې شپې راتله دې ورک شه
زه تر سهاره څوکیداره ناسته ومه

د ببوسی حد ته مې ګوره
خالق راکړې ژبه ګونګه ګرځومه

د زړګي زور مې ختم شوی
د ژوندون چارې لکه غر په اوږوو وړمه

دا غريبي مې خوښه نه ده
په وروروله کې سرې پاتې راولينه

دا چې د ګوتو په سرو ځم
له کبره نه ځم، يار ته ښني جوړومه

د پيشلمي غږ مې دښمن دی
ما د جانان له تودې غېږې ببلوينه

د مور ملوکې، سرې دې نوکې
چې انګار پو کې، خال دې شنه رنا کوينه

د يار ښکنځل د ګل ويشتل دي
بد يې خندل دي چې يې بل سره کوينه

د دروغجنو مېندې مړې شه
زه د لالي په غېږ کې چا ليدلې يمه

د لالي مال او دولت کم کړې
چې بيا نامه د بنې نه رايادوينه

د شنو روپيو زور ته ګوره
په ږيره سپين سرې ته پېغله ناسته وينه

د ياراني سړی رنځور وي
شپه يې شوګيره، ورځ په تمه تېروينه

د روژه ماتي وخت کې راغلې
زه روژه ماته کړم، که تا ته وګورمه

د شوګيرو عادت سړی يم
د کلي خلک پيشلمي ته ويښومه

دوستانو کوم يو به مې بوزي
مرګی بيلتون دواړه جوړه راغلی دينه

د هرې مور غېږه خوږه وي
ماتـه رايـاده شي، ژړا ځکـه راځـينـه

د پيشلمي سخته سهاره
جينی د خوب جټکې وهي پخلی کوينه

د پيشلمي بانګونه وشول
ليلا د يار له مټو زُلفې خلاصوينه

د پيشلمي غږونه وشول
له نری ملا ښخه مې وباسه لاسونه

دې راروان اختر ته راشه
روژې مې تولې په سلګو نيولې دينه

د غاښ ښبان دې نه ورکېږي
په غم ښادي کې مخ له خلکو پټومه

د زنګېدلو سترګو یاره
پر ما بربادۍ ورځې ستا د لاسه دینه

د ژمي شپه ده، یاران نشته
څوک مسافر دي، څوک مرګي خوړلي دینه

د نیستۍ وخت کې ورسره وم
چې لالۍ ښاد شو اوس مې نه کوي پوښتنه

د غریبۍ زور مې لیدلی
ما اوریدلي دي د خلکو پېغورونه

د غریبۍ څه زلمیتوب وي
نه دې یاران وي، نه د ژمي مجلسونه

د مازدیګر لمونځ مې قضا شو
نوی مئین وم په دیدن نه مړېدمه

د مازدیګر اذان پرې وشو
خورکۍ د ورور په قبر کاني سموینه

د دوه مئینو کټ دې یو شي
د ریبار کټ دې د جنت په منځ کې وینه

داسې یووخت، داسې روژه وه
تر پیړشمي به مې جانان ته ویل شعرونه

د نیمې شپې راتګ دې ورک شه
تا له چپلکې سره غول راوړي دینه

د ټيکۍ وار دربانديٍ راغی
شفتلخورکي رنګ دې زيړ وتښتيدنه

د ټيکۍ وار راباندې راغی
له ما چارپيرو خويندو ټک وهئ لاسونه

د يوسپږن کره مې شپه وه
سپږو چيچلم، ريچو ډول راته واهنه

دغه مې خوشې مسخرې دي
کږه‌وږه به د جانان مخې ته ځمه

د يوه‌خوار کره مې شپه وه
اوږه يې نه وو، رپېده يې ډبوله

د شونډو جنګ راسره وکه
د سترګو جنګ درنه ګټم، سپين سترګې يمه

دا ګلالی له موره يو دی
مور يې تبر کړي د ناکسو منتونه

د روژې هسې نوم بدبږي
زه زيره زيره د لالي غمونو کړمه

داسې يووخت، داسې روژه وه
تر پيړشمي به مې جانان ته ويل شعرونه

د روژې مياشت ده سوال قبلبږي
د مسافرو حق کې پورته کړئ لاسونه

د پېښمني غږ مې دښمن دی
ما د جانان له خوږې غېږې بېلوينه

د جدايي اول ماښام و
اذان شروع و، زه سلګو نيولي وومه

د کلي تولي لاري بند کړئ
زما لالی په سفر ځي چې پاتي شينه

د نازولو ورږ پنجاب دی
د توپک وړلو ته يې زه نيولیيمه

د غاښ نښان دې نۀ ورکېږي
پۀ غم ښادۍ کې مخ له خلکو پټومه

دا ستا په زړه به ماته څه وي
زه خو د خولې ژاوله په منځ درنيمهومه

د زورورو مې ياري کړه
پر مخ مې سيند د اوښکو ځي، خولۀ ورکومه

د لړمانه په بوې مې مړ شي
په يو طرف مينه دې سوټه بوټه کړمه

دومره په بخت زورور نه يم
چې له تالا باغه به راوړم زيړ ګلونه

ديواله تينګه تکيه راکړه
زه د بې ننګو له تکيو لويدلی يمه

د نصیبونو ځای اسمان دی
په ځمکه ما او جانان ډیر ژړلی دینه

د میني لار بلها اوږده ده
د نفرتونو لارې ډېرې لنډې دینه

د ښار یاري له دوکو ډکه
موږ کلیوال خپلې وفا خوږلې یونه

د بـخـتــورو پــه نـصیب وي
په تور ماښام د تورو سترګو دیدنونه

داسې دې مات کړمه جانانه
واپس چې ځان راټولووم قیامت به وینه

د زړه له سوخته به نارې کړم
تا بې اسرې کړم د پردو محتاجه شومه

د تورو سترګو اشنا ښهٔ وي
ځوک چې شین سترګی یار لري، برباد به وینه

د نارینه اولاد کمی دی
ځان ته د بنې پهٔ لټون وتلې یمه

د معشوقو دغه دستور دی
یو یې اشنا وي، لس په تمه ګرځوینه

د مازیګر لمرونه ټول شول
جانان مې نشته، سترګې چاته واړومه

د جانان دې کبر ته ګوره
د سپينې خولې لاړې پر ځمکه غورزوينه

ديدن په منډه، منډه وکړه
مور مې مېره ده ګوټ په ګوټ مې لټوينه

د کلي جامې ته به ووځم
چې ميرنيو ورونو لرې خرڅه کړمه

د خپله لاسه مې پرې مړ کړې
د ټوپک غږ شو زه په بام دروختمه

ديدن په منډه، منډه وکړه
مور مې مېره ده ګوټ په ګوټ مې لټوينه

د مينې زور د پاچا زور دی
ياغي سرونه غلامۍ ته اړ کوينه

د بېلتانه لاس دې هم خلاص وي
يار يې جدا کړ، نور يې څه پروا لرمه

داڅه وړه کيسه‌ګۍ نه‌ده
د يار بېلتون دی هر يادګار يې زور لرينه

دا ناڅاپي مرګونه ډېر شول
جانانه خپل حق رابښه، خپل دربښمه

د بې وسۍ ژوند مې ليدلی
اوس چې بې وسه وينم سترګې پټومه

د ببلتانه احسان راپورې
ما د لالي په قدر ورو ـ ورو پوهوینه

د عشق مثال لکه کرکټ دی
څوک پکې اوټ شي، څوک چکې پکې وهینه

د بنې غږ رابانديې وشو
لکه ډوډۍ په تناره کې وریته شومه

د بابا کور مې اوس کنډر دی
کله چې ورشم، ورته ډیره وژاړمه

د نصیبونو فیصلې وې
دا ته د چا او زه د چا ورسیدمه

د مسافرو زړه نرۍ وي
وړې، وړې خبرې زړه ته غورځوینه

د خپل قسمت نه به تېر نه شي
که څوک مرغه شي په هوا مزل کوینه

د یویشتمې پېړۍ خلکو
راتلونکې نسل بم په کوم نوم یادوینه

د کټ په لنګه درته ناسته
د پښوو له ګوتو نه دې باسمه تکونه

د زړه په ورانو دیوالونو
ستا تصویرونه مې تازه ساتلې دینه

د زړګي زور مې پاتې نه دی
یاره کیسه دې لنډوه ستړی دې کړمه

درد مې ماغزه راستړي کړي
مکتب مې کولپ دی لوست نه لرې پاتې یمه

د پښتنو بده رواجه
لمبې کړي بلې، اور په خویندو مړکوینه

دا سپینمړوند دې رانږدې که
تا ته مې درېرنګه بنګړي راوړيدینه

د جانان مخ رانه هېر نهشو
که ډېر مې ولوستل د صبرایتونه

د لالي کور راته دوزخ شو
په ما یې بله بنه وکړه غرقه شومه

د ځینو خولې هسې سوری دي
زه به د چا خولې ته برغولي جوړومه

د غم سیلۍ وربانډې لګي
ایرې، ایرې وجود مې ورو ـ ورو دوړوینه

د اسلام هسې نوم یادېږي
د اروپا تبعیض پخوا وژلي یونه

د پلار پګړی مې خیال ته راغله
پرون په یار پسې وتم، راستنه شومه

د خوبندو لونو سوداګره.
کږه شمله چې پر سر ږدې، خندا راځينه

د ديدن ځای راته مالوم کړه
که د چړو په څوکو لار وي در به شمه

د جدايي اور دې بل کړی
قطرې، قطرې غوښې د زړه پرې پخومه

د سر زوری انجام دې وليد
د چغې سرته ـ سرته تلې، کونډه دې کړمه

دنيا له مينې نه پيدا ده
چې نفرتونه خپروي، تباه دې شينه

د يار مې چوخي چوخي مخ دی
چې لږه لويه شم غمي به په‌کې ږدمه

د يار مې چوخي چوخي مخ دی
د پشکال خولې پرې ډنډ ولاړې دينه

د محبت باران دې وشي
چې له دې تورو زړونو يوسي نفرتونه

د پښتنو بده رواجه
ورونو بل کړی اور په خويندو مړ کوينه

د يار، ياری کې مشهور شوم
اوس به مې نوم له لمن خنګه پاکوينه

د مني پاڼې غونډې ژېړ شوم
يار ځوانيمرګ شو، زه هم کښته ولوېدمه

د صداقت سلام پرې نه‌کړم
زما پرزړه باندې يې لوېې کړې دينه

د دله ګانو په اختيار يم
کيسې يې اورم سترګې ښکته ګرځومه

د بادشاهي لايقه ياره
ستا پر تندي ګردونه زړه سورى کوينه

د نرينه اولاد کمى دى
ځان ته د بنې پهٔ لټون وتلې يمه

د مور ملوکې سرې دې نوکې
چې ځاى جارو کې په کې واخلې قدمونه

د مور ملوکې سرې دې نوکې
چې انګار پوکې خال دې شنه رڼا کوينه

د مور ملوکې سرې دې نوکې
پاس په تالو کې دې خندا مزه کوينه

د مور ملوکې، سرې دې نوکې
په سور سالو کې ګرځېدې مَېن دې کړمه

د مور ملوکې، سرې دې نوکې
چې ناړې توکې نو ژېړې ګلونه شينه

د مور ملوکې، سرې دې نوکې
د زلفو ځوکې دې په مخ خولې لګوینه

د مور ملوکې سرې دې نوکې
په سورسالو کې په ناز اخلې قدمونه

د مور ملوکې سرې دې نوکې
د زلفو ځوکې دې طلا ته ورته دینه

د مور ملوکې سرې دې نوکې
د زلفو ځوکې دې په جېب کې ګرځومه

د مور ملوکې سرې دې نوکې
مابه لاهو کې په نوښار به وخېژمه

د جانان سترګې مې يادېږي
خدايه ژر شپه کړې چې په خوب يې ووينمه

د مور بچي ټول مسافر دي
پر موصله ناسته دوعا ورته کوينه

د ببوسۍ اوښکې دې ځار شم
زما د خداۍ په چارو نه رسي لاسونه

د ډسمبر ساړه لړېږي
زه په لالي شيندلی ځان راټولومه

دا خو مې زړه دی چې لاتينګ دی
دومره ويرونه دريابونه وچوينه

د خدای کرم چې پر چا وشي
هغه څه وشي چې په خيال کې نه راځينه

د نفرتونو بازار تود دی
جانان ته وايه خوله دې پټه ګرځوينه

د سر زورۍ انجام دې ولید
د لښکر سر ـ سر ته کیدې، کونډه دې کړمه

د دونیا هرڅه به شي پاتې
د لارېمل به خپل عمل درسره ځینه

د بې وسۍ نه ډکه ژونده
خوارۀ دې نه‌شته، د اجل ترې دې کړمه

د جانان دوه ګوتې کاغذه
لکه تعویذ دې تل په غاړه ګرځوومه

د غوړېدو هیله مې نه شته
جانان په تمه د باران کرلې يمه

د جنۍ سپینه خوله مې ښکل کړه
پـه غـړېـدلـو سـترګـو ويـنـم جـنـتـونـه

د رغېدو تمه مې نه‌شته
د زړه پرهر مې اوس اوبه اخیستې دينه

دومره مې بخت هم بېدار نه‌دی
چې مې جاهل خلک ناڅاپه هوښيار شينه

دا نیمه شپه بوی د لونګو
چېـري به مستو پېغلو کړي اتنونه

د خویندو مینه بې مطلبه
د ورونېو مینه تر مطلبه پورې وینه

د زني خال دې مبارک شه
تا به د زړه په ځیګرخون وهلی وینه

د جانان غمه نور مې پرېـږده
شپه نیمایي شوه، مزدورۍ ته سبا ځمه

د بدې ورځې بد ساعت دی
ځکه د ویر پیټی په زړه کې ګرځومه

د غُربت کنده یې وطنه
یار ملامت نه دی چې بل وطن ته ځینه

د ستونزو کنده یې وطنه
ملامت یار نه دی چې بل وطن ته ځینه

د جدایۍ زور مې لیدلی
کور کې مرغو ته ځالې خپله جوړومه

د زړه په زور مې خندا وکړه
ګنې زه چېرې د خندا داسې موجونه

د تسلی یارانو څه شوئ؟
د اندیښنوسیلاب مې ښکته پورته وړینه

د یار مې جیګه نرۍ ونه
ما پرې زړه کې، بله مه کړې پرې مئینه

د دروازې زنځیر را جوړ کړه
وزګاره خلک دې لمنې تورونیه

دېتا دا ګډېوډې ښځې
ما ته مې خپله زندګي راپادوینه

د ښو ټوپکو اوستاکاره
د ښو ځوانانو خون به ستا په غاړه وینه

د سترې ژوند، سترې کیسې دي
لالیــه مـــه مــې ړغــوه ژړاراځـیـنـه

د شکرانې روپۍ دې کېده
ته په ما ګران یې، تا به هسې دمومه

د تګ پر وخت یې ویل: «راځمه»
دا دی سپین سرې شوم اشنا مې نه راځینه

دلالې کال کبږې د بل دی
زما نمجنې سترګې لا نمجنې دیـــنه

دغه خوښې دې مبارک شه
خپل‌وخپلوان دې په میلو راغلي دینه

د اسوېلو علاج مې وکړه
زیاتی به وکړې ستاسو کور به وسیځینه

د جوارګرو دې کور وران شي
د جانان قدر کموی، ځان شرموينه

د وينو ډکه خوله يې راوړه
نجلۍ په يار پسې بنګړي خوړلي دينه

داد مې زه پکې واده کړم
په داسې خلکو ځوک غوايه نه څروينه

د ټيکري درز نه درته ګورم
غيرتيان ناست دي، اوس به وينې تويې شينه

د نازولي يار روژه ده
ورپسې ګرځم چمنونه لټومه

دنګه دې غاړه، دنګه ونه
شيرينه ياره په ديدن پسې دې مرمه

د يار مې دغه عادت زړه خوري
اوښان په بده ګرځوي خوري قسمونه

د تور دکن مساپر راغلل
د هديرې لالې نژدې دی نه راځينه

دغم پوليس راپسې ګرځي
زه د ليلا په يارانه غل شوی يمه

د ببلتانۀ تر غرونو تېره
زړۀ ته را تېره ياره نه راځي خوبونه

د بدو ورځو مل دی زه وم
لاليه ښاد شوې، بيا دی ونه کړه پوښتنه

د ناروغۍ خبر مې وروړئ
د بې وسۍ خاطر لري، پخلا به شينه

د نفرتونو کور دې وران شي
د مينې کور دې تر قيامته پورې وينه

د کندهار شين ارغنداوه
که مې يار راغی کال په تا کې تېرومه

د يارانې لارې اوږدې دي
ياران له ما سره په لنډو لارو ځينه

د جدايي اور دې بل کړی
قطرې، قطرې غوښې د زړه پرې پخومه

د رواجو ستم دې ورک شي
چا چې جوړ کړي، اوس دې خپله ګرځوينه

د جانان هغه مينه نه وه
زه د زړې يارۍ په خوند ورغلی ومه

د روغتيا تمه دې عبث ده
په نيمه شپه مې له خولې وتي ازارونه

د ماهيپر قاتلې لارې
له ما دې واخيسته يو يار او جوړه ورونه

لالی مې سخت په خوب ويده دی
پيشمنی تېرشو، ملا وکړل اذانونه

لا خو دې شل نيولې نه‌دي
وړوکيه ياره روژې خچپچ کړی‌ينه

د نيمې شپې راتگ دې ورک شه
د نيمې شپې راتگ مرگونه جوړوينه

د غم پوليس راپسې گرځي
زه د جانان په يارانه غل شوی يمه

د حجرې ورهٔ کې په ژړا شوم
واوره وريږي، ياران لرې تللي دينه

د يارانې مزه دې نشته
لکه د بورې غوا په زور دې ودرومه

د ډېرو زړونو ازار ماخله
زوال که راغی، بيا به وکړې ارمانونه

د ناهيلی چاره دې وکه
تا په سپينږيرو باندې سر وگرځاونه

د مور ملوکې سرې دې نوکې
په قد وړوکې، زړه مې غټ درپسې چوينه

دا دی د غم سندری وايم
خلک به وايی چی ميلی چړچی کوينه

د خیبر کاڼي لوټې ګل شه
په ننګ مین یاران مې ټول راغلي دینه

دعا کوه امن به راشي
جانانه تا به لاس نیولې ګرزومه

د وني پاڼه دې کړم خدایه
که باد راوالوت ما به کوم ګړنګ ته وړینه

د شپې مې خوب لیدو جانانه
ستا په دیدن پسې کابل ته تللې ومه

دونیا په مینه ابادیږي
په نفرتونو باندې وران شي وطنونه

د نفرتونو کور دې سوځي
د مینې کور دې د هرچا لهپاره وینه

د سرې ډولۍ په ارمان مړه شې
نصیب دې مه شه په نکریزو سره لاسونه

د کال څلور فصلونه تېر شول
نصیب مې نه شول ستا د سترګو دیدنونه

دا سوی، سوی ناړې ناورې
د سمندر څپې مې ښکته پورته وړینه

د چا په عشق کې سودایی شو
لکه قصاب پر لاره ځي، ګوتې شمېرینه

د سپيني خولې ستر يې مات شو
د ژاولو تس يې هلكانو واوريدنه

د شكراني روپې دې كېږده
ته پر ما گران يې، تا به هسې دمو‌ومه

دنگه دې ونه، دنگه غاړه
جانانه دواړه دې زما په خوښه دينه

د ونې دډ كې خولگۍ راكه
خلک به وايي سپرلکی دی پاڼې خورينه

د كلي بل پلو ته راشه
بيا يې وهلېيم، گيلې درته كومه

د روژماتي وخت كې راشه
ما څه‌منلي دی، خو پټ يې دركومه

د پيشمنۍ خواړه په زور خورم
د يار وېدۍ سترگۍ مې زړه راغوڅوېنه

دوعا بې ولې نه قبلېږي
يار مې معصومه‌خوله روژې نيولې دينه

د جنتي سړي په څېر يم
مور مې په مينه پېشړمي ته پاڅوينه

دا اوسني به څه ياران وي
لكه پيسه داسې له يو نه بل ته ځينه

د ورځې تورې سترګې ګرځم
د شپې پرې وینې تویوم د یار له غمه

د تلو دې هېڅ ونه‌وې، لاړې
خلک چې ځي، له خلکو اخلي رخصتونه

ډ:

ډکه خولۍ ببرې مې وکړې
د یار سره یې په ګورګورو بدلوومه

ډېرې زارۍ مې ورته وکړې
په زړه ظالم جانان یوه نه قبلوینه

ډېر مینان به غیرې واخلي
عید ته د ګوتو په شمار ورځې پاتېدینه

ډوډۍ زما کاسه کې وخوري
چې بل ته کښني، ما په سپکو یادوینه

ډوډۍ خو نه ده چې پرې موړ شي
د اننګو خوراک د شونډو په سر وینه

ډېرې خوارۍ راباندې بار دي
زغمی یې نه شم، نن سبا کې مې زړګی چوینه

ذ:

ذلیل سړي نه به ځان ساتې
چې قدم اخلي، ورسره وي ډېر چلونه

ر:

رخصت دې واخستو، روان شوې
گله په سترگو کې دې غم کیسې کوینه

رنگ خو دې زیړ رامعلومېږي
زړه ته مې لویږي، له یارۍ اخلې لاسونه

راشه په زړه مې گوتې کېږده
له ځانه ډېره مینه تا سره کوومه

رنگ کې مې ټکی وینه نهشته
په ریکارد شوې غږ دې بیا وریپښنه شومه

راځه راځه پر ما ړلۍ شه
د جانان غمه د زغملو ځای دې یمه

روژه چې ډېرشو ته رسېږي
د لالې رنگ به داسې زېړ اوښتۍوینه

رباب به ښه وي ترټوپکه
ټوپک دې هره ورځ ژوندون خرابوینه

راته ښکارېږي امن راغی
د ملا لور گودر ته ځې، ټپې کوینه

روپۍ به خپل لالا ته راوړې
د بېلتانه پر اور دې زه نیولې یمه

روپۍ به خپل لالا ته راوړې
د بېلتانه په اور دې زه نیولې یمه

رب دې زما د وجود ساه که
چې ته روان شې او زه مړه درپسې شمه

رنځوره ياره، رنځ دې ورک شه
روژه نيوى شې، که غنم دې وباسمه

راشه تر ښنګ مو ګاوندۍ شه
په پيشلمي کې به دېوال در ټکومه

راکړى ګل دې بېرته واخله
زه د هجران په سفر ځم، مړاوى به شينه

رب دې زموږ د کور تنور که
چې هر سهار دې په مورۍ وهم لاسونه

رنګ دى پۀ نه خبره زېړ شو
هله بۀ څه کړې چې زۀ ټوله د بل شمه

ربابه مات شې غمازګره
رايادوې اشنا په لرې وطنونه

راشه د زړه فرياد مې واوره
ما په ټپو کې راټول کړې ستا يادونه

روح به مې وزي رابه‌نه‌شې
ما ته مالوم دې د پښتون سخت رواجونه

راشه دا نن مې ديدن وکه
سبا به سرې سترګې ولاړ يې نه‌به‌يمه

راشه قسم راسره وکړه
که د خيبر جرگې ته ځې، درسره ځمه

روزگار ته گوره څه يې وکړل
د ماهيپر تر کاڼوکلک وم، ويلې شومه

رُخصت دې واخيستو روان شوې
پيوند دې نه کړل په چړو وهلي زړونه

روپۍ به خپل لالا ته راوړې
د بېلتانه پر اور دې زه نيولېيمه

راشه د زړهفرياد مې واوره
ما پهټپو کې راټول کړي ستايادونه

رنگ خو دې زبېړ رامعلومېږي
زړهٔ ته مې لوېږي لهٔ يارۍ اخلي لاسونه

راته دې وې پاستي پاخه کړه
وچو وړو نه مې جوړ کړي وو څو زړونه

رنگ مې په تا پسې زبېړبېږي
خلکو ته وايمه روزې نيولی يمه

رنځوره ياره رنځ دې ورک شه
روزې نيوۍ شې، که غنم دروباسمه

رباب زما په درد پوهېږي
هره نغمه کې ورک جانان رايادوينه

روژه هم راغله، ته رانهغلې
د پېشمني اور ته يواځې وير کؤمه

روژه په خوله ورته ولاړ يم
يار مې راګوري، زما ناخلي سلامونه

رنګ دې په نهخبره زېړشو
هله به څه کړې چې زه توله د بل شمه

ريباره ورشه ورته وايه
پس لهٔ ماښامه څوکيداره ناسته يمه

راځه، راځه وطن ته راسه
په غم ککړسې، پلار مې بل ته ورکوينه

ړ:

ړومبى باران دى، ژمى راغي
ياره راياد مې شول ړومبى ملاقاتونه

ز:

زما ديدن ستا پهٔ قسمت و
باد پرې بانه شو، تيکرى لاندې ولوېدنه

زما نه هر وخت مرور وي
لالى په خپلو بدو خاورې اړوينه

زړګي مې تا وړى محبوبې
لکه رباب خالي ګوګل نارې وهمه

زما اوربل تر نيم ډېر سپين شو
جانان پردي وطن کې څه ليدلي دينه

زما ويشتلی وزر جوړ شو
اوس به د ځينو نه اوچت الوت کومه

زړه مې له غم سره عادت دی
اوس خوشحالي راباندې بد اثر کوينه

زما د حال پوښتنه مه کړه
زه د مرګي په تمه شپې سبا کومه

زړه مې د ختې په مثال دی
يار مې کُلال دی سمې لوبې پرې کوينه

زړګيه وچوه دا دې وخت دی
جانان په سرو وينو لامبلي ما پرېږدينه

زه دې په رنګو مېنوو راغلم
اول مې اخ کړل بيا مې ټک وهل لاسونه

زما او ستا مرګ دې يو ځای وي
چې له يوه دوکانه ګز کړي کفنونه

زما په زړه کې څريکې وشوې
لکه چې زړه کې د لالي وګرځېدمه

زه دې زړو نيکو ته ګورم
ځکه دې پېښې اوس په دې نوو بدو ږدمه

زما ځلور ځانګې جانانه
له هرې ځانګې دې ځولۍ ګلونه وړمه

زما له تانه ګيله کېږي
ما ستا کوڅه کې رقيبان ليدلې دينه

زړه ته مې ګوره ته يې خوښ کړې
نصيب ته ګوره له تا لرې مې ساتينه

زما وطن ثاني جنت دی
په‌کې اوسيږي افغانان ښايسته‌ګلونه

زه د لالي پر اوږو بار يم
له مانه لارې بدلوي پر بله ځينه

زما د زنې د سر خاله
د اشنا ماله، امانت به دې ساتمه

زما د لارې په سر کور دی
چې غم راځي اول په ما سلام کوينه

زما دې څه وکړل چې لاړې
په ځان دې اور کړل د يارانو مجلسونه

زما د کلي نصيب خوار دی
چې ونې شنې شي ځمکه سره په وينو شينه

زما د زړه صبرېدل ګران دي
جانان چې داسې خوی کوي صبر به شينه

زما د زړه پشکال مست شو
خړې ځپې مې له څُمارو سترګو ځينه

زما لالا ته زېرى وركړئ
پښتو دې سر شوه زه دې خاورې ايرې كړمه

زما د زړه باغ يې تالا كړ
لېونى هغسې په كړس خندا كوينه

زما نامه په تېز ګل كړه
په لېونو سپو چې ورځې نه به دې خورينه

زړه مې له غم سره عادت دى
اوس خوشحالي رابانديې بد اثر كوينه

زه د جانان شكرګزار يم
پر زړه داغونه ډېر په مينه راكوينه

زما شتمن لالي ته وايه
په پيوندي كميس مې تبر كړل اخترونه

زما د يارۍ په تمه نه‌شې
زه يې په بدو كې وړه وركړې يمه

زړګيه ښه ده چې برباد شوې
خنګه دې نه‌منل زما زارۍ سوالونه

زما له ښې كركه كېږي
كه لالى خوښ وي، بيا دې راوړي دسمالونه

زه د يورپ جنکۍ څه‌کړم
چې خړه‌پړه‌پښتنه ليلا لرمه

زما په زړه دې لوبې وکړې
نصيب دې مه‌شه پرخنګل د يار، خوبونه

زما يې زړه په ژړا شين که
خپله ګناه په ګناه نه حسابوينه

زما د لري وطن ياره
چې ته راځې، پر ما به رنګ وي ديوالونه

زما د مينې لالى مړ دى
بره حجره کې مې ليور له ورکوينه

زه درنه بل وطن ته لاړم
ستا د کوڅې احوال به څوک راته راوړينه

زما له غمه سترګې سرې دي
خلک ګومان د نشهٔ راباندې کړينه

زړګيه مه يې رانه غواړه
د اسمان ستورو ته مې نه رسي لاسونه

زما په زړه کې خړيکې وشوې
لکه چې زړه کې د لالي وګرځېدومه

زما قاتل لالا ته وايه
ته خو راخلاص شوې، زه بندي د عمر شومه

زما دې څه وکړه چې لاړې
نرۍ نازک زړګی به ستا راپسې چوينه

زما به زړه ترې صبر نه شي
که غابښ يې نه وي مخ يې ګونجې، ګونجې وينه

زړه مې پنځوس ځايه مئين دی
څلوېښت واده شوې، لس بدرنګه پاتې دينه

زړګی مې سل ځايه تقسيم دی
سترګې مې ستا په لور کږې در پاتې دينه

زما يې زړه ټوټې، ټوټې کړ
لالی مې لاړې بدلوي چې کوم خوا ځينه

زما او ستا د يارۍ څه دي
هسې مې ستا له غمه خدای نه خلاصوينه

زما ابۍ، دادا ته وايه
پښتو مو وشوه، زه مو خاورې ايرې کړمه

زړه مې له دغې کوڅې نه ځي
د ګلو لښتې پکې ايښې قدمونه

زما اختر جانانه
ته چې راځې زه به روژې خوړلې يمه

زه په باران کې درته راغلم
ته مې په شين اسمان کې نه کوې پوښتنه

زما د لالي صفت شروع شو
نجونو کې زه لکه سرداره ناسته یمه

زړه مې په هیڅ نه راتولیږي
مـا د بـایللي یــار یــادونــه ژړوینــه

زما جانان ګل د شړشم دی
په خېټه شلم دی، ښوارلس نیمې دوډۍ خورینه

زما جانان ګل د زنبق دی
زما سبق دی، هر ساعت یې یادومه

زما لالا ته خبرورکړئ
ما ته موزي پر مخ څپېړې راکوینه

زړګیه صبر وظیفه کړه
هغه چې ته پرې نازیدې، تا هیروېنه

زه د هغو له دلي نه‌یم
چې په دوستۍ کې خپل مطلب پوره کوینه

زما یارۍ ته تمه مه‌کړه
زه یې په بدو کې وړه ورکړېیمه

زما د مرګي اعلان به واوري
د ناکردو او جفا زور دې نه‌لرمه

زما جانان ګل د غاټول دی
زړه مې پې ټول دی، د چا څه پروا لرمه

زړګيه روغ مې پکار نه ئي
يو ځل دې بيا چا ستمګر ته ورکومه

زما لالى پــه‌کې مزدور دى
د ښار مزې خو به د نورو خلکو وينه

زور مې په هېچا نه رسيـږي
ظلم په‌خپل زړګي کوم، بـدرنګـه شـومـه

زما دننه زړګى غوڅ دى
د بې وسۍ خندا لۀ هر چا سره کړمه

زما لۀ ښنګ نه لالــى بيايـې
سپيره بېلتـونه! څۀ سپيرۀ کړې عادتونه

زۀ درنه بل وطن ته راغلم
اوس بۀ د قبر جنده څوک در بدلوينه

زما قسمت په خوب ويده دى
د خلکو وختل اسمان ته قسمتونه

زما زړګى د اور لمبه ده
اهونه باسم خپل وجود مې سوځومه

زما پر مخ لاړې راتو که
که مې له خپل هوډ يو قدم هم په شا شومه

زما دې لارې ته کاته وو
ستا له ويجاړه ملکه هيڅوک نه راځينه

زما له مرګه يې خبر کړئ
چې جنازې ته مې راځي ټکرې خورينه

زړه مې په زړه کې درنه تور دئ
تشه خندا خو له ناکامه درته کړمه

زه به روژې نيسم جانانه
ته تهجد لمونځونه کړه چې يوځاى شوونه

زړګيه مه‌يې رانـه غواړه
د اسمان ستورو ته، د چا رسې لاسونه

زما او ستا دومره تعلق و
لکه د لوى سفر واړه، واړه لمنځونه

زړه کې مې يو، خوا کې مې بل دى
خدايه! عجبه دې جوړ کـړي قسمتونه

زړه مې د ډنډ خړه کې پرېږدئ
نه يې کبان خوري، نه يې ښار ته اوبه وړينه

زما دې غاښ په امبور وزي
که به مې ستا شونډو ته زور ورکړىووينه

زما دې زړه له ځانه تور کړ
تا چې کول داسې بد رنګ بد رنګ خويونه

زه په هماغې کوڅو راغلم
مينې يې شته دي، ځوانان ورک له ملکه دينه

زما جانانه داسې مه کړه
دُعا سلام دې رالېږه چې څوک راځينه

زهٔ دې زَړې نيکۍ ته ګورم
ځکه دې پښې پهٔ نوو بدو باندې ږدمه

زه مې له خپله ياده وځم
تا نه به څه ګيله کوم چې هېر دې کړمه

زما د شلو کالو ياره
د بل په دوه ورځو يارۍ دې پرېښودمه

زما پهٔ زړهٔ کې ځړيکه وشوه
لکه چې زړهٔ کې د لالي وګرځېدمه

زما دارن لالي ته وايه
زما په سر به دې څوک نه حلالوينه

زما قاتل لالا ته وايه
ته خو راخلاص شوې، زه بندۍ د عمر شومه

زما د حال پوښتنه مکړه
دواړه څنګلې غبرګوم، سر ته يې ږدمه

زما جنت وطن يې وران کړ
سپکه بنګه شوم، د باد په رضا ځمه

زړښت د هغو خلکو نه وي
چې ښکلي ګوري او غمو ته شا کوينه

زما اختر ته جوړه نهسته
تا د يوې پر ځای څلور گنډلي دينه

زموږ شوې دواړه برخې خوارې
دلـتـه بـې يـاره هـلـتـه واړه دوزخـونـه

زما يو ته وې، يو مې خدای و
خدای خو مې شته، خو تا يوازې پرېښودمه

زه به څلورودونه وکم
ساده خو نه يم چې به يوواده کومه

زه د بېلتون د جگړې نه يم
بېلتون مې هرڅه ـ هرڅه اور باندې سپځينه

زما راستي دې ليونی کړه
چې سرې مرمۍ به اورېـدې، بيا هم درتلمه

زړگی مې خپل کلي پسې خوږېږي
چې ورتلای نه شم، اوس يې خيال کې يادومه

زه خو ترهرڅه نه ورتېر شوم
اوس مې غمونو ته يوازې نه پرېږدينه

زما پښتو زما څرمن ده
دا نورې ژبې د لباس په شانې دينه

زړه دې زما په رقم تنگ شه
چې نه صبرېږي، نه نارې درته کوينه

زړه مې د لويو غمو کور دی
که خوله مې خلاصه کړم ويرونه خپروينه

زما لالا له زيری ورکړئ
پښتو دې سر شوه زۀ دې خاورې ايرې کړمه

زما د زړۀ مانۍ نړيږي
حالاتو سختې زلزلې راوستي دينه

زما قسمت د سالنګ غر دی
پر نورو لمر دئ، پرما واورې ورويـنه

زړه مې له تورو وينو ډک دی
خدايه سلګۍ شم او که چغې ګډې کړمه

زما د ميني جانان ته يې
که ټول جهان له ښکلو ډک شي څه به يې کړمه

زما ويده ويده ولسه
چې را وېښيږې زه به تورې خاورې يمه

زړګيه غم ته ځان ټکړه که
جانان لګيا دی نوی يار پيدا کوينه

زړې چيلقې شې جانانه
چې ماشومان دې په پاپړو خرڅوينه

زما له عُمر سره سمه
برباد شې غمه، تا ته چا په ګوته کړمه

زُلفې کوڅې نکړې نګارې
خورې ورې درسره ډېرې خوند کوینه

زما یارۍ ته به تینګ نه شې
زه خو درجن بنګړي د ورځې ماتومه

زړګی مې داسې راته وایي
چې ځان ملنګ که، له هرچا واخله لاسونه

زړه یې د بل په زلفو بند دئ
ځکه زما په مینه سترګې پټوینه

زړه مې په لرې وطن پروت دی
په زنځیرونو یې راکاږم نه راځینه

زهٔ درنه بل وطن ته راغلم
اوس بهٔ د قبر جنده څوک در بدلوینه

زما په غبږ کې به عادت شې
بیا به خوبونه پر بخملو نه درځینه

زما پر بنې سلام وایه
که تهٔ شین باغ یې زهٔ ږلۍ درتیته شومه

زه دې ببلتون ته وارخطا یم
دا لنډکی روژې مې نه خرابوینه

زما پر بنې سلام وایه
جانان ما زوړ کړ او تهٔ اوس وهې خالونه

زړګيه روغ مې پهکار نه ئي
يو ځل دې بيا کوم ستمګر ته ورکومه

زما چنار ـ چنار جانانه
تر کومې څانګې دې راتاو کړمه لاسونه

زما چې زړه له چا نه تور شي
بيا که قسم هم راکوي، نه يې منمه
زموږه خوب نهپوره کېږي
نو ارمانونه به مو څنګه پوره شينه

زما تر غرونو پناه ياره
لمر چې له تورو غرو پناه شي، وژاړمه

زموږ، د غرونو خلک خوښ دي
نه کبرجن وي، نه لوظونه ماتوينه

زما د ژوند مزې دې يوړې
سمسور دې نه شي ستا د عمر بهارونه

زړګيه ځان ورته تکړه که
اشنا له سپين مخ نه نقاب پورته کوينه

زړګی مې داسې درنه تور شو
چې اوس دې نوم اورم، خبره بدلومه

زما و ستا روغه يی ونهکړه
اوس به ښنېرۍ د کلي مشر ته کومه

ړ:

ړلی باران سره راګډ شول
چې سره ګډ نهشي زما او ستا غمونه

ژ:

ژړا په خپله ځوانی راشي
ځومره به کبر مې وپل چې یار لرمه

ژوند خو پر موړه دوزخ شوی
له کوره تللي خلک ولې نهراځینه

ژمی باران او جامې تورې
که ته مې ګورې، زه بهر ولاړه یمه

ژوند ته په شاته، شاته ګورم
لکه بایللی جوارګر چې کور ته ځینه

ژوند مې اوبه امید غلبیل و
ما په غلبیل کې اوبه وړې نه پوهیدمه

س:

سټو کنډوه، جګه سره
پر تا اوښتي وړکي بیا کله راځینه

سترګې زما سترګو کې ځای که
سترګې مې ستا د سترګو ډیرې وړې دینه

سبا به ستا ایمان معلوم شي
پلار مې د سرسودا له بل سره کوینه

سترګې مې دوو نه څلور شوې
له کلي تللي‌خلک ولې نه‌راځينه

ستا نازولى غږ مې واوريد
زړه مې ارام شو اوس به وکمه خوبونه

سترګې په تلو کې راستنې کړه
د بيا راتلو دلاسه راکړه ګنې مرمه

ستا به عادت وي بل به يار کړې
له ما نه نه‌کېږي بې‌ننګه عادتونه

سپينه خولګۍ دې لنګه غوا ده
په زړه ظالمې يار دې وچه ډوډۍ خورينه

سر يې سرتور کړ، سوال يې وکړ
خدايه ته ډک کړې د مزدور لالي لاسونه

ستا هيرول د روح وتل دي
زه ځنکدن په ځان منم تا هېرومه

سوى سکاره به ترينه ښه وي
چا چې زړګى د مسافر ليدلى وينه

سر ته مې مه وهه برباد شې
ترلې مې ډيرې دي پېغور به راکوينه

سترګې دې پورته که راګوره
لکه د نوې مياشت کږه ولاړه يمه

ستا د راتلو لارو ته ګورم
جانانه ستا له ملکه هېڅوک نه راځینه

سرې سرې تبې مې کېږی
د یار د غیـرې په خولو لوند شوی یمه

سپینه خولګۍ دې لنګه غوا ده
یار دې په لنګه غوا کې وچه ډوډۍ خورینه

سری په نیمه لار کې پرېږدي
ملا په پردو راوړو ښکه وترمه

ستا کاڼي بوټي شهیدان دي
وطنه څکه غمرازۍ لره درځمه

ستا له اوربله ډزې وشوې
زه مسافر په لاره تلم ودې ویشتمه

ستا د دیدن ګیله مې نشته
د پښتنو مینې نیمګړې خوند کوینه

ستا یارانه د شګو ورخ دی
که چنارونه پکې ږدم، اوبه یې وړینه

سرې سرې تبې مې کېږي
د یار د غېرې په خَولو لوند شوی یمه

سړنۍکال دې خدای په خیر کړي
بله روزه به د یار ښنګ کې تېرومه

ستا په يارۍ کې کمی نه و
زه د حالاتو مجبورو اغستی ومه

سفر مې تکتور ويښته سپين کړل
په خپل وطن کې مې نصيب نه‌شته مېئنه

ستا د ديدن قاتي دې نه وي
که د وربشو قاتي وي، تېره به شينه

ستا د ديدن قاتي دې نه وي
که د ډوډۍ قاتي راتله، وبې زغمونه

سلګۍ مې ډېرې ورته وکړې
جانان مې سر له خاورو نه پورته کوينه

ستا په يارې کې کمې نه و
زه د حالاتو مجبورو اخستی وومه

ستا د بنګړو په شان وعدې دي
چې زور پرې راشي ډرېوړې شي مېئنه

ستا د بنګړو په شان وعدې دي
چې زور پرې راشي ډرې وړې شي مئينه

سخته ګيله مې درنه کېږي
نيستۍ ظالمې له سيالۍ دې ووېستمه

ستا د يادونو پيريان راشي
په نيمه شپه کې مې له خوبه پاڅوينه

سرګړی نه یم چې لمبه شم
دا خدای راکړې غوښنه ورو، ورو تویومه

سبا به بیا بازار ته لاړ شي
د لونګین څوندي دې کم راوړي دینه

ستا د دیدن هیله مې نه شته
زما د زړه دېوال کړېږي، ړنګ به شینه

سختې ښېرې مې خولې ته راشي
کوی یې نه شم، په ځان خولې ولګومه

سخت کبرجن وختې یاره
په خپل درکړي قدر سخت پښېمانه یمه

پاس په کمره ولاړې زرکې
باز دې رنځور دی له خولې وینې غورځوینه

سبا د یار د راتلو ورځ ده
روژه په خوله به جانان ښنګه ښکولومه

ستا له نمجنو سترګو جار شم
غم دې په غره شه، زه خو تا سپینږیری کړمه

ستا له دیدنه یې بندي کړم
مېره لګیا ده جوړوي چاود دېوالونه

سر دې پر ښی ښنګله کېږده
په چپه لېچه مې بنګړي دي، مات به شینه

ستا له ديدنه يې بندي کړم
مېره لګيا ده جوړوي چاود دېوالونه

ستا له نمجنو سترګو جار شم
غم دې په غره شه، زه خو تا سپينږيرى کړمه

ستا په کتو خاورې زر کېږي
که راته وګورې، د سرو زرو به شمه

ستا په خبرو کې شفا ده
په مينه دوې خبرې وکه، روغ به شمه

ستا په تهمت مې جامې رنګ شوې
اوس به رنګ شوې جامې چېرته پاکومه

سپرلى به بيا پر وطن راشي
خاورو ته تللي خلک بېرته نه راځينه

سپينه جوړه ستا فرمايش و
کنه وړوکى عيد د تورو جامو وينه

ستا به له ما نه ګيله کېږي
زما د کور پر خلکو نه رسي لاسونه

سبا ته بيا بازار ته لاړ شه
د لونګين ځونډې دې کم راوړي دينه

سوې اهونه دي او زه يم
له ډېره درده پر لار ښانګې وانګې ځمه

سترګې مې تاپسې ړندې شوې
ورکه جانانه تا به چېرته لټومه

سر لاندې غټه تېږه کېږده
پردی وطن دی پکې نه شته بالښتونه

سپینې سپوږمۍ کې خولګۍ راکه
په تروږمۍ کې دې پېزوان خولې ته راځینه

سترګې په چل غړوه یاره
دُنیا هوښیاره ده رسوا نه شو مئینه

ستا په پټې دې ږلۍ وشي
زه به تر څو د دادا کور کې ناسته یمه

ستا د تپوس ځواب لرمه
وخت مې په خوله باندې لاسونه ایښي دینه

ستا په یارۍ کې داسې خوښ یم
چې ناست ایرو ګې، ځان پر تخت حسابومه

سره، شنه بادونه توفانونه
دا سپین بادونه، عالمونه قتلوینه

سبا به لویه ننداره وي
ما به د تا په مینه دار ته خېژوینه

سترګې پهٔ چل غړوه یاره
سوداګر ګرځي، ښکلې سترګې تولوینه

ستا پر ښنګل باندې عادت وم
اوس د خارج پر پالنګ نه راځي خوبونه

سترګې پر لار اوسه کابله
که ژوند باقي و ګوندې وشي ديدنونه

سترګې منکرې شي قسم خوري
په خدای رسول که مې جانان ليدلی وينه

ستا اننګې د شودو سر دی
لکه د مرچو پهکې کېښږده تور خالونه

ستا په کتو خاورې زر کېږي
ما ته دې نه راکتل، خاورې ايرې شومه

ستا د ديدن په تمه زوړ شوم
د ببلتانه امسا په لاس کې ګرځومه

سکروټې بلې پاتې مورې
لکه چې شپون جانان مې کډې کړي دينه

ستا په تهمت مې جامې رنګ شوې
اوس به رنګ شوې جامې چېرته سپينومه

ستا په تهمت مې جامې رنګ شوې
اوس به رنګ شوې جامې چېرته زړومه

سورخي د مخ دې شُغلې وکړې
لکه سورخي د ماښام سره کا وطنونه

سپږه د نوک پر سر مړه کېږي
د پاچا لور ورپسې توري ګرځوينه

ستا دې قسم وي بخته ويښ شه
ځوک تر قيامته پورې نه کوي خوبونه

سترګې دې ډکې ډکې کېږي
د چا بانه دې په زړګي ښخ شوي‌دينه

سر مې نرۍ نرۍ خوږېږي
لالیه راشه په پلمه ولاړه يمه

ستا د ټګۍ تسبيح په لاس کې
زه په درکړې شکرانې پيښمانه يمه

سترګو کچکول مې ببلتون مات کړ
ستا د ديدن خير به په څه کې تولومه

ستا تر نازکو شونډو جار شم
يا دې چيچلي، يا دې بيا يادشوۍ يمه

ش:

شونډې غوټۍ، سُنبل دې زُلفې
زنه دې سبب د ثمرقند، دُر دې غاښونه

شال دې زما د خاک جنډه کړه
چې په لحد کې دې د ځنو بوۍ راځينه

شال مې په پرې باندې زوړ شو
نتکۍ مې زنګ شوه، پيزوان تورې خاوږې شونه

شال کې مې شل پيونده بنۀ دي
چې لالی وي نيستي به تېره شي مئينه

شونډو مې وچ پتري نيولي
ستا د مجلې ياریٰ تاو دی غرق يې کړمه

شوتلې درې پانې ځلور که
سوکړکه تېنګ شه، ميلمانه راغلي دينه

شاوخوا مهرانه تاوېږه
که مسافر شوم، بيابه نهدرځي خوبونه

شو پيشلمی وړکي ويده دي
جيلکیٰ لګيا دي اور به غنو بلوينه

شُکر چې ورونه مې جوړه دي
جوړه، جوړه کور ته راځي دښمن يې مرينه

شونډي چيچي وار يې خطا دی
مسافر يار ته د کالو غوټې تړينه

شونډو مې وچ پتري نيولي
ستا د بې خونده ياریٰ تاو پرې تيرومۀ

شونډو دې بيا پتري نيولي
اثار د ژمي دي، که غاښ پرې کړې دينه

شينکی پرتوګ به بيا ونکړم
يو کال مې کړیٰ و غبرګونې لنګه شومه

شال پهٔ شړۍ باندې بدلېږي
د زمانې بازار پهٔ لاس د رندو شونه

شته خو دې وسوځه ایرې شه
ګاونډ دې وړۍ، ته روان کوې حجونه

شال رانه باد د لاهور یوړو
زه یې په لوړه پښتونخوا سرتوره کړمه

ښ:

ښه شو چې ژر درنه جدا شوم
د شرم ګوډیه په یارۍ دې شرمېدمه

ښکلی کابل مې نه هېرېږي
په پېښور کې مې زړه صبر نهکوینه

ښه ده چې تا لرمه خدایه
زړه ته نږدې خلکو یوازې پرېښودمه

ښېرا به ولې درته نهکړم
له خدای راکړې خندا تا بې برخې کړمه

ښکلې بشر دې رانه هېر شو
د جدایی ترمنځه ډېر تېر شول کلونه

ښېرې به ولې درته نه کړم
توره ټوپکه ورانوې اباد ملکونه

ښه شو احوال دې راته راغی
ګڼې دا اوس د زېندۍ پړې ته ختمه

ښېرې کوم، آمين راوکړئ
ځوک چې وطن راورانوي، تباه دې شينه

ص:

صبر دې ونه کړو بې صبره
زوی مې پيدا شو خو د بن چښتنه شومه

صبر دې ونه کړو بې صبره
زوی مې پيدا شو خو د بن چښتنه شومه

صبر مې زړه ته نه کوزيږي
په تاويزونو غاړه ډکه ګرځومه

ض:

ضامن دې زه کړم، خپله لاړې
بېرته رانغلې، زه تراوسه ناسته يمه

ط:

طبيب ځما مرض معلوم کړ
وابې په زړه کې دې بانه ښخ شوي دينه

ظ:

ظالمه داسې خو ځوک نهکړي
د زندۍ پرې ته دې پورته جګه کړمه

ع:

عُمراوبه، اُميد غلبيل و
ما په غلبيل کې اوبه وړې نه پوهېدمه

عمر دې بل وطن کې تېر کړ
کلي ته راشه چې رنګین شي ماښامونه

عالمه بل دستور مې ولید
اوله ښځې تښتېدې، اوس يې مېړونه

عمر مې تېر شو، غم مې ډېرشو
نه مې یار هېر شو نه يې روغ له رنځه شومه

علم کوه پسې بلبل شه
په شان د ګل شه، چې هرڅوک دې بویوینه

عاشقي داسې بد مرض دی
یو کال مې وکړه په ډوډۍ نه مړېدمه

عِشقه دا تولـه ګناه ستا ده
چې دې محتاجه د کم ظرفو خلکو کړمه

عالمه راشئ ما ترې خلاص کړئ
د جانان مینه لیونۍ شوه اوس مې خورینه

## غ:

غماز دې خپله غمازي کړي
چې ستا کرم وي، غماز څه کولای‌شینه

غرور مې ښه درته معلوم دی
که دې په ضد کړم بیا به وکړې ارمانونه

غم دې څه بل رقم بلا ده
د وجود ویني رانه څکي، بدرنګه شومه

غربته زور دې رامالوم شو
زه له اکثر محفلو تيتې سترګې ځمه

غم دې په غم باندې زياتېږي
نور به دې غم په غم کې نه حسابوومه

غم مې په زور ځان ته پيدا کړو
نن د جانان په کوڅه بيا راغلى يمه

غم دې پر غم باندې زياتېږي
نوربه دې غم پهٔ غم کې نهٔ حسابومه

غرق‌شې ازان راباندې وشو
د غېږې خوند دې پېشمني نه ووېستمه

غم دې څه بل رقم بلا ده
د وجود وينې رانه خوري بدرنګ يې کړمه

غږ دې راته، کنه خو نه وم
د مېرې کور دى در وتى نه‌شوم مئينه

غمونه شا ته کړه جانانه
غم چې دروړاندې شي ځواني خرابوينه

غم دې له ځانه سره يوسه
ما ته يې مه پرېږده، ړنده کنه به شمه

غنى دې ورک شي زهٔيى طلاق کړم
اوس د چرسى کرزى چپنى ورګندمه

غم دې زما شو، ته د بل شوې
اریان دریان یم چې د چا ورسپېدمه

غمونه ډېر پر موږ اوړېده شول
کـه خوښـي راغلـه بیـا بـه څنـې اړونـه

غږ یې اشنا غوندې ښکارېږي
پر دې ملنګ مې د جانان ګمان راځینه

غږ دې راځي، مخ دې نه ښکاري
د کابل واورې مې نن سترګې بربښوینه

غم دې د زغم خبره نه ده
نور به په چغو، چغو کلي خبرومه

غم دې ډارنه کړم لالیه
د بارانه ټکا مې زړه سورى کوینه

غم دې پولیس د انترپول دى
چې هر وطن ته ترېنه تښتم، هلته وینه

غرور مې ښه درته مالوم دى
که دې په ضد کړم، بیا به وکړې ارمانونه

غم ته پیدا په غم کې لوى شوم
وړوکى مړ واى چې مې نه لیداى غمونه

غم مې په شونډو کې حال وایي
بېګاه مې ډېرې له غوسې چیچلي دینه

**ف:**

فرضي روژه ده کرار کېږنه
چې اختر راشي بيا دې هريوه منمه

**ق:**

قبر ته راشه حال مې واخله
مېږي مې تورې څنې وړي په کتارونه

قدر مې خپله د ځان کم کړو
په تش اواز به سلامي ولاړه ومه

قبر مې سم ورسره جوړ کړئ
چې د لحد مري پېغور نهراکوينه

قدر مي ورځ پۀ ورځ کمېږي
پۀ تا پوهېږم له يارئ اخلې لاسونه

قبر ته راشه، راته ژاړه
په زړه مې وړي ستا نيمګړي ارمانونه

قيصه اوس ختمه ده جانانه
د ژوند په هره لار دې زه بايللی يمه

قربان قربان د دادا کوره
له ډکه شکوره به چاپيره تاويدمه

**ک:**

که نصيبونه کنډولي وای
ما به دا خپل په ډبواله ويشتلی وونه

کډې دې يوسې خفه نه يم
په شا دې نه ګورې چې زړه مې پسې چوينه

کور به مې ولې نه يادېږي
زه چې راتلم وړوو له ښنو نيولې ومه

که د حيا خاطر دې نه واى
ما به دې نوم په چنارو ليکلى ونه

کور که د غره په سر کې جوړ کې
غل چې له خپله کوره وې تالا به شينه

که تر اختره رضا نه شوې
زه به ګنډلې جامې اور ته واچومه

که اسويلې مې رابهر کړل
په دې نږدې کلو به اور ولګومه

که د راتګ وخت دې پوره وي
لاليه راشه زړه مې پرک درپسې چوينه

که ديورند په منځ کې نه‌واى
لکه فقير به دې کوڅو کې ګرځېدمه

که خداى زما په نصيب نه کړې
ستا په واده کې به ځانمرګى بريد کومه

کوژده دې کړم، واده دې نه‌کړم
يا مې واده کړه، يا زه بل ميړه کومه

کلـه بـه بيا سره يو ځای شـو
چې ډکې سترګې په ګيله در واړومه

که د لالي خاطر مې نه وای
چېرته خندا، چېرته زموږ چاودلي زړونه

کوډګرې بيا کوډې تازه کړې
تر دروازې راغلی يار مې بېرته ځينه

که غورځېدمه، لاس رانه کړې
ما الوتل په مات وزره زده کړي دينه

که چېرې زما له ښنګه ولاړې
باور دې وشه نه خوښی شته نه خوندونه

که ټول ژوندون شي ستونزې ـ ستونزې
بـس د تـا ډاډ چـې راسـره وي، پـرې ورځـمـه

که د پيزوان خاطر دې نه وای
تـا بـه زمـا د مچو زور لـيدلـی ونـه

که يې دوزخ ته کشولم
له جنتي ادې به تاو کړمه لاسونه

که ښوونځي راته خلاص نه‌کړي
د زړه پردې به مې له درده غوڅې شينه

کميس مې لنډ ونيسه مورې
وطن پردی دی، ترخې خولې رالګوينه

کراره شپه ده مسافر يم
ته را يادېږې ښکلې ستړګې پټې کړمه

کلي ته مځه په ښار راشه
په شنو ټانټو مې سترګې لګي، زړه مې چوينه

که چېرې کېږي. ېږته راشه
قسم دې ياره مځکه ځای نه‌راکوينه

کتاب ته ناست يمه زنګېږم
خيال کې مې ته يې پاڼې دوه ـ دوه اړومه

کور دې له‌غمه خالي مه‌شه
پرماراغلې ورځې ستا له‌لاسه دينه

کابل په واورو باندې پټ شو
يخه هوا يې پېښور پورې راځينه

کاغذ ليکلی ورنه واخله
د اوسنۍ زمانې يار دې ټګ به وينه

که يې دوزخ ته کشولم
له جنتې لالي به تاو کړمه لاسونه

کډې مې توروغرو ته بار کړې
چې د نفرت اورونه مړه شي رابه‌شمه

کډې مې توروغرو ته بار کړې
چې د نفرت اورونه مړه شي، رابه شمه

کـه چېرې زمـا پـه دوعـا کيـږي
بنـدې ببېرۍ دې خدای روانــي کـړي چې ځيـنه

کبر دې ډېر راباندې کړی
مېـږه دې مړ شه چې دې کونډه ووينمه

کابل ته مهوايه چې وران شي
دلته مو شوي وو لومړي ملاقاتونه

که ستا ياري مې ياري نهکړه
بيا ليونی ښه يم چې ډکي ټولومه

که ته راځې، نور بس دی راشه
که نهراځې، نو ځان تنور ته غورځومه

که په ژړا نصيب ښه کيـږي
زه به لمن له اوښکو ډکه ګرځومه

که زما يار وطن ته راغی
په سره پاسپورت باندې يې شينچای دمومه

کډې مې خپل وطن ته لاړې
راپسې ژاړي ستا د کلي چنارونه

که چا وېل چې جانان راغی
که غولی ډنډ وو، په بلی به ګډه شمه

که هوښيار يې، عمل پرې وکړه
مَلک تـه بـډې ورکـوه، نهشته جيـلونـه

که لمرلوېده په مهال راغلې
زه به دې زړه پورې ګنډلی ګرځومه

که ترې ببلېږم، نو ورکېږم
ژوند ته مې داسې څوک راغلې دې مئينه

که ته رنځور په ما جوړېږې
سالو به لرې کړم، سرتوره به درځمه

کوژدن مې نه ده، ولې ژاړې
مور کره هسې ميلمانه راغلې‌دينه

که په ژړا لالی راګرځي
وچه بيديا به زرغونه په اوښکو کړمه

کور دې خالي له غمه مه‌شه
پر ما راغلې ورځې ستا د لاسه دينه

که واکمني مې لاس کې راغله
قلـم کـتـاب بـه پـښـتـنـو تـه ورکـومـه

که مې کيسې درته شروع کړې
دا ناست ولاړ خلک به ټول وژړومه

که جهان ټول غنم ـ غنم شي
زمور په کور کې لا مړی نه شته مئينه

کوژدن مې نه ده ولې ژاړې
مور کره هسې ميلمانه راغلې دينه

که د يوې ورځې غم درکړم
تر ځنګدنه به دې شونډې وچې وينه

کله به يم کله به نه يم
که ببخي نه يم بيا به څه کوې مينه

که د لالي خاطر مې نه واى
چېرته خندا، چېرته زموږ چاودلي زړونه

که ديدن کړې بيړه راوکړه
د زيارت خاورې مې پر ژبه دوړوينه

که چېرته کبړۍ ببرته راشه
تلليه لاليه ځمکه ځاى نه راکوينه

کله به بيا سره يو ځاى شو
چې ډکې سترګې په ګيلو در واړومه

که په نا څاپه مرګي مړ شوم
زما زړګى به خپل وطن چولىوينه

کابل په اوړي کې کابل وي
د ژمي شپې جلال اباد کې خوند کوينه

کابل په هرموسم کې ښه وي
هره مياشت، هرفصل جلا لري خوندونه

کيشکرې بيا زېرى راوړى
د جانان شپې ورځې نږدې دي، رابه شينه

که مې کيسې درته شروع کړې
دا ناست ولاړ خلک به ټول وژړومه

کله ګيله لرم چې لاړې
ما د ازل کرښې پخوا لوستلي دينه

کېداى شي بيا ديدن و نه شي
پرېږده چې نن دې غېږ کې سمه وژاړمه

که پښتون پوهه درلودلاى
پردو چالونو کې به ولې ورلوېدنه

که کرغېړنه کرښه نه وى
زه له کابله په اتڼ خيبر ته تلمه

که پښتون زدکړې درلودلاى
د هر دوښمن په جنګ به ولې ماتېدنه

که کرغيرنه کرښه نه واى
زه به له خوسته په اتڼ خيبر ته تلمه

که سپينې خولې ته دې زړه کېږي
کړکۍ ته راشه چې درګډه وډه شمه

که ليونۍ سپوږمۍ دې مړه شوه
د تسلــۍ کيسـې به ځوک درته کـويـنـه

کـه بـربـادېږم، زه بـه کېږم
لالۍ دې خپله پښتو پالې، خوښ دې وينه

کال بدلېدل پهکې لا څه دي
وخت زورور خو لوی ـ لوی خلک بدلوينه

کډې دې يوسي خفه نهٔ يم
په شا دې نهٔ ګوري چې زړه مې پسې چوينه

کلي ته کله راځې ياره
په څوارلسم خو روژه واوښته مېئنه

که راپېنهکړې مور دې پوه کړه
ټولې شاجورې دې په کور خالي کومه

کميس مې تې په ځای سوری دی
ستن به ور نه وړم، هلکان پې ځورومه

کابل ته مه وايه چې وران شې
په سرچوک کې بنګړيوالې ناستې دينه

کبر دې زيات رابانډې وکړ
تر سر دې لانډې شه نامرده مړوندونه

که غړمې اورې، غړ راوکه
تر اخري کندوه غړ دی، درنه ځمه

که سل کاروانه مې ورانيږي
مازيګری به مې د يار کلي کې وينه

کډه مې لرې ځای ته وړمه
چې د نفرت اورونه مړه شول رابه شمه

کډه مې تورو غرو ته بار کړه
چې د نفرت اورونه مړه شي رابه شمه

که ملامت شوم، بيا مې مړ که
که ملامته شوې پر مخ دې ښکلومه

که په دوکړو مې راويښ نه‌کړل
ما ملا تړلې، په باجو يې وېښومه

کوډګرې بيا کوډې تازه کړې
تر دروازې راغلی يار مې بېرته ځينه

کوژده مې نه ده ولې ژاړې
مور کره هسې مېلمانهٔ راغلي دينه

که راروان يې، لږ راتيز شه
ببلچې يې دوې کړې، پر ما خاورې اړوينه

که غورځېدمه، لاس رانه‌کړې
ما الوتل په مات وزر زده کړي دينه

کوڅه کې تېر شوې، بيا راتېر شوې
نصيب دې نهٔ و، زهٔ پر بام ولاړه ومه

که له روژې نه روغ راتېر شوې
جانانه زه له سپينې خولې درتېره يمه

که په ديدن روژه ماتيږي
ما به دا ستا به ليدو ديرش خوړلي وينه

که چېرې خدای رشوت غوښتلی
د غريب سر به د مالدار په سر کې تلونه

که خدای مې ته وې رانه لاړې
که چېرې بل وي تا نه ښه به مې ساتينه

کابل ته مه وايه چې وران شي
دی چې ورانېږي زما زړه ورسره چوينه

که مې ځيگه شړی پر سر وي
جانانه تا به په بخملو کې ساتمه

که ديدن غواړې پناه کېږم
د توت په څته راته مه ليکه شعرونه

که خدای کول وخت به مې راشي
ناچاره ژونده اوس دې هر يوه منمه

که تيکه ږدم خال مې ورانېږي
که تيکه نه ږدم، لالی بيا مسافر ځينه

کلی دې تول شاته ولاړ دی
لاليه بخت ته دې سوچونو وړېيمه

## گ:

گيلې کوم غوږ ورته کېږده
که ته پوهېږې دا دې قدر زياتوومه

گولی ويشتلی زړه به روغ شي
سترگو ويشتلي زړونه چا روغ کړيدينه

ګلاب چې مړاوی شي، رژيږي
سترګې چې مړاوې شي، ملکونه ړنګوينه

ګلاب، ګلاب ځوانانو پرېښنوې
وطنه چا درته ښنېراوې کړي دينه

ګلاب، ګلاب ځوانان دې لاړل
وطنه چا درته ښنېراوې کړېدينه

ګلاب د يار له مخه تول کړئ
ګل قند ترې جوړ کړئ، د زړه درد کراروينه

ګل به په قرض له چانه واخلم
د ورکولو مې څوک نشته وچ به شينه

ل:

له ياره زړه صبرول ګران دي
پر دريابونو کرښې چا ايستلېدينه

لالي به څوک په خبر پوه کړي
د لار ملګري يې په بنګو رووړديدينه

له ما نه خپل غمونه هېر دي
زه د جانان غمو په سر اخيستیيمه

لکه چې خا ورې مې په خوله شوې
د جـانـان کـور نـه د سندرو غږراځـيـنـه

لالی دې خپله خوښه وکړي
که بل‌څوک نه و، زه يې بيا په تمه يمه

له لښتي توپ کړه بيا راټوپ کړه
که خوند يې درکړ تر سبا وهه ټوپونه

له پټو زړونو خبرداره
پروردګاره لېونۍ يار پسې شومه

ليوني سپي رانه چارپير دي
جانان په غټو، غټو ګوري ما ترې خورينه

له ببلتانه سره مې جنګ دی
زما د ژوند غنم يې شنه ريبلي دينه

لالی پښتو نيولی درومي
زه بې پښتو ښه يم راستون يې کړئ مئينه

له خپله ياره به وانه وړم
که د چړو په څوکو نوکې، نوکې شمه

لاس يې اتلس ځايه مات شه
که څوک مې ګوتې د لالي په بدن ږدينه

لاړمه بل درنه واده کړم
مور ته دې وايه چې بنګړي درواچوينه

لمر چې له غرونو پناه کيږي
درد مې زياتيږي، لېونۍ چارې کومه

لالی د خاورو د خوب نه دی
مورجانې قبر ړنګوم بالښت وروړمه

له مانه پاتې شوې وطنه
لکه مرغۍ پر بوټو شپې درته کومه

له نازولی غېږ دې جارشم
ما د ارام ګولۍ خوړلي، خوب راځینه

له ما نه، نه هیرېږې یاره
زه دې په زور له زړه نه څنګه و باسمه

لهٔ ما يې يار پهٔ پښتو ببل کهٔ
د ملک زوۍ ځانته هندوې ګډوینه

له غټوسترګو برخمنې
په رنځ اخته شې، زه دې زېړزبېښلی کړمه

لیوني سپي رانه چاپېر شول
یاران پهٔ غټو ورته ګوري، ما ترې خورینه

لرې کې مرم او نږدې سوزم
زه یم بدمرغ، طاقت د دواړو نهٔلرمه

له الزامونو ډکه یاره
تا پسې بدې ګونګوسې دي، غلې یمه

له ادم زادو به توبه کړم
نور به لیوان په یارۍ نه نیسم مئینه

له ادم زادو به توبه کړم
نور به لیوان په یارۍ نه نیسم ما خورینه

لکه چې خاورې مې په خوله شوې
د جانان کور نه د سخوندرو غږ راځينه

له رغېدو يمه وتلې
د زړه زخمونو مې اوبه اخيستي دينه

له بېلتانه به ګيله نه کړم
بېلتون له تخته پاچاهان کوز کړي دينه

له خپله ځانه تاوراتاو شوم
لاليه ستا په رقم غږ مې واورېدنه

لالا له ما سره زياتې دې
وړيې جلکې په بنو چا ورکړېدينه

له غټو سترګو نه دې ځار شم
درکړي خدائ دي، زړه زما ورپسې چوينه

له ډاره حال ويلې نه شم
لکه خوله پټې تنور، خپلې لمبې خورمه

له ما يې يار په پښتو ښېل که
د ملک ځوې ځانته هندوې ګډوينه

لالې مې کلک به خوب ويده دې
پيشلمې تېر شو ملا وکړل اذانونه

لالې مې بنګو لېونې کړ
خلک به وايي چې دا تا لېونې کنه

له لېونۍ میني دې ځار شم
ناجوړه زه یم، اوښکې ستا له سترګو ځینه

له تراوو وړکې ستانه شول
زما لالی به بیا د چا حُجره کې وینه

له مور نه ورکه مسافره
چې پیشلمي ته به دې څوک راویښنوینه

له خپل وطنه مې زړه نه ځي
نصیب روان دی زه بندي ورسره ځمه

له ماهیپره یې ګزار کړې
چې په پردو کارو کې څوک ګوتې وهینه

لالیه ولې ته شکي شوې
د کلي خلک مې لمنه توروینه

لالی د بدو سړی نه دی
د بل په خوله چارې کوي، زور راکوینه

لالی مې سخت په خوب ویده دی
پیشمنی تېرشو، ملا وکړل ازانونه

لالیه غبرګ راسره ژاړه
د جدایي خوبونه ما لیدلي دینه

لکه چې خاورې مې پر سر شوې
د یار له کوره د سندرو غږ راځینه

له کليوالي روژې ځار شم
يو دم لمبه شي مازديګر کې تترونه

لاسونه کلک رانه چاپېر که
بېلتون وهلی زړه مې ستا نارې وهينه

له ادم زادو مې توبه ده
نور به ليوان په يارۍ نهٔنيسم ميينه

لاس يې اتلس ځايه مات شه
که څوک به ګوتې د لالي پر وجود ږدينه

لاليه بيا پهٔ مخه راغلې
ما خو د زړهٔ زخمونه اوس ګنډلي وونه

لاليه ګرم نهٔيې چې خاندې
تا د بېلتون دردونه څه ليدلي دينه

لکه باران يوځلې راشه
د بېلتون باد مې لکه خاورې دوړوينه

له خپله ځانه تاو راتاو شوم
لاليه ستا په رقم غړ مې واورېدنه

له خپله لاسه مې پرې مړ کړې
د توپک غږ شو زه په بام دروختمه

له کلي بيا پوليس راتاو شول
چې بې‌پروا جانان به بيا څه کړي وينه

لالیه غرق شې ډمه نه یم
د زړه له درده ستا واده کې ګډېدمه

لالیه ډاډ دی را سره که
رواج لیوه شو بند په بند مي ماتوینه

لیلا د غواوو غوبنه شوه
ما تنډغویی کړې چې خنګځن ورسره ځمه

لاړې د وخت سیلۍ تباه کړې
نه ته راتلی شې، نه دې زه لیدلی شمه

لالیه میاشتې مې هېرېږي
په دیوال لیکې تیروم، هیرجنه شومه

له ما يې يار په پښتو بېل که
د ملک زوی ځانته هندوې ګډوینه

لالیه سخت ساړه مې کېږي
غېږه برستن کړه، ما درپټه کړه میینه

لنډغر تول له ملکه ولاړل
زه خوارکۍ چرسي کرزي ته ناسته یمه

لاسونه کلک رانه چاپیر کړه
په هدیرو کې خلک بېل، بېل خښوینه

له ما يې يار په پښتو بېل که
د ملک زوی ځانته هندوې ګډوینه

له بامبوټۍ نه مې کټلې
اتڼ کې ږنګ بنګ اوښتې وغورځیدمه

لستوني بډ وهۍ ګډېږۍ
د قوشتېپې کانال به ټول‌عمر کې وینه

لالیه ته ولې شکي شوې
د کلي خلک مې لمنه توروینه

له ځنځیري پیزوان بې نیسم
باغي جلۍ په زارۍ خوله نه راکوینه

له خپله لاسه پر موږ وشول
په نصیبونو به ځان نه سپارو مئینه

لیوني سپي را نه چاپېر دي
آشنا په ردو، ردو ګورې ما ترې خورینه

لالیه ستا د سفر غږ شو
زه په وره مانۍ کې ګرده تاویدمه

لاسونه کلک رانه چاپېر کړه
په هدیرو کې خلک ببل، ببل خښوینه

له مجبورۍ مي درته شا کړه
نه بې وفا یم نه په زړه کافره یمه

له ما نه، نه شي هرڅه لاړل
لکه بې سیله مرغۍ ګوښې ناسته یمه

لږ راپه سد شه، ځان خبر کړه
یار قاچاقبر پیدا کوي وطن پرېږدینه

لالی یې مړ په کټ کې راوړ
سترګې په بار - بار سلوم چې خوب به وینه

یار مې ساده دی او پیاده دی
په لک مې واخلي په روپۍ مې خرڅوینه

لالیه ګرم رابانديږ نه یې
له لیونیو سره څوک رشتې پالینه

لږه بهر ورته راوځه
سپوږمۍ د ځان صفت کوې چې ښکلې یمه

لکه چې لاړ دوران مې تېرشو
جانان مې غېږ نه‌راکوي ستومان یې کومه

لالا یې توروخاور وخوړ
خور یې جامې اوتو کوي چې رابه‌شینه

لیوني سپي رانه چاپېردي
نرۍ په غټو ورته ګوري موږ ترې خورینه

له امریکا نه ناامید شول
ځکه روسانو ته ورځي، کوي عذرونه

لالیه ګرم نه یې چې خاندې
تا د بیلتون دردونه څه لیدلې دینه

لاليه سخت ساړه مې کيږي
غېږه پرستن کړه، ما درپټه کړه مينه

لهما دې نغدې روپۍ واخلي
په شاهليلا دې راله نهراوړي پنډونه

له سين نه پورې ياري مه کړه
يا به باران وي، يا به خوړ راوتی وينه

له نږدې لرې خلک راغلل
د هديرې لالی نږدې دی نه راځينه

ليونی لاړه کلی وران شو
ما ليونی ور پسې وشړئ چې ځمه

لکه باران يو ځلې راشه
د بېلتون باد مې لکه خاورې دوړوينه

لښکر مې شته، سرلښکر نشته
راپورې خاندي د شاهي کلا برجونه

له خپله ځانه تاو راتاو شوم
لاليه ستا په رقم غږ مې واورېدنه

له خپله ځانه تاو راتاو شوم
لاليه ستا په رقم غږ مې واورېدنه

لالټېن دې بل که، خوله مې واخله
سبا به وايی چې ما خوب ليدلی وونه

لږسپېلني ځان ته لوګی که

تورو جامو کې شهزاده ښکارې لالیه

له زورور سره دې سر شه
لالیه سخت دې بېچاره موندلی یمه

لور یې چینه، مور یې ډنډوکی
له چینې تېر شوم په ډنډوکي واوښتمه

لیونۍ زه څه ترې خبر یم
د زنېخال به دې خولو رنګ کړی وینه

له ببلتانه سره مې جنګ دی
زما د ژوند غنم یې شنه رېبلي دینه

لېونی ستا په جدایی کې
ورو ـ ورو رنګېږمه، د شګې ځلی شومه

لیونۍ لاړه کلی رنګ شو
پر هر کاږه دېوال یې ښکاری یادګارونه

له قسمو سره یې وایم
ستا یاراني له سرېتوبه وویستمه

لاس په ولاړه راچاپېر که
تر کېناستو پورې مې صبر نهٔ راځینه

لېونتوب نه دی مئینتوب دی
هسې مې مور د لیونتوب علاج کوینه

م:

ما وربښلی يی لالیه
که له ما ډېره مينه بل څوک درکوينه

مرګيه ودرېږه لاړ نه‌شي
ژوند ته يوځو ګيلې کوم، درسره ځمه

مور دې د کور کارونه غواړي
ته رانه غواړې په نکريزو سره لاسونه

ما په شپيلک لالی مئين کړ
اوس يې د کلي نجونې تولې بوغوينه

ما وې زه ستا، ته به زما شې
نصيب مو خوار وو ملامته درته يمه

ما چې د مينې ورته ووېل
جينۍ غوسه شوه په څپلۍ يې وويشتمه

مورې د ناښاد وطن بچي يوو
په مورې اوس ښاد دي د پردېو وطنونه

مينه دې نه ده بې شرمي ده
په هر کنډو کې دې نيولي وي بريتونه

مرګی خو ښهٔ دی پرده پوښ دی
بده نيستي ده ښهٔ ځوانان بدرنګوينه

ملنګه کبر باندې مه‌کړه
که جانان خاور درکوي، تړه بارونه

مره به مې کړي، دربه مې نه‌کړي
بېګاه مې مور راته صفا ويليدينه

مور دې له بريتو نه کوربان شه
په تناره دې جينکۍ صفت کوينه

مور يې په کلي شوملې غواړي
لور يې له لارې ميلمانه راګرځوينه

مسافري سخته خواري ده
سخته يې مه‌کړې، زما ورور سفر ته ځينه

ماته دې خپل لالې راپرېږدي
بېلتون دې ځان له پامه نه رابدوينه

ما درته وېل چې ښار ته مه ځه
د سوداګرو په جنګونو واوښتمه

مجبور مزدور وم پام مې نه و
کمر راپرېوته زړې زړې يې کړمه

مئينه نه يې دروغ وايې
نه دې رنګ زېړ دی، نه دې شونډې وچې دينه

ما پرې د اوښکو جرګه وکړه
که يار پښتون وي ما به نه خفه کوينه

مخ به دې هسې په کعبه وي
په زړه کافره زه دې ډېر ښه پېژنمه

ما خو د لرې نه سهي کړې
د ستارو جامې دې بيا اغوستې دينه

مخ ته مې مه ګوره کافر شوې
زه مسافر جانان په خداى سپارلې يمه

مړوند يې تاو کړه خوله يې واخله
د ملا لور ده، کور کې نه وايي حالونه

ملنګ د ښانته دعــا وکړي
چې په پردو کوڅو کې نه غواړي خيرونه

ما ښاماران ترغاړې تاووکړل
څهچورمښکى. څهيې چيچل، څهيې غاښووڼه

ما ته مې خپل زړګى معلوم دى
که نن يې صبر کړم سبا دې يادوينه

مينې د زړه په رنځ اخته کړم
خوب کې جانان جانان کوم تا يادونه

ما خو دَ زړه ټوټه ګڼلې
تا له مجبورې ورځې راکړل پېغورونه

مورې خوشحالي نهلرو خلکو
مورې ته مو خپل نصيب راکړي دي غمونه

مورې دله ميږه راوکه
د ننګياليو ښځې کونډې ناستې دينه

مرض مې ګران، علاج اسان دی
په تش ديدن د يار رغېږم، نه راځينه

مسافري ده، جواري ده
نه به زما شې، نه به راوړې دولتونه

مور ته مې وايئ مسافر دی
د تورلحد مې ورته مهوايئ حالونه

ما ماشومتوب ليدلی نهدی
زه خپل غوربت لوبو ته چېرته پرېښودمه

ماته به بل لالی خدائ راکړي
نه به دې يار کړم، نه به مخ دروارومه

مينه د هر چا په نصيب شه
بې ميني ژوند خو د بدبختو خلکو وينه

مينه د روغو زړونو کار دی
زموږه زړونه غريبی وژلي دينه

ما ته له ډنډه خته راوړئ
د اوسنی زمانې يار تري جوړومه

مرګيه ودرېږه لاړ نشې
ژوند ته يو څو ګيلې کوم درسره ځمه

مرګ دې ببخي راته اسان دی
ته به ولاړ يې زه به بل ته وخاندمه

ملنګه سوې ټپې وکړه
د يار يادونه په لښکر راغلي دينه

مياشت د روژې، شپه د جمعې ده
د مسافرو حق کې پورته کړئ لاسونه

ما خو د زړه تونه ګنلې
تا د مجبورې ورځې راکړل پېغورونه

مرګه راځه چې پور دې پرې کړم
نور د ازغو په منځ کې نه کېږي خوبونه

مخ به دې هسې په قبله وي
په زړه کافره زه دې ډېر ښه پېژنمه

مور دې د کور کارونه غواړي
ته رانه غواړې په نکريزو سره لاسونه

مور ته دې وايه چې رضا شي
کنه تيکرى پهسروم، کور ته درځمه

مينه مې پټه پاتې نشوه
د جانان غږ پسې سرتوره ووتمه

ماښام مې سترګو ته ولاړ وې
اذان شروع و، زه سلګو نيولې ومه

ماښام لمانځه کې راته يادې شوې
مُلا ولاړ و زه سجدې ته ښکته شومه

مړه به مې کړي، در به مې نه کړي
بېګاه مې مور راته صفا ويلي دينه

مسافر مه وژنې خاونده
په ځنکدن کې به وطن، وطن لرينه

مور يې شيدې، لور يې پېروی
پېروی خورم د شيدو غوړپ ورپسې کړمه

مورې سپين ږيري ته دې ورکړم
تمامه شپه يې په نصوارو رنګه يمه

ما د سرک د غاړې ګل کړې
چې مال مې نه خوري، هلکان مې بويوينه

ما درته ويل چې جنګ ته مه ځه
د جيب شيان دې غلاګوي، تا خبنوينه

ما درته ويل چې جنګ ته مه ځه
د جيب شيان دې رالېږي، تا خبنوينه

ما د واده جوړه اغوستې
ته راته اوس کوې د مينې اظهارونه

مسافري پرېږده جانانه
کلي کې چرګې پتوه خوشاله يمه

مورې پښتونه ته مې ورنه‌کړې
پردي جنګونه په سر اخلي مړ به شينه

ماته مې قبر اماده شو
لالى دويم واده کوي، ما خښنوينه

ما ته مې خپل وطن ازاد کړه
که لوړه راغله د خيبر کاڼي به خورمه

ملا حلوا به درته راوړم
که دې د ښکلو حق کې وکړل بيانونه

مسافري کولاى نشي
زه يې يادېږم په لسمه ورځ راځينه

ما ته د ژوند لارې ازغي دي
خدايه په کومه لاره کېږدم قدمونه

مسافري مثال دې مرگ وي
زه چې راتلم ځان مې په مرگ شمارلى ونه

مينه دې وکړه بيا دې پرېښوه
ځان خو دې خلاص کړ، زۀ عمري رنځوره شومه

مينه دې وکړه، بيا دې پرېښوه
زما غريبه ورځ دې نه لېده مينه

مينه د ديگ، زړگي مې غوښې
اوښکې اوبه دي، بيلتون اورپسي کوينه

ماته دې خپل لالې راياد کړو
مولا دې ورک کړه ځنگېدلې قدمونه

منگی مې ورو له سر نه کوز کړه
پـه نــاز ساتلې زلفې مــا لــه لـمدویـنـه

مرگی په گوتو توولول کړي
واخلي هغه چې د زړه خوني ورانوینه

منو گلان وکړل را دورمه
د بېنوا باغ ته ځوانان راغلي دینه

ما ته غمجنې کیسې مه‌کړه
زړه مې نری دی، اوس به چیغې گډې کړمه

مرض د عشق دی ځکه ژاړم
که تور زېړی وای په خندا به گرځېدمه

ما نه دې خوږ جانان جدا کړو
د ژبې سره په قېچی دې پرې کومه

موری غمونو ته دې ستر کړم
کمکی دې مړ وای، چې مې نه لیدای غمونه

مُلا کتاب دې اوبه یوسه
چې ته ورټوپ کړې، زه دې لور وتښتومه

مونځ مې کولو شوې رایاده
ملا ولاړ ؤ زه سجدې ته ښکته شومه

مجردی ته خپه نه‌یم
ما د همځولو پېغورونه زورووینه

ما وربخښلی ئې جانانه
که له ما ډېره مينه بل څوک درکوينه

ما په پردو غرونو کي خښ کړئ
وطن ته مه وړئ د ژړا څوک نه لرمه

منم چي بده ورځ راغلې
دلی - دلی غمونه زړه کې ګرځومه

مور مي ژوندی ده پروا نه‌شته
ناست په ايرو يم، ځان پر تخت حسابومه

ما دي په سپين مروند ويده کړه
خپلي خپلی مې سر ته ډېرې ايښې دينه

مورې د ناښاد وطن بچي يوو
په مورې يې ښاد کړل د پرديو وطنونه

ما ته واده مه‌کوه مورې
ښځې له مېندو نه زامن جدا کوينه

ما درته وې: کابل ته مه ځه
منې خوړې دي ما به هېره کړې مينه

ما د کوچي له زړه نه ځار کړې
ښه باوري دی، ريښتيا دروغ تول قبلوينه

ما ته له ډنډ نه خته راوړئ
د اوسنی زمانې يار ترې جوړومه

مينه دې وکړه پام دې نه و
بيلتون دې نه ليده چې غرونه ړنګوينه

ما خو درغواړې، ته به نه وې
نارې به وکړم څوک به ناورې اوازونه

ملته څۀ درسره وکړم
زۀ دې تعليم ته هڅوم، تۀ ځې پۀ غرونه

مسافري کولی نه شي
زه يې يادېږم، په لسمه ورځ راځينه

ما ويل چې ښځه به زه وکړم
د علي‌اباد په نارو غانو واوښتمه

مبني دې داسې لېونی کړم
د ورځې ګرځم د شپې خپل کوم خوبونه

ماخوستن لمونځ دې قبول مه شه
ديدن دې پرېښو د ايمان کوې سوالونه

مامونی سمه ليونی ده
هغه يې وژني دا ماما، ماما کوينه

مچو د توری نجلۍ خوند کا
چې ته يې يوځل، آ دې دوه‌ځل مچوينه

مينه دې وکړه، بيا دې پرېښوه
څوک له کرلي کښنته نه اخلي لاسونه

مينې دې څه کانې راوکړې
د ماهيپر تر کانوکلک وم ويلې شومه

مينه دې وکړه، بيا دې پرېښنوه
لکه مرغۍ چې ځاله جوړه کړي ترې ځينه

ما ته دې ويلي، زما هېر دي
ما ته هغه خبره بيا وکړه مپينه

مينه دې وکړه، بيا دې پرېښنوه
نيمه جنت نيمه دوزخ کې پاتې شومه

مورې مکتب پسې ړندېږم
جاهلان نه غواړي مکتب ته لاړه شمه

مسافري ته خفه نه‌يم
په دروازه کې ستا سلګۍ رايادې شينه

مورې مرګ حق دی خفه نه‌شې
تر بېګاه دې خوا مې سا لنډه ـ لنډه شينه

ملا تاويز دې کار ونه‌که
په تاويزونو غاړه ډکه ګرځوومه

ما د بېلتون کوڅې ته بوځې
چې د بې ننګه يار لا سترګې و نه وينمه

مينې دې داسې څه راوکړل
پر کتاب پروت يم، سم الف نه‌پېژنمه

ما خو د مینې مشعل بل کړ
د ببټانه له باده څه خبره ومه

ملا دې ځان ته تعویذ وکړي
زه مې لالی په وظیفو راخپلهومه

مانه دې څټه غنم واخلي
په لېونی دې وړي نه راتولوینه

ما خو دَ زړه تونه ګنلي
تا له مجبورۍ ورځې راکړل پېغورونه

ما تر هغه افغان قربان کړې
چې د نفرت په ځای، وحدت نارې وهینه

ما درته ویل کُرمې ته مه
کُرمه تنور ده اندامونه سوځوینه

مسافري به دې زړه خوړین کړي
د لاس پوستکی غورځوي پردي کارونه

ماته پردي بچي راتول کړئ
زه پرې د خپلو بچو مینه ماتومه

ن:

نه به پخیر وطن ته ولاړ شم
نه به د هغې لیلا دور وګورمه

نه به هغه دوران بیا راشي
نه به دې وینم په نکریزو سره لاسونه

نه مې په زړه کې دومره زور شته
نه مې مرۍ کې ښه ده چې چیغې ووهمه

نوره مې هېڅ بیماري نه‌شته
د جانان غټو سترګو نیم خوږلی یمه

نه به دا ستا زړه کرار شي
نه به زما مینه پر نورو ماته شینه

نیستي بدبویه ده عالمه
د ابۍ زوۍ مې نغري ته نهٔ پرېږدینه

نیستي پیغور نه ده جانانه
زه په چربانګ میچنه ستا لپاره کړمه

نیستي د خدای له لوري راغله
موزي په ما منت کوي چې خوار دې کړمه

نیستي د خدای له لوري راغله
موزي په ما منت کوي چې خوار دې کړمه

نیستي پیغور نه ده جانانه
زه په چربانګ میچنه ستا لپاره کړمه

نیستي بدبویه ده عالمه
پهٔ لار کې ناست وم نجونو مخ نهٔ پټاوونه

نيستي بدبويه ده عالمه
مئين اشنا پهٔ لاره ځي مخ پټوينه

نن مې همځولې مېلمنې دي
وريزې خېښتې دي، چرګان لاس نهراوکوينه

ناترسه ياره چېرې لاړې
زه د دادا انګړ کې ګوښې ناستهيمه

نن مې د يار د اوبو وار دی
پر اوړو زلفې زنګوم، پر پولو ځمه

نوم پرې د کلي د خان کېږي
تر نيمو شپو منګۍ زما لالی وهينه

نازبه دې ورم، نازدې چليږي
د زوروړو اوبه تل په لوږه ځينه

نه به غنم من په روپۍ شي
نه به دا سپينې جنکۍ ارزانهشينه

نرۍ نرۍ باران وريږی
جانان لمديږی خپلټيکری پری غوږومه

نرۍ نرۍ باران وريږي
پر ما دې اوري، پر جانان نيسم لاسونه

نوی بهار دی هم سهار دی
بالاحصار دی ګل ګلاب مزه کوينه

نور خو يې هيڅ ويلي نه دي
دا ستا پيغور يې راکاوه، په ژړا شومه

ناز به دې وړم، ناز دې چليږي
د زوروړو اوبــه تــل پــه لــوړه ځـيـنـه

نن مې په غټو، غټو ګوره
تر بله کاله به بدرنګ وي صورتونه

ښنې دې ډېرې راسره دي
پر کومې ښنې دې زهٔ اوښکې توئې کړمه

نن دې د خيال بانه لانده دي
ادې په ناز ساتلې، څوک دې ژړوينه

نن مې دا ښۍمړوند خوږيږي
تمامه شپه پرې جانان کړيدې خوبونه

نرخ د منګلو زوروړ دی
ډېرې جلکۍ، وړکيو په نرخ ګټلي دينه

نصيبه خدای که درته ټيټ شم
که د ازغو په سر مزل وي وبه يې کړمه

نن مې همزولې مېلمنې دي
شولې خيشتې دي، چرګ نيوی نه راکوينه

ناز به دې ولې نه وړم ياره
په دومره خلکو کې دې زه انتخاب کړمه

نن مې پستې پونډۍ خوږيږي
په خپل جانان پسې مې منډې کړي دينه

نن مې د يار د راتلو غږ دی
په ډير خاته مې پردی بام وشړاونه

نن مې پستې پونډۍ خوږيږي
په خپل جانان پسي مې منډې کړيېدينه

نور انتظار کولی نه شم
که نه راځې نو ځان تنور ته غورځومه

ښې دې ډېرې راسره دي
ښې دې څه کړم چې دې سترګې نه وينمه

نور نه منل به بيا ونه کړم
زه ګلمرجان يې اوس هرچا سره منمه

نورې ښيرې به درته نهکړم
دومره خپه شې لکه زه چې خپه يمه

نصيبه وچ کوهي ته پرېوځې
چې ته راخبږې، زه به لرې تللی يمه

نوره مې ټوله وليدلې
پيکی دې لرې که چې سترګې ووينمه

نه به غنم من په روپۍ شي
نه به دا مستې جينکۍ ارزانې شينه

نور مې له وسه پوره نده
له ډکو سترګو به دې سترګي واړومه

نه مې هېرېږې د زړه سره
که د اسمان تر ستورو ډېر تیر شي کلونه

نرۍ نرۍ باران وریږي
پر ما دې اوري، پر جانان نیسم لاسونه

ڼ:

و:

وارخطا کېږمه لالیه
زه دې ترڅنګه لکه غر ولاړېمه

وعده دې وکړله، رانغلې
بېګا مې ټوله شپه نوکان خوړلیدینه

ودېلیدم چې تس مې درکړ
ته مې مئین کړې، زه کراره کېناستمه

ورځه ـ ورځه پهکار مې نه یې
پر سپین ټټر باندې دې نور کوي خوبونه

ورک مسافر ورک یې یاري شه
د کلي ډم مېړه کوم په کور به وینه

وطنه خوند دې اوبو یوړ
نه مازدیګر شته نه دې پېغلو کتارونه

وطن کې خړه غريبي ده
وړوکي مست نه دي چې د مور غېږه پرېږدينه

وس مې په هرڅه کې رسېږي
د خدای په چارو کې مې نه‌رسي لاسونه

وس مې په هېڅ نه رسيږي
ظلم په خپل زړګي کوم بدرنګه شومه

ولې دې بله ډيوه مړه کړه
په سود مينه تيل به ما راوړيوونه

وعده دې وکړه، بيا رانه‌غلې
بېګاه مې تولـه شپه نوکان خوړلېدينه

ورځه، ورځه ترغرونو واوړه
موږ د کماصلو خلکو نه‌کړو ارمانونه

وړوکی ما په يارۍ پوه کړې
اوس دې په تورو زلفو بل وهي لاسونه

وم تر هغي پسی ولاړه
چي په کنډو پنا کيده، وژړيدمه

ورشه د کور ښنګ کې دې کېنه
ما ورته وښيیه چي دی خوند راکوبينه

ورځه ورځه پکار مې نه يې
په سپين ټټر باندې دې نور کوي خوبونه

ولې دې بله ډېوه مړه کړه
په سود مئينه، تېل به ما راوړي وونه

وچه ډوډۍ دې نوش‌جان شه
ناروغ سړی يې کوچ تاوان درته کوینه

ورونه له ښځو نه تاويږي
خور د مېړه په کور د ورور غمونه خورینه

وار به دې تېر شي لونګېنه
مدام به نه وي د سینې پر سر تالونه

ولې مې سترګو کې تاوېږې
ولې مې زړه درپسې دومره درد کوینه

وعده دې وکړه، بيا رانغلې
بېګاه مې تولـه شپه نوکان خوړلي دینه

ورشه له کوره بالښت راوړه
مړوند مې خپل دی نور يې نه درلاندې ږدمه

وطنه وران رامعلومېږې
نه د يار غږ شته، نه يې بوی رالـه راځینه

وطنه کله زرغونېږې
دا ستا پر دښتو مو زلمي کرلي دینه

وطن دې ستا وي، پکې اوسه
زۀ به درپرېږدمه کرلي يادګارونه

و دې لیدل چې ټس مې درکړ
ته مې مین کړې، زه کراره کښیناستمه

وطن نړیـږي زه يې ګورم
وس مې د خدای په چارو نهرسي مینه

ویزه کنسل که، کور ته راشه
د زړګي سره ماشومان دې یادوینه

وطن او مور و پلار خوارۀ دي
جانانه درې واړه پرېږدم تاسره ځمه

وطن خو تا ظالمې ړنګ کړو
چې په بامو دې ښکارول سپین مړوندونه

وطنه خدای که به ته جوړ شې
پر تا میین هلکان بل وطن ته ځینه

وعدی دې ښې دي چې اوړدې دي
ستا د راتلو نېټې مې عمر ډېروینه

ولې دې بن راباندې وکړه
کور مې کاوه، واړه به خدای راکړي وونه

وطن یې ټول فساد، فساد کړ
ځانته یې جوړ کړل هریوه شاهی قصرونه

وطن مې پرېښود، درنه لاړم
د ژوند کړی راباندې تنګه، وبهمرمه

ونو ته مه خېژه جانانه
لیدی مې نشې زه کوټه کې ناسته یمه

ورځه ـ ورځه زوال دې وشه
خدای خو مې نه یې چې سجدې در ته کومه

ورکه نېستي شه ورک یې نوم شه
له ما یې پاتې کړل د کلي اخترونه

ورشه له کوره بالښت راوړه
مړوند مې خپل دی نور یې نه درلاندې ږدمه

وعده دې وکړه، بیا رانغلې
بېګاه مې تولہ شپه نوکان خوړلي دینه

وایم چې مچ په توپه وله
تورې پنجې د یار په سپین مخ لګوینه

وروڼه خواږه وي نه بېلېږي
کچه وربنداري خواږه وروڼه بېلوینه

وطنه وران رامعلومېږې
نه د یار غږ شته، نه یې بوی راځینه

**هـ:**

هغه که ما نه ځان ورنغاړي
زما د زړه تاوان دې راکړي، بیا دې ځینه

هغه چې پیغله شوه واده شوه
زه چې زلمی شوم مسافر له وطن شومه

هر مازدیگر خلک دیدن کړي
زه مازدیگر کې زنګېدلی کور ته ځمه

هغه ډارن لالي ته وایه
زما په سر به دې ځوک نه حلالوینه

هوښیار هغه چې پردي خپل کړي
کم عقل خپل پردي کوي ژړا راځینه

هېواد به بیا بېرته ودان شي
ودان به نهشي اوبووړي ارمانونه

هندو سوځېږي تر مرګ وروسته
زه مسلمان جانان په ژوند سیځلې یمه

هېڅ مې له وسه پوره نه دي
له ډکو سترګو به دې سترګې واړومه

هلته د جیب تالاشي اخلي
یمه مجبور چې جیب پرتوګ کې جوړومه

هلته مې بل په ژوند را ګډ دی
دلته مې نوک له غوښې ځنګه واړومه

هسې به پاتې پهکې راشي
په دا سپیره نصیب مې مه تړه شرطونه

همزولو تل کړئ بنډارونه
په نري ګور کې نه دریا شته نه ډولونه

هغه اوس چېرته زه اوس چېرته
نه ترې خبرېږم، نه زما خبر ورځينه

هرڅه لرمه، کمبود نهشته
يو ستا کمی دی، نور مې نهشته ارمانونه

هلته مې بل په ژوند راګډ دی
دلته مې نوک له غوښې ځنګه واړومه

هر مازديګر به ورته ژاړي
د لاس بنګړي مې يار سفر ته وړي دينه

هلکه باغ کې خُرما غواړې
په سترګو ړوند شې، خُرما زه ولاړه يمه

هسې په ځان به لوبې وکړې
زه يې د تره زوي ته وړه ورکړې يمه

هغه مې ګل له لاسه نه اخلي
زه يې د زهرو ګولۍ هم له لاسه خورمه

همزولو تل کړئ صحبتونه
په نرې ګور کې نه دريا شته نه دولونه

هغه مې ګل له لاسه نه اخلي
زه يې د زهرو ګولۍ هم له لاسه خورمه

هغهشببه چې راپهياد شې
کهٔ خولهٔ مې ډکه لهٔ خندا وي، وژاړمه

هغه مې ګل له لاسه نه اخلي
زه يې د زهرو ګولۍ هم له لاسه خورمه

هو، ليونۍ درپسې نه شوم
د زړه سودا به مې ترعمره پورې وينه

هېڅ مې له وسه پوره نه دي
په پېغورونو به دې سترګې پټومه

هر مازديګر چې سترګه لويږي
د تنارۀ پاستي ويشه، کۀ خاورې ومه

ها پخواني وختونه نشته
لکه بې سيله مرغۍ ګوښې ناسته يمه

هېڅوک د چا له غمه نه مري
شيرينه ياره چا دروغ ويلي دينه

هندُوستانۍ مېږه به وکړم
د پښتنو په مالت کونډې ناستې دينه

هندوستانۍ مېږه به وکړم
په پښتنه خاوره پنځه ځل کونډه شومه

هغه پهخپله راپريوځي
چې په رنځوره پاڼه ولړې بادونه

هرڅه مې هېر، ته مې په ياد يې
د بـل وطـن جـانـانـه تـل دې يـادومـه

## ی:

یار بل وطن کې مسافر دی
د پېغلتوب موسم بې خونده تېرومه

یار مې د لوړې زنغوزی دی
زه پرې ډاریږم څوک به اور وروا چوینه

یاري دې ونه‌کړه جانانه
هسې دې زۀ کلی کې تیتې سترګې کړمه

یا خو به وي روژې زیبښلی
یا به زما جانان زېږي نیولی وینه

یار چې په لرې وطن اوسي
که زه خندا کووم، د دار لایقه یمه

یا دې په سترګو کې اثر دی
یا دې په جیب کې خر مهرې ساتلې دینه

یوغنمرنګه، بله دنګه
یمه لونګه، هلکان راپسې مرینه

یخني، بایللی یار رایاد کړ
د چا له غاړې به یې تاو وي مړوندونه

یو خو مې هسې زړګی تنګ دی
ستا اړولی مخ مې ساه راللندوینه

یار د صفت محتاجه نه دی
په ګلابونو عطر چا شیندلي دینه

یاري د خوار پټي غله ده
کله چارک شي، کله وکړي خرواروونه

یا دومره نر شه، ما په نوم که
یا په حُجرو کې په ما مکړه مجلسونه

یار په سفر ځي خوله به ورکړم
روژه دې ماته شي، شپېته به ونیسمه

یا خو به وي روژې زبېښلی
یا به زما جانان زبېښي نیولی وینه

یا مې لمن نه پیښکه پرې کړئ
یا مې بانه ورته لوگی کړئ یار مې مرینه

یو بې‌غیرته به مېړه کړم
له غېرتمندو نه څو ځلې پاتې شومه

یاران که نه وي، پروا نه کړي
ورور دې ژوندی وي، زه په ورور خوشحاله یمه

یوه دې بله ورپیسې وي
چې بنوونځي نه‌خلاصوي، برباد دې شینه

یوکډوال نه دی چې به لاړ شي
دلته کډوال دي په لکونو ځنګ به شینه

یوکال خو نه دی چې به تېرشي
زه له غمونو سره عمر تېرومه

یو وطني اتڼ به وکړو
د خواروخلکو ښادۍ کله، کله وینه

یوه نه، څو خبرې وکړه
خو داسې نه شي چې ته خلاص کړې کتابونه

یو د دنیا حالات خراب دي
بل مې د مینې کیسې ګډېوډې دینه

یوځلې بیا پردې لار راشئ
د پخوانو پلونو مو نهشته نښانونه

یوه دې وه، بله دې وکړه
د وروستنۍ ډولۍ دې وخیژه میخونه

یوه دې بله ګناه وکړه
د نورو خلکو له یارۍ دې وویستمه

یار مې په غرو رانه پناه شو
وریځه خو نه یم چې په غرو ورړنګه شمه

یاره، شوده به درته ښکارم
شوده مې مه ګڼه، قسمت خوار کړې یمه

یا به زما پر سترګو ګرد وي
یا به کړکي ته طالبان راغلي وینه

یو چې مین وي بل غریب وي
خاونده دا عمر به څنګه تېروینه

یا خو پر ما باندې تیاره وي
یا به له ټول عالم نه لمر ورک شوی وینه

یار مې په غره رانه پناه شو
وریځ هم نه یم چې پر غرو پسې وخیژمه

یار مې په بنګو سترګې سرې کړې
مور یې نارې کړې، ځوی مې ستا د لاسه مرینه

یا مېړنی، یا لیونی دی
سپینې خبرې یار په هرځای کې کوینه

یار خو مې ته یې بل به نه کړم
که بل مې یار کړ په ایمان دې خواره شمه

یا زلزله ده ځمکه خوځي
یا به جانان سترګو ته رپ ورکړیووینه



## د ليکوال پېـژندنه:



نوښتګر شاعر، ليکوال، ژباړونکی، فولکلورپوه او فرهنګي شخصيت، پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷ زيږدي کال د دسمبر په ۲۳مه نېټه، د کابل چهاردهي د شکرالله خان کلي په يوه روښانه کورنۍ کې سترګې وغړولې. لومړی زدکړې يې د کابل په علاءالدين تجربوي ښوونځي او منځنۍ هغه يې په محمود طرزي ليسه کې بشپړې کړې. دولسم ټولګی يې په ميدانښار کې د نرخ په ليسه کې پای ته ورساوه.

استاد بهاند په ۱۳۵۵ لمريز کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي ته بريالی او په ۱۳۵۸ لمريز کې يې دغه پوهنځي پای ته ورساوه. يوه موده د کابل په روښان دارالمعلمين کې استاد و. په ۱۳۶۰ لمريز کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي په علمي کادر کې ومنل شو. استاد بهاند په ۱۳۶۶ لمريز کې د ارواښاد استاد کانديد اکادميسين محمد صديق روهي تر لارښوونې لاندې خپله ماستري بشپړه کړه.

استاد بهاند په ۱۳۵۶ کال کې شاعرۍ ته مخه کړه، په ازاد – نوي پښتو شعر کې يې برياليۍ تجربې وکړې او په شلمه پېړۍ کې د ازادې پښتو شاعرۍ د دويم پښت له مخکښه شاعرانو څخه دی، چې د ازادې شاعرۍ تر څنګ يې د غزلونو او بوللو په ليکلو دوديز قالبونه هم پاللي دي.

استاد بهاند د شعر ليکلو ترڅنګ په څېړنه، کوچنيانو ادبياتو، او پوهنتوني درسي کتابونو په کښلو کې ياد نوم دی او د يوه پياوړي رسنوال په توګه هم پېژندل کيږي.

د استاد بهاند کتابونه، څېړنې، مقالې او رسالې په هېواد کې دننه او بهر د ځينو ادبي جايزو په ورکړه ستايل شوې دي.

استاد هاغه مهال د کوچنيانو د ادبياتو  د تيوري او ليکنې لپاره هڅې کړې، چې په افغانستان کې په دې برخه کې ډېرو کمو ليکوالو کار کاوه.

استاد د شپېتمې لسيزې په اوږدو کې څو کاله د کابل پوهنتون د معتبرې علمي – اکاډميکې مجلې (اجتماعي علوم) مرستيال و.

همدا راز د راډيو افغانستان د روزنې ادارې د علمي پروګرام «موږ او اورېدونکي» د ليکوال په توګه د رسنيز کار تجربه هم لري.

استاد آصف بهاند د دافغانستان د  ليکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی، په مسکو کې د افغانستان د فرهنګ ټولنې منشي او د دغې ټولنې د ادبياتو د څانګې مسئول پاتې شوی دی.

اروپا ته تر راتللو روسته يې په سويډن کې د مېشتو افغانانو د فرهنګي ټولنې په ګڼو سيمينارونو کې لکچرونه او ويناوې وړاندې کړې دي. استاد بهاند د مورنۍ ژبې پر ارزښت او په زدکړو کې د مورنۍ ژبې د

ونډې په اړه ګڼې ليکنې او ويناوې لري، چې دغې مهمې مسئلې ته له علمي پلوه د پام او هڅو په لومړي کتار کې ولاړ دی.

استاد چې پخپله د کوچنيانو د ادبياتو پنځوونکی و، د مهاجرت د تجربې او پيداګوژيکې پوهنې پر بنسټ په دې ډېر ښه پوهېده، چې کډوال ماشومان څنګه په نوي ژوندچاپېريال کې له فرهنګي ستونزو سره مخ کيږي. د کوربه ژبو د زدکړو ترڅنګ د مورنۍ ژبې او خپل ملي فرهنګ د ساتنې په برخه کې د استاد نظريات، ويناوې او ليکنې ګڼې او مهمې دي. استاد بهاند په دغو موضوعاتو کې د سويډن په ستاکهولم، يوتيبوري او مالمو ښارونو کې لکچرونه او ويناوې لرلې دي.

استاد بهاند د پښتو فولکلور په تېره بيا لنډيو په برخه کې هم ځانګړې مطالعه او په زړه پورې څېړنې لري. په دې برخه کې د هغوی يو اساسي کار د پښتو لنډيو د راټولولو په څرنګوالي، ربړو او ستونزو څېړنه ده. که په راټلونکي کې ځوانان په دې برخه کې څېړنه و راټولونه کوي، د استاد بهاند دغه ليکنه د يوه لارښود په توګه ورپه کارېږي.

استاد بهاند د افغان – جرمن پر ليکه رسنۍ له فعالو ليکوالو او چلوونکيو څخه دی، چې د دغې مشهورې او مهمې پرليکه رسنۍ لويه برخه ترتيب و تنظيم و خپراوی له کلونو راهيسې پرمخ وړي. استاد د افغانستان په لوی قاموس (قاموس کبير افغانستان) کې هم ځانګړې پامور ونډه لري، چې د دغه افغاني مهم پرليکه پوهنغونډ لويه برخه يې د زيار ثمر دی.

استاد آصف بهاند د خپل فرهنګي خلاق ژوند په اوږدو کې لاندې علمي – ادبي اثار پنځولي دي:

١ ـ پښتو ادب له ١٢٥٠ څخه تر١٢٩٧ پورې (د لیسانس دورې مونوګراف)،

٢ ـ شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره (د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

٣ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

٤ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخییل مسأله (د پوهندویۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

٥ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستتنر چاپ)،

٦ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دویم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

٧ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دریم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

٨ ـ د پښتو ادبیاتو د لرغوني دورې منظوم متون، د پښتو څانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

٩ ـ د پښتو ادبیاتو د اوسنۍ دورې منظوم متون، د پښتوڅانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

١٠ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو څانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنيانو ادبيات، د چاپ او خپرونو د دولتي کوميټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دويمه درجه مطبوعاتي جايزه يې ګټلې ده،

۱۲ ـ مروره مځکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې د دانش خپرندويې ټولنې له خوا خپره شوې ده،

۱۳ ـ لارورکي لارويان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندويې ټولنې خپور کړی دی او دويم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وږه ښاپيرۍ، ليکوال: هانس کريستين اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی، مومند خپرندويې ټولنې په جلال آباد کې خپور کړی دی،

۱۵ ــ د سمندر وږه ښاپيرۍ او نه (۹) نورې کيسې، ليکوال: هانس کريستين اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنوري کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی دی،

۱۶ ــ لنډۍ او د ثبتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی دی،

۱۷ ــ د کوچنيانو ادبيات،(د کوچنيانو ادبيات، تاريخي پس منظر، اوسنی حالت) دويم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اګست کې، په افغان جرمن آنلاين پورتال کې پر ليکه شوی دی،

۱۸ ــ د باران سيوری (د شعرونو ټولګه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر مياشت کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوې ده،

۱۹ ــ د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه (د مقالو ټولګه)، د ۲۰۱۹ کال په فبرورۍ میاشت کې، په افغان جرمن آنلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۲۰ ــ د امپراتور نوې جامې او شپږ نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۹ کال په مې میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۲۱ ــ د افغانستان له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه (د مقالو ټولګه) د ۲۰۱۹ م کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان جرمن پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۲ ــ د ډنمارکي فرهنګ ځو غوره ببلګې (د ډنمارک او ډنمارکیانو په باب د مقالو ټولګه)، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جنورۍ میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۳ ــ یو ځل مې د لاس ورغوی وګوره! (شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۴ ــ ژوندي یادونه، لومړی ټوک،د ۲۰۲۰ م کال په اپریل میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۵ ــ د تللو یادونه، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جولای میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۶ ــ راشه! چې سترګې مې له مځکې نه راټولې کړمه، (څلورمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۲۷ ــ بسځــګلې، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ کال په نومبر میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې
پر لیکه شوی دی،

۲۸ ــ موري منته چې ویده دې کړمه (پنځمه شعري ټولګه)، د ۲۰۲۱ کال په مارچ میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۲۹ ــ مورنۍ ژبه، تعلیمي نصاب او څو نورې مقالې، دا کتاب د ۲۰۲۱ کال اپریل میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی،

۳۰ ــ یو څراغ (د استاد شریف بهاند ژوند، علمي ــ فرهنګي هڅې او مړینه)، دا اثر د ۲۰۲۱ ام کال د جولای پر ۱۷ مه نېټه د استاد شریف بهاند د لسم تلین د درناوي په پار انلاین شوی دی.

۳۱ ــ د نوي نسل روزنه او زموږ دریځ، دا کتاب د ۲۰۲۱ ام کال په جون میاشت کې، په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۲ ــ کورونایي لنډۍ (د کورونایي لنډیو لومړنۍ ټولګه)، مقدمه، توضیحات او راټولونه: آصف بهاند، دا کتاب د ۲۰۲۲ کال په جولای میاشت کې په افغان جرمن پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۳ ــ د تللو یادونه، دویم ټوک، د ۲۰۲۲ م کال په جولای میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۴ ــ د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي څونامي، د ۲۰۲۲ م کال په اپریل میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۵ ــ ژوندي یادونه، دویم ټوک، د ۲۰۲۳ م کال په فبروری میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۶ ـ ښـځـګـلې، دویم ټوک د ۲۰۲۳ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

۳۷ ـ د نجونو د تعلیم مخنیوي تاریخي مسؤلیت چا ته ورله غاړې دی؟ د ۲۰۲۳ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورتال کې پر لیکه شوی دی.

چاپ یا آنلاین کولو ته تیار:

ـ د شعرونو یوه ټولګه،

ـ او درې عنوانه څېړنیز کتابونه.

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال په ډنمارک کې ژوند کوي او په منظمه توګه د فرهنګي هڅو په لړ کې په څېړنه، لیکنه او شعر پنځونه بوخت دی.

څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال